إِنَّا أَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا (القرآن)

تعلموا النحو كما تعلمون السنن والفرائض (حديث ﷺ)

جَوَاهِرُ النَّحْو

مؤلف

مولانا فضل ربی ربانی گبرالی

مدرّس مدرسه تعلیم القرآن وینه بریکوٹ سوات

وسابق مدرّس جامعه اسلامیه تعلیم القرآن قذافی باجوڑ

نظر ثانی

استاذ العلماء فضیلة الشیخ حضرت مولانا


حبیب الله ثاقب گبرالی عرف شاه صاحب

استاذ جامعه صدیقیه اله آباد چارباغ سوات

وسابق استاذ جامعة الامام محمد طاهرؒ دار القرآن پنج پیر صوابی

شائع کرده از دفتر: جامعه تعلیم القرآن وینه بریکوٹ سوات

Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مُقدِّمه دَ کتاب

ازقلم اُستاذالعلماءفضیلۃُ الشیخ حضرت مولاناحبیب اللّٰه ثاقب کبرالی عرف شاه صاحب اُستاذجامعه صدیقیه اله آباد چارباغ سوات۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدَانَا نَحْوَ الصِّرَاطِ الْمُسْتَقِیْمِ: وَمَنَّ عَلَیْنَا بِالْکِتَابِ الْکَرِیْمِ: وَصَرَّفَ عَنَّا ظُلْمَةَ الْجَهْلِ الْعَظِیْمِ:

وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی اَفْصَحِ الْعَرَبِ مِنْ آلِ اِبْرَاهِیْمَ: وَعَلٰی آلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِیْنَ بَذَلُوْا جُهْدَهُمْ فِی الدِّیْنِ الْقَوِیْمِ:

اَمَابَعْدُ! داواضحه خبره ده چه عربی ژبه دَتولوژبونه فصیحه اووسیعه ژبه ده،لیکن بیا هم دَ دنیا نورو ژبوپه شان یوه عامه ژبه وه، خو کله نه چه اللّٰه جلّ شانه خپل آخری کتاب قرآن مجید په عربئ ژبه کی نازل کړو، نو دَهغه وخت نه ددې اهمیت په څو چنده زیات شو،او یوازې عرب نه بلکه دَ ټولې دنیامسلمانانودَپاره ددې ازده کول لازم شو۔

داسې اوګڼړه لکه چه عربی دَاسلام سرکاری ژبه ده،نودَدې دَزده کولو دَ پاره علماءدین مختلف فنون او علوم مرتب او مُدَوَّن کړو، لکه علم لغة، اشتقاق،عروض،معانی،بیان،بدیع،صرف اوعلم نحووغیره، اودا ټول علوم دَژوَر سمندر په شان دی چه پدیکښې بې حده ملغلرې لاندِ باندِ پراته دی۔

بے شمارعلماءکراموغوطه زنی کړے ده او هر يو دَ خپل طاقت موافق ملغلرے را ويستلی اوپوئيلی دی،ليکن بياهم داملغلرے دَ ختميدو نوم نه اخلی۔

خو پدے تولوعلومو کی دُوؤ علوموته خاص اهميت حاصل دے، يو علم نحو اودويم علم صرف،هم دی وجه نه وئيلی شوی دی چه

"اَلصَّرْفُ اُمُّ الْعُلُوْمِ وَالنَّحْوُ اَبُوْهَا"

هرکله چه دَنحوحيثيت دَپلار دے نو دا ډير اهم دے، دَدے وجه نه امام شعبه بن حجاج شيخ دَامام بخاری المتوفی ۱۶۰ھ وئيلی دی چه

"اِذَا كَانَ الْمُحَدِّثُ لَايَعْرِفُ النَّحْوَ فَهُوَ كَالْحِمَارِ،
عَلَى رَأْسِهِ مِخْلَاةٌ لَيْسَ فِيْهَا شَعِيْرٌ"

اوداهغه علم دے چه عُمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دَده طرف ته يئ دَمسلمانانو توجه مبزوله کړے وه چه

"تَعَلَّمُوْا النَّحْوَ كَمَا تَتَعَلَّمُوْنَ السُّنَنَ وَالْفَرَائِضَ"

څماعاجز دَعلم مطابق په آليه علومو کښی علم نحواول علم دے چه مرتب شوے دے، ځکه چه دَده تدوين حضرت علی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ المتوفی ۴۰ھ کړے دے، هغوی خپل شاګرد ابوالاسود دُئيلی المتوفی ۶۹ھ ته ويئلی وو چه

"اَلْكَلَامُ كُلُّهُ ثَلَاثَةٌ اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ،
فَالْاِسْمُ مَا اَنْبَاءَ عَنِ الْمُسَمّٰى ،وَالْفِعْلُ
مَا اَنْبَاءَ عَنْ حَرَكَةِ الْمُسَمّٰى وَالْحَرْفُ

مَا اَنْبَاءَ عَنْ مَعْنَى لَيْسَ بِاِسْمٍ وَلَافِعْلٍ"
بیا ابو الاسد دُئیلی په هغه باندِ زیادت اوکړو۔
دَدوئ نه روستوامام خلیل بن احمد المتوفی۱۷۰ھ،امام سیبویه(عَمرو بن عثمان)المولود ۱۴۸ھ المتوفی ۱۸۰ھ (ټول عمر۳۲کال)، امام اخفش(ابوالحسن سعید بن مَسْعدة)المتوفی ۲۱۵ھ،امام کسائی (ابوالحسن علی بن حمزه المتوفی ۱۸۹ھ،امام فرّا(ابوزکریا یحی بن زیاد) المتوفی ۲۰۷او امام مبرد (ابوالعباس محمد بن یزید) المتوفی ۲۸۵ھ وغیره دَده قواعدو له وسعت ورکړو،او په لږ وخت کی علمِ نحو عروج ته اوُرسَوَل۔
بیادَهغوئی نه ورستو دَهغه وخت نه تر نن تاریخ پورې متقدمینُ او متأخرینُ پدیکی ګوهرافشانی کړې ده۔
هرمصنف او مؤلف دَخپل علم اؤ ذوق مطابق مختصراومطول کتابونه په مختلفو ژبو کی لیکلی دی۔
منجمله دَهغه علماءکرامو نه ځما قابل ترین او مخلص شاګرد مولانا فضل ربی ربّانی صاحب هم دې چه هغوی دَخپل ذوق مطابق دَ پښتو په ژبه کی دَعلم نحو یو څو ضروری ملغلرې راجمع کړل۔
یقیناًدَمولانا صاحب دغه کاوش لائق تحسین دې، ځکه چه پدې زمانه کی چه علمی انحطاط زمانه ده،علماء کرام اوطلبه عظام دَعربئ متونُ اؤ شروحاتُ نه بالکل ناشناشوی دی۔

پدی دور کی په اُردو ژبه کی ډیر مفیداوبهترین کتابونه موجود دی خو په پښتو ژبه کی داسې جامع او اسهل کتاب ځمادَنظر نه نه دے تیر شوے، نو مولانا په طلبه وو لوئی احسان اوکړل چه دَ "جواهر النحو" په نوم دغه کتاب مرتب کړل، بیا بنده عاجز ته دَتصحیح اونظر ثانی دَپاره را اؤلیګل نو ما دَ خپل طاقت او دَ علم مطابق پکښی تصیح اوکړه سره دَ معمولی زیادت نه۔ اللّٰه تعالی دِدا سعی قبول کړی،آمین۔ ماشاء الله کتاب کی اَهم مسائل دَنحو ټول ذکر کړی شوی دی خوبیاهم زه دَ خپل ذوق مطابق یو څو ضروری اصطلاحات دَقلم لاند راوَلم چه هغه په دی موقع ماته موزون ښکاری، دَدی نه علاوه دَ قارئینُ دَ دلچسپئ دَ پاره دَ بعضُ مسائلُ او فوائدُ تذکره هم کوم چه دَ نحو عام کتابونو کی هغه مسئلے نشته۔

اصطلاحات ضروریه

(۱)یوزبر،یو زیراو یو پیش ته حرکت وایئ،درے واړو ته حرکات ثلاثه وایئ، اوپه کوم حرف باندےچه دغه حرکت وی هغه ته متحرک وائ۔

(۲)دُوه زبرونو،دُوه زیرو نو او دُوه پیشونوته تنوین وایئ، اوپه کوم حرف باندے چه تنوین وی هغی ته مُنوّن وایئ۔

(۳)زبرته فتحه،زیر ته کسره او پیش ته ضمه وایئ،اوپه کم حرف باندے چه فتحه وی هغه ته مفتوح وایئ،اوچه کسره وی نومکسور، او که ضمه وی نو مضموم ورته وایئ۔

(۴)دغه درېےواړه څیزونه(فتحه، کسره ضمه) چه په اسم معرب کښې را شي نو بالترتیب نصب،جراو رفع وائي۔

(۵)الف نه تر یاء پورے ټولو حروفو ته حروف هجاء وایئ، دا بیا په دوه قسمه دی

اول حروف مباني: لکه الف،باء، تاء،ثاءوغیره، داهغه حروف دی چه دَ دویئ نه کلمه جوړیږی۔

دویم حروف معاني: لکه فِيْ، عَلَیَ، عَنْ،مِنْ،اِلَی وغیره، داهغه حروف دی چه معنی ګانړے ورکوی۔

(۶)واو،الف اویاءته حروف علت وایئ، باقی ټولوحروفو ته صحیح۔

(۷)په کوم الف چه حرکت یا سکون راشی هغه ته همزه وایئ،اوپه کوم حرف چه سکون راشی هغه حرف ته ساکن وایئ۔

(۸)کوم همزه زائده چه وصل په صورت کی غورزیږی هغه ته همزه وصلیه وایئ،او کوم چه نه غورځیږی هغه ته همزه قطعیه وایئ، اوکوم همزه چه زائده نه وی هغه ته همزه اصلیه وایئ۔

(۹)لفظ دَیوحرف نه واخله تر اُووه حروفو پورے وی، دَیوحرف مثال لکه همزه په "اَلَمْ نَشْرَحْ لَکَ" کی،او باء په "بِسْمِ اللّٰه"کی، دَ دُوه حروفو مثال لکه "مَنْ" او"مَا"،دَ دریوو مثال لکه "زَیْدٌ"او"عِنَبٌ"،دَڅلورومثال لکه "جَعْفَرٌ"او"جَدْوَلٌ"،دَپنځه وو مثال لکه "سَفَرْجَلٌ"او"اِنْسَانٌ"، دَشپږو مثال لکه "زَعْفَرَانٌ" او"قُفَازَیْنِ"، دَ اُووه حروف مثال لکه "اِسْتِفْهَامٌ" او "اِبْرَاهِیْمُ" ۔

فوائد نحویه نادره

فائده(۱)څه رنګې چه دَکلمه درے اقسام دی نو دغه رنګې دَ کلام هم درے اقسام دی(۱)خبر(۲)طلب (۳)انشاء۔

وجه دَحصر پکښې داده چه کلام به خالی نه وی، دَ تصدیق او تکذیب احتمال به لرے یانه، که احتمال لری نو خبر لکه "قَامَ زَيْدٌ،مَاقَامَ زَيْدٌ" اوکه احتمال نه لری نو بیا به خالی نه وی،دَمعنی دَثبوت اوالفاظو دَثبوت نه به روستو وی یا یو ځائے او متصل وی، که ثبوت روستو وی نوطلب لکه "اِضْرِبْ، لَاتَضْرِبْ " اوکه ثبوت متصل وی نو انشاء لکه خپل غلام ته او وایئ "اَنْتَ حُرٌّ " ۔

فائده(۲)ځنګه چه اسم معرب په اعتبار دَاعراب په نهه ۹ قسمه دے، بعینه دَغه شان اسم مبنی هم په اعتباردَاعراب نهه ۹ قسمه دے ۔

(۱)مبنی برسکون مثال لکه "يَضْرِبْنَ " (جمع مؤنث فعل مضارع معلوم) یعنی کله چه فعل (يَضْرِبُ) نون دَجمع مونث سره متصل شونومبنی برسکون شو۔

(۲)مبنی برنائب سکون مثال لکه "ضَرَبَا"(تثنیه مذکر حاضر)۔

(۳)مبنی برفتحه مثال لکه "ضَرَبَ، لَيَضْرِبَنَّ، اَحَدَ عَشَرَ" ۔

(۴)مبنی برنائب فتحه مثال لکه "رَجُلَيْنِ" ۔

(۵)مبنی برکسره مثال لکه "نَزَالِ، تَرَاکِ" ۔

(۶) مبنی برنائب کسره مثال لکه "اِضْرِبِیْ"(واحد مؤنث امرحاضر)۔

(۷)مبنی برضمه لکه "قَبْلُ،بَعْدُ " چه دَدوی اضافت لفظاًاومعناً ختم کړے شوے وی۔

(۸)مبنی برنائب ضمه مثال "رَجُلَانِ" ۔

(۹)هغه مبنی چه دَ هغی مستقل څه قاعده نه وی بلکه بعض اقسام مبنی علی السکون وی، اوبعض مبنی علی الفتح، اوبعض مبنی علی الکسره اوبعض مبنی علی الضمه وی مثال لکه "هَلْ،ثُمَّ،جَیْرِ"،او"زَیْدُ" چه په ترکیب کښی واقع نه وی۔

فائده(۳)مرفوعات ټول لس دی، اته ۸ خوهغه مشهوردی چه عامو کتابونو کی موجود دی، لیکن نهم مرفوع اسم دَ افعال مقاربه دَ "کَانَ" پشان لکه "عَسَی زَیْدٌ اَنْ یَّخرُجَ،عَسَی رَبُّکُمْ " اولسم فعل مضارع دے کله چه حرف ناصب اوجازم نه خالی وی لکه "یَضْرِبُ " ۔

فائده(۴)منصوبات ټول پنځلس دی، دولس خو هغه دی کوم چه په عامو کتابونو کښی دی، او دیارلسم منصوب مشابه مفعول بِه،اوداهغه اسم دے چه دَصفت په وجه منصوب وی چه مشابه وی اسم فاعل سره اوهغه متعدی وی یو اسم ته لکه "زَیْدٌحَسَنٌ وَجْهَهُ".څوارلسم فعل مضارع چه په هغه باندے حرف ناصب داخل وی لکه "لَنْ یَّضْرِبَ " اوپنځه لسم خبردَ افعال مقاربه دے، خوپدے شرط چه داخبرهم فعل مضارع وی اودَخپل فعل نه روستووی مثال لکه"عَسَی زَیْدٌاَنْ یَّخرُجَ"۔

یادکړه:چه "عَسَی" اودَ "اَوْشَکَ" خبر نه مخکی اکثر "اَنْ "راځی او "کَادَ" او "کَرُبَ "په خبر باندے د "اَنْ " راتلل نادر الوقوع دی۔

فائده(۵) مجرورات درے دی (۱)مجرور بحرف جر لکه "بِزَیْدٍ" (۲)مجرور باضافت لکه "غُلَامُ زَیْدٍ" (۳)مجرور للجوار مثال لکه "عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ"چه اصل کی "عَظِیْمٌ" منصوب دے چه صفت دے دَ "عَذَابَ"، او "هٰذَا جُحْرُ ضَبٍّ خَرْبٍ" اصل کی "خَرْبٌ" مرفوع دے ځکه چه داد "جُحْرٌ" صفت دے، ختمه شوه مقدمه بعون اللّٰه تعالی۔
وصلی اللّٰه تعالی علی خیر خلقه محمد وآله وصحبه اجمعین۔
محتاج دعا:شاه صاحب خادم طلبه جامعه صدیقیه اله آباد چارباغ
مورخه 29.12.2019 موبائل: 03453727611

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ رَبِّ يَسِّرْ عَلَيْنَا هٰذَا الْكِتَابَ وَلَا تُعَسِّرْ عَلَيْنَا هٰذَا الْكِتَابَ وَتَمِّمْهُ لَنَا بِالْخَيْرِ وَبِكَ نَسْتَعِيْنُ يَافَتَّاحُ يَارَبَّ الْعَالَمِيْنَ۔

باعث تالیف

دَډیرے مودے راسے ماپه مدارسُ کښې علمِ نحوطلبه ته خودلو،او دَ مختلفُ شیوخُ ملفوظات خصوصاً دَ امام النحو والصرف علامه حفیظ الرحمن صاحب حفظه اللّهٌ ملفوظاتُ نه استفاده کوله،نوپه سنه 2014ھ کښې په مدرسه تعلیم القرآن قذافي باجوړ کښې په دوران دَ درس کښې زما خوږ ملګرے مولانا اعجازاحمد دَ قذافي دَغه ملفوظات په تحریری شکل کښې دَ جواهرالنحو په نوم باندِ راجمع کړل، په لږ وخت کښې دغه مسوَّده اکثرُ مدارسُ ته اؤ رسیدله،نو ډیرُ ملګرو دغه مسوَّده خوښه کړه او ځمانه دَ چاپ کولو مطالبه او کړه او ځه ئ پدے مجبوره کړم، نوما دَخپل استاذِ محترم شاه صیب په مشوره باندِ دَ اللّه جلَّ شانه په بهروسه اراده اوکړه،او دَ استاذِ محترم په وساطت سره داتولے مرحلےسرته اورسیدے،اودا"بضاعت مزجات" ستاخو په خدمت کښې پیش کولے شی، ماحتی الوسع پوره کوشش کړے دے خوبیاهم دَ بنده کتاب دَغلطئ نه محفوظ نه وی،په دے موقعه ځه دَ خپل استاذِ محترم شاه صیب شکریه آدا کول ضروری ګنړم چه هغوئ سره دَ مصروفیاتُ نه ځماپه اصرار کولو دَدغے رسالے نظرثانی اوتصحیح اوکړه، ځمادُعا ده چه اللّه جلَّ شانه ځمادَ استاذ اوځما داسعی خپل دربار عالیه کښې قبول کړی،اوځمادَوالدین اودَ شیوخُ دَپاره صدقه جاریه او ګرځئ،په آخر کښې تولو قارئینو ته

التجاء ده چه پدې رساله کښې کچرې څه غلطي په نظر راشي نو بنده ته اطلاع اوکړئ، انشاءاللّٰه تعالى آئنده طبع کښې به لرې کړې شي۔
امید دې چه مونږ لره به خپلو دعاګانو کښې نه به هیروئ۔
وصلّى اللّٰه تعالى على خيرِ خَلقِهٖ محمَّدٍ وَّ آلِه و صَحبه اجمعين۔
بنده عاجز:فضل ربی ربانی ګبرالی خادم طلبه مدرسه تعلیم القرآن وینه
مورخه۲۰۲۰/۰۸/۲۰ـــــــــــــــ موبائل: ۰۳۴۷۹۸۰۰۱۷۷

خُلاصه دَ کتاب

پدې کتاب کښې یوه مقدمه او۲۳ فصلونه دی په مقدمه کښې تعریف موضوع غرض دعلم نحو، اودَ هر یو تعریف او دَ نحو لغوی او اصطلاحی معنی، اوواضع دعلم نحو ذکردی۔ بیاپه اول فصل کښې تعریف او تقسیم دلفظ کوی دُوه اقساموته چه موضوع اومهمل دی، بیاتقسیم دَموضوع کوی دُوه قسمونوته چه مفرد اومرکب دی، بیا تقسیم دَمفرد کوی دری اقسامو یعنی اسم فعل او حرف ته،بیاوجه دَ حصرذکرکوی، بیا تعریف اوتقسیم دَهر یوکوی، بیا تعریف اوتقسیم دَمرکب کوی دُوه قسمونوته چه مفید او غیر مفید دی، بیادَهر یو تعریف کوی، او تقسیم دَ مرکب مفید کوی دُوه قسمونو ته چه خبریه اوانشائیه دی،اودَ غیر مفید تقسیم کوی پنځه اقساموته۔
دویم فصل کښې اقسام دجملې ذکر کوی په اعتبار دَوصف سره چه هغه شپږ اقسام دی۔

دریم فصل کښې علامات دَ اسم فعل او حرف ذکر کوی چه دَ اسم علامات لفظی دولس دی او معنوی پنځلس دی، دارنګې دَفعل علامات لفظی اته دی او معنوی څلور دی،او دَحرف علامه داده چه په هغه کښې دَ اسم اوفعل علامات نه وی۔

څلورم فصل کښې تقسیم دَاسم کوی معرب اومبنی ته اودَهر یو تعریف او تقسیم کوی۔

پنځم فصل کښې اقسام دَاسم غیرمتمکن ذکر کوی چه هغه اته اقسام دی۔

شپږم فصل کښې بیان دَ اسم منسوب کوی اول تعریف دَ اسم منسوب اوبیا یوڅو قواعد دَ اسم منسوب ذکرکوی۔

ؤوم فصل کښې بحث دَ اسم تصغیر کوی۔

اتم فصل کښې بیان دَ اسمِ معرفه او اسم نکره۔

نهم فصل کښې تقسیم دَاسم کوی په اعتبار دَ جنس سره دُوؤ قسمونو ته (۱)مذکر(۲)مؤنث۔ بیادَ هر یو تعریف او علامات ذکر کوی،بیا تقسیم دَمؤنث کوی دُوؤ قسمونوته چه قیاسی او سماعی دی، بیا دویم تقسیم کوی په اعتبار دَ ذات سره حقیقی او لفظی ته۔

لسم فصل کښې تقسیم دَ اسم کوی په اعتبار دَ تعدد سره دری اقساموته چه واحد، تثنیه او جمع دی، دَهر یو تعریف او تقسیم کوی۔

یولسم فصل کښې تقسیم دَاسم معرب کوی دوؤ اقساموته چه منصرف اوغیر منصرف دی،بیادَهر یوتعریف اوحکم او نهه اسباب دعدم انصراف به ذکر کړی۔

دولسم فصل کښې بیان دَمرفوعاتو کوی او دا اته ۸ دی (۱)فاعل (۲)نائب فاعل (۳) مبتداء (۴)خبر (۵)خبر دَاِنّ اودَ ملګرو دَهغه (۶)اسم دَ مَاولَامشابه بلیس(۷)اسم دَکَانَ اودَهغه دَ ملګری (۸)خبر دَ لائے نفی جنس۔

دیارلسم فصل کښې بیان دَ منصوباتو کوی اومنصوبات دولس دی پنځه مفاعیل اوشپږم حال اووم تمیز اتم اسم دَانّ نهم خبر دَماولامشابه بلیس لسم اسم دَلائے نفی جنس یوولسم خبر دَکان و اخواتها دولسم مستثنی۔

څوارلسم فصل کښې بیان دَ مجروراتو دے اوداپه دوه قسمه دی یومجرور بالاضافت،دویم مجرور بحرف جر۔

پنځلسم فصل کښې اصناف دَ اعراب دَ اسم متمکن ذکر کوی۔

شپاړلسم فصل کښې بیان دتوابعو کوی اوتوابع پنځه دی (۱)صفت (۲)تاکید (۳)بدل (۴)عطف بحرف (۵)عطف بیان۔

اُولسم فصل کښې تقسیم کوی دَعامل چه هغه لفظی، معنوی او قیاسی دی، بیا لفظی په دری قسمه دی (۱) حروف عامله (۲)اسمائے عامله (۳)افعال عامله۔

اتلسم فصل کښې بیان کوی دَحروف عاملؤپه فعل مضارع کښې، چه هغه په دوه قسمه دی نواصب اوجوازم۔ نولسم فصل کښې بیان دَ افعالُ عاملؤ کوی اوتقسیم دَفعل کوی معروف اومجهول ته، بیا تقسیم کوی متعدی اوغیر متعدی ته۔

شلم فصل کښې بحث دَاسماء عاملؤ کوی چه هغه ټول دولس دی۔

یویشتم فصل کښې عوامل معنویه ذکر کوی،اول یئ تعریف دَعامل معنوی کوی، اوبیا تقسیم کوی۔

دویشتم فصل کښې بیان دَحروف غیر عاملؤ کوی، اوهغه شپاړلس اقسام دی۔

دریشتم فصل کښې بحث دَ حروف غیر عامله کوی۔

مُقدِّمه دَ کتاب

دَ هر علم د ؟شروع کولونه مخکښې دَ څلورو خبرو پیژندل ضروری دی

(۱)تعریف (۲)موضوع (۳)غرض (۴)واضع ۔

تعریف پیژندل ځکه ضروری دی چه طلب دَمجهول مطلق رانشی، او موضوع پیژندل ځکه ضروری دی چه مشروع بِه علم دَ غیر مشروع بِه علم نه جداشی،اوغرض پیژندل ځکه ضروری دی چه دَطالب العلم سعی عبث نشی، او واضع پیژندل ځکه ضروری دی چه دَطالب العلم زړه مطمئن شی۔

فائدہ مُهمه

تعريف ديته وايئ چه دَهغې پيژندلو سره بل څيز معلوم شي لکه دَ انسان تعريف حيوان ناطق دے،اوس که دامونږ ته معلوم شي نوانسان به مونږه اوپيژنو، دارنګے دَملک تعريف دے "هوجسم نورانیّ يتشکّل باشکال مختلفةٍ لايذکر ولايؤنث" اودَجن تعريف دے "هوجسم ناریّ يتشکّل باشکال مختلفة يذکر ويؤنث" کله چه دا تعريفونه مونږته معلوم شي نو مونږ ته به انسان اوملائک اوجنات معلوم شي۔

تعريف وايئ "مايبين به حقيقة الشيءِ"اوموضوع وايئ"مايبحث فيه عن عوارضه الذاتيةِ" اوغرض وايئ "مايصدر الفعل عن الفاعل لاجله"۔اوواضع په لغت کښې موجِديعنې ايجاد کونکی ته وايئ۔

دَتعريف دوه اقسام دی (۱)لغوی (۲)اصطلاحی۔

تعريف دَعلم النحو لغةًواصطلاحًا

نحوپه لغت کښې په نهه ۹ معنوسره راځی۔

(۱)قصد(۲)مقدار(۳)طرف(۴)قبيله(۵)نوع(۶)صرف(۷)مثل(۸) صيانة(۹)اعراض۔

دَدی نه ؤوه ۷ يوشاعرپه شعرکښې راجمع کړی دی او دوه په نثر کښې۔

هفت معنی در بيان نحو اے جانب بجو

قصدومقدار قبيله،صرف ونوع ،شبه سو

دَ دی مثالونه یو شاعر په شعرکی ذکر کړی دی ـ

نَحَوْنَا نَحْوَ نَحْوِکَ یَا حَبِیْبِیْ: نَحَوْنَا نَحْوَ اَلْف مِنْ رَقِیْبِیْ:

وَجَدْنَا هُمْ مَرِیضًا نَحْوَ قَلْبِیْ: تَمَنَّوْا مِنْکَ نَحْواً مِنْ زَبِیْبِیْ:

ترجمه:قصداوکړو مونږه په طرف دَ قبیلی ستا اے دوسته: واړول مونږه هغوی لره دَ زرو رقیبانو په مقدار: بیا موندل مونږ هغوی لره بیماران پشان دَ زړه ځما: چه آرزو کوله هغوی ستانه دَ یو قسم دَ وَځکُو:

اواتمه معنی لکه دَ فِقه په کتابونو کښی راځی"لرے کیدل"

"ثُمَّ یَتَنَحّٰی عَنْ ذَالِکَ الْمَکَانِ" (مختصر القدوری)

ترجمه:بیابه لرے شی دَدغه مکان نه.اونهمه معنی یئ حفاظت راځی لکه مشهوره مقوله ده۔

"اذاجاء النحویّون یوم القیامةِ فیقال فی حقّهم من جانب اللّٰه تعالی انحوهم عن النار کمانحو کلامی عن الخطایا" ـ (شمّه)

نحو: په اصطلاح کښی وایئ

"هوعلم باصول یعرف بها اَحوال اَواخرالکلم الثلاث من حیث الاِعراب والبناء وکیفیة ترکیب بعضهامع بعض"۔

موضوع دَعلم النحو: الکلمة والکلام من حیث الاِعراب والبناء۔

په موضوع دَعلم النحو کښی اختلاف دے، او پدیکی څلور مذاهب دی. یومذهب دادے چه کلمه اوکلام دواړه دی.دویم مذهب دادے چه فقط کلمه ده نه کلام.دریم مذهب دادے چه فقط کلام دے نه کلمه.څلورم مذهب دادے چه نه کلمه ده اونه کلام،بلکه لفظ موضوع

ده او دا مذهب صاحب دَ نحومیر مختار کړے دے،دَدی وجه نه هغه خپل کتاب دَلفظ موضوع نه شروع کړے دے۔

غرض دَعلم النحو: "صیانة الذهن عن الخطأ اللفظی فی کلام العرب" ۔

واضع دَعلم النحو: واضع دَعلم النحو حضرت علی رضی اللّٰه عنه دے،پس منظر یئ داسے دے چه یوځل حضرت علی رضی الله عنه او ابوالاسود الدُئیلی (دَ حسن حسین استاذ) دوی دواړه بهر ته په چکروتلی وؤنویوکس داآیت اوئیلو"أَنَّ اللّٰهَ بَرِيءٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُوْلُهُ"نوهغه وَرَسُوْلِهِ اوئیلو(یعنی په لام باندے زیر اوئیلو) حضرت علی رضی الله عنه سوچ اوکړوچه داخودَصحابه کرامو زمانه ده اوخلق غلطیانے کوی، نو دَ دوی نه چه روستوکم خلق راځی نو هغوی به خامخاغلطیانے کوی نو حضرت علی رضی الله عنه څه قواعد وضع کړل، لکه "کل فاعل مرفوع، کلّ مفعول منصوب، وکلّ مضاف الیه مجرورٌ "۔

بیا حضرت علی رضی الله عنه ابوالاسود دُئیلی ته اوئیل چه دی لره ترتیب ورکړه، نو ابو الاسود دُئیلی ورله ترتیب ورکړو،سره دَ زیادت نه،هرکله چه باب دَ "اِنَّ" ته اورسیدو نوبیائے هغه قواعد حضرت علی رضی الله عنه ته اوخودل نوپه دغه وخت کښی حضرت علی رضی الله عنه اوئیل

"مااحسن النحوالذی نحَوتَ "

نودَدغه وجی نه نوم هم دغه شو۔

فصل نمبر ۱ بیان دَ لفظ

کومه خبره چه دَ انسان دَخولی نه اوځی هغی ته لفظ وایئ، بیالفظ په دوه قسمه دے(۱)لفظ موضوع(۲)لفظ مهمل۔

لفظ موضوع دیته وایئ چه معنی یئ وی لکه "زَیْدٌ" ۔

لفظ مهمل دیته وایئ چه معنی یئ نه وی لکه "جَسَقٌ،مَسَقٌ" ۔

وجه دَحصر: کومه خبره چه دَانسان دَ خولی نه اوځی نومعنی به یئ وی یانه که معنی یئ وه نوموضوع اوکه معنی یئ نه وه نومهمل۔

بیادَ لفظ موضوع دری نومونه دی (۱)موضوع (۲)مستعمل (۳) بامعنی۔ دغه شان دَلفظ مهمل هم دری نومونه دی(۱)مهمل (۲) غیرمستعمل(۳)بے معنی۔ بیانحویان دَ لفظِ موضوع نه بحث کوی۔

لفظ موضوع بیاپه دوه قسمه دے (۱)مفرد (۲)مرکب۔

مفرد: دیته وایئ چه یولفظ وی اوپه یوه معنی دلالت کوی لکه"زَیْدٌ" ۔

مرکب: دیته وایئ چه یولفظ وی اوپه دُوو یادَ دُوونه په زیاتومعنوباندی دلالت کوی لکه "زَیْدٌ قَائِمٌ". یامرکب هغه لفظ دے چه دُوؤ یادَ دُوؤ نه زیاتو کلمو نه جوړ شوے وی۔

وجه دَحصر: داده چه دالفظ موضوع به خالی نه وی یابه په یوه معنی دلالت کوی یاپه دُوه او یادَ دُوه نه په زیاتو، که په یوه معنی یئ دلالت

کولو نودیته مفرد وایئ، اوکه په دُوؤ یادَ دُوؤ نه په زیاتو یئ دلالت کولو نودیته مرکب وایئ۔

مفرد ته کلمه هم وایئ۔ بیادَ کلمے دری اقسام دی(۱) اسم (۲)فعل (۳) حرف۔

اسم: هغه کلمے ته وایئ چه خپله معنی باندے پخپله دلالت کوی اودَ دریو زمانو نه دَیوے زمانے سره تعلق هم نه ساتی لکه "عَمْرٌو، بَكْرٌ".

فعل:هغه کلمے ته وایئ چه خپله معنی باندی پخپله دلالت کوی او دَ دریو زمانونه دَیوے زمانے سره تعلق ساتی لکه "نَصَرَ، يَنْصُرُ".

حرف:هغه کلمے ته وایئ چه بغیر دَضم دَ بلے کلمے نه په خپله معنی دلالت نه کوی لکه "مِنْ وإلَى" ۔

فائده جلیله

دَحرف دَپاره ډیرے فائدے دی مثلاً

(۱)دَ دُوؤ اسمونو په مینځ کښی ربط راولی لکه "جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَعَمْرٌو".

(۲)دَدُوه فعلونو په مینځ کښی دَربط دَپاره راځی لکه "قَامَ وَقَعَدَ" ۔

(۳)دَفعل اودَاسم په مینځ کښی ربط جوړوی لکه "مَرَرْتُ بِزَيْدٍ" ۔

(۴)دَ یوی جملے بلے جملے سره ربط پیداکوی لکه "اِنْ يَّقُمْ زَيْدٌ يَقْعُدْ عَمْرٌو" ۔

دَدے نه علاوه کله په کلام تام داخلیږی لکه "مَاقَامَ زَيْدٌ" داجمله تامه ده لیکن "مَا"دَمثبت نه منفی کړے ده، او کله په اسم داخلیږی لکه

"اَلرَّجُلُ" اوکله په فعل داخلیږی لکه "سَيَضْرِبُ" اوکله زائد هم وی لکه "فَبِمَارَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ" ۔

وجوه دَ حصر دَ کلمے په اقساموکښې

(۱)**وجه دَحصر**:داکلمه به خالي نه وی یابه دلالت کوی په ذات یاپه وصف یا په ربط، که دلالت کوی په ذات نو دیته اسم وایئ اوکه دلالت کوی په وصف نودیته فعل وایئ اوکه دلالت کوی په ربط نودیته حرف وایئ(جاراللّٰه ذی محشری)۔

(۲)**وجه دَحصر**:داکلمه به خالي نه وی یابه پخپله معنی دلالت کوی یا نه، که دلالت یئ نه کوو نودیته حرف وایئ اوکه دلالت یئ کوونو بیابه خالي نه وی یابه دَدریو زمانونه دَیوے زمانے سره تعلق ساتی یانه، که تعلق یئ دَیوی زمانے سره ساتونوفعل اوکه تعلق یئ نه ساتو نواسم(ابن حاجب)۔

(۳)**وجه دَحصر**:داکلمه به خالي نه وی یابه مسند اومسند الیه دواړه واقع کیږی،یابه صرف مسند واقع کیږی اویابه دواړه نه واقع کیږی، که اول وونواسم که ثاني وو نو فعل اوکه ثالث وو نو حرف۔

تقسیم دَ اسم

اسم په دری قسمه دے (۱)جامد (۲)مصدر (۳)مشتق۔

جامد:په لغة کښې شنډته وایئ، اوپه اصطلاح کښې هغه اسم ته وایئ چه نه دادَځه نه جوړشوے وی اونه دَدے نه څه جوړیږی۔

مصدر: په لغة کښې جائے صدور ته وایئ،اوپه اصطلاح کښې مصدر هغه اسم ته وایئ چه دامشتق منه وی دپاره دمشتقاتو۔

مشتق: په لغت کښې خیری کړے شوی ته وایئ، اوپه اصطلاح کښې مشتق هغه اسم ته وایئ چه دادَمصدرنه جوړ شوے وی۔ بیادی کښې دوه قسمه وجه حصر دے،یوه لفظی ده، دویمه معنوی ده۔

(۱)لفظی وجه دَ حصر: دا اسم به خالی نه وی یابه مأخذ وی یابه مأخوذ وی، او یابه نه مأخذوی او نه به مأخوذ، که مأخذ وو نو مصدر، اوکه مأخوذ وو، نو مشتق، او که نه مأخذ وو اونه مأخوذ نوجامد۔

(۲)معنوی وجه حصر: دا اسم به خالی نه وی یابه دلالت کوی په ذات باندے یا په وصف او یا په ذات مع الوصف باندی،که دلالت کوی په ذات باندے فقط نوجامد لکه "زَیْدٌ "،اوکه دلالت کوی په وصف باندے فقط نومصدرلکه "اَکْلٌ، شُرْبٌ "اوکه دلالت کوی په ذات مع الوصف باندے نومشتق لکه " آکِلٌ ، شَارِبٌ " ۔

قاعده جلیله

دَمصدرعلامه داده چه ترجمه یئ اوکړے شی په فارسی کښې نو دَهغی په آخرکښې "دال" او"نون" یا "تاء" او"نون" راځی لکه "اَلْضَرْبُ" زدن "اَلْقَتْلُ" کُشتن، اوپه پښتوکښې په آخر کښې لام راځی لکه راوړل، وهل، سکل،وغیره، اوپه اُردوکښې په آخر کښې "نا"راځی (نون اوالف)لکه "اَلْشُرْبُ " پینا،اَلْقِرَاءَةُ " پڑھنا۔

اقسام دَ فعل

بیافعل په څلور قسمه دے (۱) ماضی (۲)مضارع(۳)امر (۴)نهی۔

ماضی:په لغة کښې ګزشته زمانے ته وایئ، اوپه اصطلاح کښې هغه فعل ته وایئ چه دلالت کوی په وجود دَمعنی مصدری باندی په زمانه ګزشته کښې لکه "ضَرَبَ"۔اوفعل ماضی په شپږقسمه ده(۱) مطلق (۲) قریب (۳) بعید (۴) استمراری (۵)احتمالی (۶)تمنا۔

مضارع: په لغة کښې مشابه ته وایئ، اوپه اصطلاح کښې هغه فعل ته وایئ چه دلالت کوی په وجود دَمعنی مصدری باندی په زمانه موجوده یا آئنده کښې لکه "یَضْرِبُ" ۔

امر: په لغة کښې فرمودن کار ته وایئ،اوپه اصطلاح کښې امر هغه فعل ته وایئ چه دلالت کوی په وجود دَمعنی مصدری باندی په زمانه آئنده کښې لکه "اِضْرِبْ" ۔

نهی:په لغة کښې منع کولوته وایئ،اوپه اصطلاح کښې نهی هغه فعل ته وایئ چه په هغی کښې متکلم دَفاعل مخاطب نه دَځه کاردَ نه کولومطالبه اوکړی لکه "لَاتَضْرِبْ " ۔

بیان دَ حرف

دریم قسم دَکلمے په اقسامو کښې حرف دے. بیا اوّلاً حروف په دوه قسمه دی (۱)حروف عامله (۲)حروف غیرعامله۔

حروف عامله لکه حروف جارّه وغیره شو.حروف غیرعامله لکه حروف ایجاب وغیره شو۔

مثال دَحروف جاره لکه مِن، اِلی، شو منکم،الیه۔

مثال دَحروف ایجاب لکه "نعم،بلی اجل،جیر" ۔

بیاپه یو بل اعتبارسره حروف په دوه قسمه دی(۱)معانی (۲)مبانی۔

حروف معاني: چه معنی یئ وی لکه حروف عامله شو۔

حروف مباني: هغه ته وایئ چه معنی یئ نه وی خو ترکیب دَکلمے ترینه جوړیږی لکه "رَجُلٌ" کښې "راء" "جیم" او"لام"شو۔

بیا حروف په دوه قسمه دی (۱)اصلی (۲)زائد۔

حروف اصلي: هغی ته وایئ چه په سقوط دَدی سره په معنی کښې نقصان راځی۔

حروف زائد: هغه ته وایئ چه په سقوط دَدی سره په معنی کښې نقصان نه راځی۔

نوټ: دَ اسم، فعل او حرف علامات به انشاء اللّٰه په دویم فصل کښې راشی۔

اِجراء او مشق

(۱)اَلْحَمْدُ : لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد، اسم مصدر۔

(۲)نَعْبُدُ: لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد، فعل مضارع معلوم

(۳)عَلَی : لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد، حرفِ عامله جاره (۴) اول مثال دَ اسم، دویم دَ فعل او دریم دَ حرف شو۔

دَ لاندنی الفاظو اجراء اوکه۔

رب (۵) العلمین (۶) مالک(۷) نستعین (۸) انعمتَ(۹) المستقیم

(۱) فی (۱۱) قد (۱۲) رزقنا (۱۳) هم (۱۴) یوقنون(۱۵) المفلحون

(۱۶) ختم (۱۷) یخدعون (۱۸) اٰمنوا (۱۹) انّ (۲۰) الله۔

دویم قسم: دَلفظِ موضوع مرکب وو۔

مرکب: دیته وایئ چه یولفظ دَ دُوو یادَدُوونه دَزیاتوکلمونه جوړ شوے وی، مثال "زَیْدٌقَائِمٌ" ۔

مرکب بیاپه دوه قسمه دے (۱)مفید (۲)غیرمفید۔

نوټ: د ؟غیرمفید اقسام به انشاء الله روستوراشی۔

مرکب مفید: دیته وایئ چه ویونکے خبره اوکړی اوچپ شی او او رید ونکی ته فائده دَخبریاطلب معلومه شی.دَ خبر مثال لکه "زَیْدٌ قَائِمٌ " دَطلب مثال لکه "اِیْتِ بِالْمَاءِ" ۔

مرکب غیرمفید: دیته وایئ چه ویونکے خبره اوکړی اوچپ شی، اوریدونکی ته فائده دَخبر یاطلب معلومه نشی مثال لکه "غُلَامُ زَیْدٍ"

وجه دَ حصر: داده چه ویونکے خبره اوکړی نو اوریدونکی ته به فائده دَخبریادَ طلب ورکوی یانه، که فائده دَخبریاطلب ورکوی نودیته مرکب مفید وایئ،اوکه نه ورکوی نو دیته غیر مفید وایئ۔

بیادَویونکښی څلور نُومُونه دی۔

(۱)قائِل (۲) لافِظ(۳) متکلِم(۴) مخاطِب بصیغة اسم الفاعل. اودَ اوریدونکی دُوه نومونه دی (۱) سامِع (۲) مخاطَب بصیغه اسم المفعول.**بیا**دَمرکب مفید شپږنومونه دی۔

(۱)مرکب مفید (۲)مرکب تام (۳)مرکب اسنادی(۴)مرکب کلامی (۵)جمله(۶)کلام۔

اودَمرکب غیرمفید پنځه نومونه دی۔

(۱) مرکب غیر مفید (۲)مرکب غیرتام (۳) مرکب غیر اسنادی (۴) مرکب غیر کلامی (۵)مرکب ناقص۔

دَمرکب مفید په نومونو کښی یونوم جمله وه اوس جمله په دوه قسمه ده (۱)جمله خبریه(۲) جمله انشائیه۔

جمله خبریه

جمله خبریه دیته وایئ چه ویونکے دَ دے په صدق اوکذب سره موصوف کیدے شی، لکه "زَیْدٌقَائِمٌ " اوس که زید ولاړ وو نو ویونکے دَدی په صدق سره موصوف شواوکه زیدولاړ نه وونو ویونکے دَدی په کذب سره موصوف شو۔

جمله انشائیه: دیته وایئ چه ویونکے دَدی په صدق اوکذب سره نشی موصوف کیدے لکه "اِضْرِبْ" ۔

دَجمله خبریی دویم تعریف دادے "مَایُقَالُ لِقَائِلِه اِنَّهٗ صَادِقٌ فِیْهِ اَوْکَاذِبٌ"۔

یوبل تعریف عبد الغفور کړے دے چه په هغه باندے هیڅ اعتراض نه واریدیږی "مَاقُصِدَ بِهِ الْحِكَايَةُ عَنْ الْوَاقِعِ" ـ

تعریف دَجمله انشائیه: "مَالَايُقَالُ لِقَائِلِهِ انَّهٗ صَادِقٌ فِيْهِ اَوْ كَاذِبٌ" ـ

دَجمله انشائیه تعریف هم عبدالغفور کړے دے "مَايُقْصَدُبِهِ الْحِكَايَةَ عَنْ الْوَاقِعِ" ـ

جمله خبریه: بیاپه دوه قسمه ده (۱)اسمیه (۲)فعلیه ـ

جمله اسمیه: دیته وایئ چه جزء اول دَدے اسم وی، دویم اسم وی اوکه فعل وی، لکه "زَيْدٌ قَائِمٌ، وَزَيْدٌ قَامَ " ـ

جمله فعلیه: دیته وایئ چه جزء اول یي فعل وی لکه "قَامَ زَيْدٌ "

وجه دَ حصر: داده چه جزاول دَجملے به یااسم وی یابه فعل وی، که جزء اول یئ اسم وؤ نوجمله اسمیه اوکه جزء اول یئ فعل وونوجمله فعلیه به وی ـ

دَجمله اسمیه دَاول جزء پنځه نومونه دی ـ

(۱)مسندالیه(۲)محکوم علیه(۳)مخبر عنه(۴)موضوع (۵)مبتداء ـ

اودَجمله اسمیه دَ دویم جزء اته نومونه دی ـ

(۱) مسند(۲) مسندبه (۳) محکوم (۴) محکوم به(۵)مخبر(۶)مخبر به (۷) محمول(۸)اوترکیبی نوم خبر(۹) حکم ـ

اوجمله فعلیه دَجزء اول درے نومونه دی ـ

(۱)مسند(۲) فعل (۳)عامل ـ

اودَ دویم جز هم درے نومونه دی ـ

(۱)مسندالیه (۲) فاعل یانائب فاعل (۳) معمول۔

فائده جلیله

دری اشیاء پیژندل ضروری دی (۱)اسناد (۲)مسند (۳)مسندالیه۔

تعریف دَاسناد: الحکم بالشیٔ علی الشیٔ۔

تعریف دَمسند: ماحکمتَ به علی الشیٔ۔

تعریف دَمسندالیه: ماحکمت علیه بالشیٔ۔

سوال: دا راځی چه تا دَ جملے خبرئے دوه اقسام ذکر کړی دی (۱)اسمیه (۲)فعلیه، حالانکے دَ جملے خبرئے څلور اقسام دی (۱)اسمیه(۲) فعلیه (۳)شرطیه (۴)ظرفیه۔

وجه دَ حصر : په دی څلورو واړو کښی داده چه داجمله خبریه به خالی نه وی یابه جزء اول دَدی به اسم وی یا به فعل وی یابه ظرف وی یابه شرط وی، که جزء اول دَدی اسم وو نوجمله اسمیه لکه "زَیْدٌقَائِمٌ " اوکه جزء اول دَدی فعل وونو جمله فعلیه لکه "قَامَ زَیْدٌ " ۔ اوکه جزء اول دَدی شرط وونو جمله شرطیه لکه "اِنْ تَنْصُرْنِیْ اَنْصُرْکَ" اوکه جزء اول دَدی ظرف وو نو جمله ظرفیه لکه "عِنْدِیْ مَالٌ " ۔

الجواب: دَجواب نه مخکښی یوتمهید دے،هغه داچه دَجملے خبرئے په اقسامو کښی اختلاف دے یومذهب دَبصرینو دے، بل دَکوفیینو دے. نو دَ بصرینوپه نزد باندے دَجملے خبرئے دوه اقسام دی (۱)اسمیه (۲) فعلیه. اود ؟ کوفیینو په نزد باندےدَجملے خبرئے

څلور اقسام دی کوم چه مخکښې تیرشو. نو صاحب دَ نحومیر دَ بصرینو په مذهب باندے دے ځکه یئ دوه اقسام ذکرکړی دی۔

اوس دَ اصل اعتراض نه جواب دادے چه بصرین کوفینوته وایئ چه دَ جملے خبرئے دوه اقسام دی (۱)اسمیه (۲) فعلیه،اوهرچه شرطیه اوظرفیه دی نو دا په دے کښې داخل دی،هغه داسی چه جمله شرطیه کښې اصل جزاء ده که جزاء اسم وونو جمله اسمیه به وی او که جزاء فعل وونوجمله فعلیه به وی۔

اوجمله ظرفیه کښې اصل متعلق دے،که متعلق دَدی اسم وو نو اسمیه به وی، اوکه متعلق دَدی فعل وو نو جمله فعلیه به وی۔

سوال: دا راځی چه ستا دَ کلام نه داخبره معلومه شوه چه کلام دَ دُوؤ کلمونه جوړیږی، حالانکے په دے کښې عقلی شپږ احتمالات دی، دری متفق دی اودری مختلف۔

اول دری متفق دادی (۱)اسم،اسم (۲)فعل،فعل (۳)حرف،حرف۔

او دری مختلف دادی (۱)اسم،فعل (۲) اسم،حرف(۳)فعل،حرف۔

الجواب: دَجواب نه مخکښې تمهیددے هغه داچه هرکلام کښې مسند مسندالیه کیدل ضروری دی،نواسم مسند اومسند الیه دواړه واقع کیږی اوفعل صرف مسند واقع کیږی مسندالیه نشی واقع کیدے،اوحرف نه مسندواقع کیږی اونه مسندالیه،لهذاپه دی شپږو احتمالاتو کښې دوه مقبول شواوڅلور مردود۔

اول مقبول: اسم او اسم، نو یوبه مسند شی اوبل به ورله مسندالیه شی نودَ دُؤواسمونونه کلام جوړشو۔

دویم مقبول: اسم اوفعل، ددی نه هم کلام جوړیږی ځکه اسم به ورله مسند الیه شی اوفعل به ورله مسندشی، ددی نه علاوه نورمردود دی۔

(۱)حرف اوحرف،ځکه چه حرف نه مسند واقع کیږی اونه مسندالیه۔

(۲)فعل اوفعل،ځکه چه فعل مسندالیه نه واقع کیږی۔

(۳) فعل اودَحرف نه هم نه واقع کیږی ځکه مسند الیه نشته دے۔

(۴) اودَ اسم اوحرف نه هم جمله نه واقع کیږی ځکه چه اسم اگرچه مسند اومسند الیه دواړه جوړیږی خوحرف نه مسند واقع کیږی اونه مسند الیه۔

سوال: اسم مسند اومسند الیه ولی واقع کیږی اوفعل ولے مسند واقع کیږی اوحرف نه مسند واقع کیږی اونه مسندالیه داولے؟

الجواب: اسم مسند او مسند الیه ځکه واقع کیږی چه دادلالت کوی په ذات او وصف باندے،اوفعل مسند ځکه واقع کیږی چه فعل په وصف باندی دلالت کوی،اوحرف دواړه ځکه نه واقع کیږی چه دانه په ذات باندی دلالت کوی اونه په وصف باندی۔

سوال:چه حرف نه مسند واقع اونه مسند الیه نوداخوفضله شونوبیا ولے ذکرکولے شی؟۔

جواب: دادے چه دحرف په کلام دعربو کښی ډیرے فائدی دی چه هغه مخکی ذکر کړے شو۔

اِجراء او مشق

(۱) **اٰمَنُوْا:** لفظ موضوع مستعمل با معنی مرکب مفید،تام، اسنادی، کلامی، جمله او کلام، جمله خبریه فعلیه. بیا **اٰمَنُوْا:** لفظ موضوع مستعمل با معنی مفرد فعل ماضی معلوم، مسند، فعل، واو ضمیر لفظ موضوع مستعمل، بامعنی مفرد اسم جامد مسند الیه فاعل، فعل سره دَخپل فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه۔

(۲) **اَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ:** لفظ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مفید، تام، اسنادی، کلامی، جمله او کلام جمله خبریه اسمیه. بیا **اَلْاٰخِرَةُ:** لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد اسم جامد، مسند الیه، محکوم علیه مخبر عنه موضوع مبتداء۔ **خَيْرٌ:** لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد اسم مشتق، مسند، مسندبه،محکوم،محکوم به،مخبر،مخبربه محمول، خبر. مبتداء سره د ؟خبر نه مرکب مفید، تام، اسنادی، کلامی،جمله اوکلام، جمله خبریه اسمیه۔

دَ لاندنی مثالونو اجراء اوکه۔

(۳)جَعَلْنَاكُمْ (۴) وَاَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ (۵) خَلَقَكُمْ (۶) وَنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ (۷) وَزَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ(۸)لَقُوْا (۹)خَلَوْا (۱۰) اَضَاءَتْ (۱۱)اُعْبُدُوْا (۱۲)خَتَمَ اللّٰهُ (۱۳)قَامُوْا۔

جمله انشائیه

دویم قسم دَ جملے هغه جمله انشائیه وه. انشاء په لغت کښې ایجاد مالم یوجدته وایئ، اوپه اصطلاح کښې دَ جملے انشائی تعریفات مخکښې ذکر شوی دی۔

بیاجمله انشائیه په دوه قسمه ده (۱)انشاء طلبی (۲)انشاء غیرطلبی۔
انشاء طلبی دیته وایئ چه صورةً اومعنًی دواړه انشاءوی لکه "اِضْرِبْ"
انشاء غیرطلبی دیته وایئ چه صورتاً خبر وی اومعناًانشاء وی لکه "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ" ـ

دَانشاء طلبی:لس اقسام دی چه یو شاعر په شعرکښې راجمع کړی دی۔

تمنی و ترجی و عقود اے اخی
نداء و قسم و عرض و امر و نهی
چون استفهام وتعجب بخوان اے جوان
این ده قسم انشاء است بخوبی بدان

دَ کتاب دَ ترتیب په لحاظ سره تفصیل ئ دا دے۔

اول قسم: دَانشاء امردے. **امر:**په لغت کښې فرمودن کاری ته وایئ،اوپه اصطلاح کښې امر "طَلَبُ الفِعل" ته وایئ، بیا دَ امر دری اقسام دی.
(۱)حکم (۲)دُعا(۳)التماس۔

حکم:چه اعلٰی یئ ادنی ته اوکړی لکه امردَ اللّٰه تعالٰی"اَقِیْمُوْاالصَّلٰوةَ"۔

دُعا:چه ادنی یئ اعلٰی ته او وایئ لکه "یَارَبِّ اغْفِرْلِیْ" ـ

التماس:چه مساوی يئ مساوی ته او وايئ لکه "اِئْتِ بِالْمَاءِ" ۔
فائده: جمله امريه کښې درې څيزونه پيژندل پکاردی (۱)آمر (۲) مامور(۳) ماموربه۔
دويم قسم: دَانشاء نهی ده. **نهي:**په لغت کښې بازداشتن ازکاری يعنی منع کولوته وايئ، اوپه اصطلاح کښې نهی "طلب ترک الفعل" ته وايئ. بيا دَ نهی هم درې مرتبې دی۔
(۱)نهی چه اعلٰی ادنی ته اووايئ لکه الله تعالی فرمائی"لَاتُشْرِکْ بَاللّٰهِ".
(۲)نهی چه ادنی اعلٰی ته او وايئ لکه "رَبَّنَا لَاتُزِغْ قُلُوْبَنَا" دلته کښې نهی په معنی ددعاء ده۔
(۳)نهی چه مساوی مساوی ته اووايئ لکه "لَاتَضْحَکْ" دلته کښې نهی بمعنی التماس ده۔
فائده: جمله ناهيه کښې هم درې څيزونه پيژندل پکاردی(۱)ناهی (۲) منهی (۳)منهی عنه۔
دريم قسم: دَ انشاء استفهام دے. **استفهام:** دَ باب استفعال مصدر دے،په لغت کښې طلب دَ پوهی ته وايئ، اوپه اصطلاح کښې استفهام وايئ چه يو نا واقف شخص دَ بل واقف شخص نه دَ حرف استفهام په زريعے سره دَيونامعلومه څيزمعلومات اوکړی لکه "هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ عمرواً " ۔
لهذا دی تعريف سره هغه اعتراض دفع شو چه استفهام طلب دَپوهے ته وايئ، نوقرآن کريم کښې چه کوم مثالونه راغلی دی مثلاً "هَلْ يَسْتَوِی

الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَايَعْلَمُوْنَ" نوولی الله رب العزت طلب دَپوهے کوی دَعبادونه۔

الجواب: مونږ ذکر کړل چه استفهام وايئ،چه يوناواقف شخص دَ يو واقف شخص نه تپوس دَ حرف استفهام په زريعے سره معلومات اوکړی،اوالله جل شانہ خو واقف دے، اوځوک چه سره دَ واقفيّت نه داسے جمله استعمالوی نوهغی ته اخبار وايئ،يعنی الله تعالی مونږله خبر راکوی چه عالم اوجاهل برابر نه دی۔

فائده:جمله استفهاميه کښی څلور څيزونه پيژندل پکار دی۔

(۱)مستفهِم (۲)مستفهَم (۳)مستفهَم عنه (۴)حرف استفهام۔

فائده:دَحروف استفهام تفصيل به انشاء الله په بحث دَحروفو غير عاملوۀ کښی راشی۔

څلورم قسم: دَانشاء تمنی دے. **تمني:** په لغة کښی آرزو ته وايئ، دَباب تفعّل مصدر دے،اوپه اصطلاح کښی تمنی وايئ"طلب حصول الشئ علی سبيل المحبّة سواء کان ممکناً او ممتنعاً" مثال لکه "وَيَقُوْلُ الْکَافِرُ يَا لَيْتَنِي کُنْتُ تُرَابًا" ۔

فائده: تمنی کښی هم دری څيزونه پيژندل ضروری دی۔

(۱)متمنِي (۲)متمنیٰ (۳) حرف تمنی۔

فائده: حروف تمنی دری دی (۱)لَيْتَ (۲)لَوْ (۳)هَلْ بمعنی لَيْتَ۔

پنځم قسم: دَ انشاء ترجّی: ده، دادَ باب تفعل مصدر دے،په لغة کښې ترجی امید ته وايئ اوپه اصطلاح کښې ترجی وايئ"طلب حصول الشيئ ممکن علی سبيل المحبة" مثال لکه "لَعَلَّ السَّلْطَانَ يَقْتُلُنِي"۔
فائده:دلته کښې هم درې څيزونه پيژندل پکار دی.
(۱)مترجِي (۲)مرجّیٰ (۳)حرف ترجی۔
نوټ: حرف ترجی صرف لَعَلَّ دے۔
الفرق بين التمنی والترجی
(۱)تمنی په ممکن الحصول اوغيرممکن الحصول دواړو کښې راځی، دَ ممکن الحصول مثال لکه "لَيْتَ زَيْدًاحَاضِرٌ " او دَ غير ممکن الحصول مثال "لَيْتَ الشَّبَابَ يَعُوْدُ يَوْماً فَاَخْبِرُهُ بِمَا فَعَلَ الْمُشِيْبُ "۔ اوترجی فقط په ممکن الحصول کښې راځی په غيرممکن الحصول کښې نه راځی۔
(۲) فرق دادے چه تمنی دَمحبوب څيز کيږی فقط، اوترجی دَ محبوب اومکروه دواړو کيږی،لهذا "لَعَلَّ السُّلْطَانَ يَقْتُلُنِيْ " وئيل صحيح دی خو "لَيْتَ السُّلْطَانَ يَقْتُلُنِيْ " وئيل صحيح نه دی۔
شپږم قسم: دَانشاء هغه عقود دے. **عقود:** په لغة کښې غوټے تړلوته وائي، اوپه اصطلاح کښې عقود هغه الفاظو ته وايئ چه دَبيع اوشرى په وخت کښې استعماليږی يادَنکاح په وخت کښې لکه"بعتُ، واشتريتُ، ونکحتُ " اودَی الفاظو دوه حيثيته دی، کچری دا الفاظ دَبيع اوشراء په وخت کښې استعمال شی نو ديته جمله انشائيه وايئ،

اوکه چری روستو دَبیع اوشراء نه استعمال شی نودیته بیاجمله خبریه وئیلے کیږی ځکه خبر پدی سره ورکړے شو۔

فائده: دلته کښې هم دری څیزونه پیژندل ضروری دی(۱) عاقد (۲) معقود (۳)معقود علیه۔

اُووم قسم: دانشاء هغه نداء ده. **نداء:** دَباب دَمفاعلے مصدر دے،په لغة کښې آواز ته وایئ، اوپه اصطلاح کښې نداءوایئ "هومطلوب اقباله بحرف النداء" یعنی څوک ځان ته متوجه کول په زریعه دَحرف نداء سره۔

فائده: حروف نداء پنځه دی: یا،ایا،هیا، اَیْ،همزه مفتوحه۔

فائده:په جمله ندائیه کښې پنځه اشیاء وی (۱)منادِی (۲)منادٰی (۳) حرف نداء (۴)نداء (۵) جمله مقصودبالنداء۔

مثال "یَااَللّٰهُ اِغْفِرْلِیْ" په دی مثال کښې متکلم منادِی دے اولفظ "اَللّٰهُ" منادیٰ ده او یاء حرف نداء ده، او "اِغْفِرْلِیْ" جمله مقصود بالنداءده، اودی آوازته نداء وایئ. **یا** اَیْ اوهمزه دَقریب دَپاره راځی اوآیا،هیا دَبعید دَپاره راځی اویَا دَ دواړو دَ پاره راځی۔

اتم قسم: دَانشاء عرض دے. **عرض:** دَ ضَرَبَ یَضْرِبُ باب مصدر دے،په لغت کښې عرض عاجزئ ته وایئ، اوپه اصطلاح کښې عرض "هوطلب حصول شیءٍ مطلقًاعلی سبیل المحبة"یعنی چه یوکس بل کس لره په انتهائی عاجزئ سره دَیوڅیز په کولو مجبور کړی مثال "اَلَاتَنْزِلُ بِنَا فَتُصِیْبَ خَیْراً" ۔

فائده: دلته کښې هم درې څیزونه پېژندل ضروري دی
(۱)عارض (۲)معروض (۳)معروض له۔
نهم قسم: دَانشاء قَسم دے.**قسم:** په لغت کښې مظبوطولوته وايئ، اوپه اصطلاح کښې قسم وايئ "القسم هوتوکيد الکلام بحرف القسم" مثال "وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْداً " ۔
فائده: حروف قسم څلور دی(۱) واو (۲) باء (۳) لام (۴) تاء۔
فائده: په جمله قسميه کښې پنځه اشياء وی لکه دغه مذکورمثال کښې (۱)متکلم مقسم دے (۲)لفظ الله مقسم به دے (۳)او واو حرف قسم دے(۴) او لَاَضْرِبَنَّ زَيْداً جمله جواب قسم دے(۵)اودی ټولے کار وايئ ته قسم وايئ۔
لسم قسم: دَانشاء تعجب دے. **تعجب:** دَباب تفعل مصدردے،په لغت کښې حيران کيدوته وايئ، اوپه اصطلاح کښې تعجب وايئ "هُوَالتَّحَيُّرُ عِنْدَ اِدْرَاکِ الْأُمُورِالْغَرِيْبَةِ" لکه يو نوے کار انسان او وينی اوپه هغې باندې دَ حيرانتيا اظهار اوکړی لکه "مَا اَضْرَبَهُ"۔
فائده: دلته کښې هم درې څيزونه پيژندل ضروري دی۔
(۱)متعجِب (۲)متعجَب (۳)صيغه دَ تعجب۔
نوټ: صيغے دَافعال تعجب به په بحث دَ افعالو کښې به راشی انشاء الله تعالى۔

اجراء اؤمشق

اَسْلِمُوْا: لفظ، موضوع، مرکب، مرکبِ مفید، مرکبِ تام، مرکبِ اسنادی یاجمله انشائیه فعلیه امریه۔

"لَاتَکْفُرُوْا،اَزَیْدٌقَایِمٌ،لَیْتَ زَیْدٌعَالِمٌ،لَعَلَّ اللّٰہَ یَرْزُقُنِیْ صَلَاحاً،بِعْتُ وَاِشْتَرَیْتُ،یَااللّٰہُ،اَلَاتَنْزِلُ بِنَافَتُصِیْبَ خَیْراً،وَاللّٰہ لَاَقْرَءَنَّ کِتَاباً،اَسْمِعْ بِہٖ وَاَبْصِرْ۔

مرکب غیرمفید

دَ مرکب غیرمفید تعریف کمامرّ۔

څه رنګه چه دَمرکب غیرمفید پنځه نومونه دی،نو دغه شان دَمرکب غیرمفید پنځه اقسام دی۔

وجه دَحصر: دَمرکب غیرمفید په اقسام کښی داده چه مرکب غیرمفید به خالی نه وی ددی جزء ثانی به جزء اول دَپاره قید وی یانه، که چری جزء ثانی دَجزء اول دَپاره قید وو نو بیابه خالی نه وی یابه داقیدپه اعتبار دَاضافت سره وی یابه په اعتبار دَصفت سره وی، که قید په اعتباردَاضافت سره وو نومرکب اضافی لکه "غُلَامُ زَیْدٍ"، اوکه قید په اعتبار دَ صفت سره وونو مرکب توصیفی لکه "هٰذَا رَجُلٌ عَالِمٌ " اوکچری جزء ثانی دَجزء اول دَپاره قید نه وو نو بیابه خالی نه وی یابه متضمن حرف لره وی یابه نه وی، کچری متضمن حرف لره وو نو

مرکب بنائی لکه "اَحَدَعَشَرَ اوتِسْعَةَ عَشَرَ "چه داپه اصل کښی "اَحَدٌوَّ عَشَرٌ اوتِسْعَةٌ وَّعَشَرٌ "وو۔
(هرکله چه دواړواسمونو لره يوځائے کول وو نوپه درميان کښی واو راوړو نوجمعية والامعنی دويم اسم لره ورکړه بياواؤ حذف شو نو "اَحَدَ عَشَرَ" او "تِسْعَةَ عَشَرَ" جوړ شو) او کچری جزء ثانی متضمن حرف لره نه وو نوبيابه خالی نه وی يابه جزء ثانی دَدغے صوت وی يابه ي غيرصوت وی، که صوت وو نومرکب صوتی لکه "سِيْبَوَيْه" اوکه صوت
نه وؤ نو نومرکب منع صرف وی لکه "بَعْلَبَکَّ " ۔

تفصيل دَ اقسامو دَ مرکب غيرمفيد

(۱)دَمرکب غير مفيداول قسم مرکب اضافي وو۔

تعريف دَ مرکب اضافي: مرکب اضافي ديته وايئ چه دَجزء اول اضافت او نسبت دويم جزء ته شوے وی مثال لکه "غُلَامُ زَيْدٍ" ۔

اسماء دَ اجزاؤ: جزء اول ته مضاف اوجزء ثانی ته مضاف اليه وايئ.

اعراب دَاجزاء دَمرکب اضافي: دَمضاف اعراب به خالی نه وی دَدی نه مخکښے به عامل وی يابه نه وی، که ددی نه مخکښی عامل وو نو اعراب دَدغه به بحسب العامل وی، که عامل رافعه وؤنومرفوع به وی، اوکه عامل ناصبه وؤنومنصوب به وی، اوکه عامل جارّه وؤ نو مجرور به وی. اوکه عامل نه وؤ نو دابه مبنی برسکون وی لکه"رَسُوْلُ اللّٰہِ"

سوال: "رَسُوْلُ " خو مرفوع دے؟

جواب: دا رفع غلطه مشهوره شوے ده، اوقاعده داده چه غلط مشهور دَصحیح غیرمشهور نه قوی وی، نو دَدی قاعدے په بناءباندی دامرفوع وئیلے کیږی، اوجزء ثانی دَدی به همیشه مجروروی لکه "بَيْتُ اللّٰهِ" (کچرے داخبر دَمبتداء محذوف دپاره اوګرځولے شی یا مبتداء محذوف الخبراوګرځولے شی نودابه غوره وی)۔

قواعد دَ مرکب اضافی

قاعده(۱) هرکله چه دوه اسمونه یوځائے راشی په اول باندے الف لام نه وی اودویم باندے الف لام وی نودابه اکثر مضاف، مضاف الیه وی یعنی مرکب اضافی به وی، مثال لکه "رَبُّ الْعَالَمِيْنَ، كِتَابُ اللهِ، كِتَابُ الصَّلٰوةِ" ۔

دغه شان کله چه دری اسمونه راشی اوپه دریم اسم باندے الف لام وی اوپه مخکنو دوؤ اسمونو باندی نه وی نو مرکب اضافی به وی، مثال "بَابُ صلوةِ الْجُمُعَةِ" دارنګے دَ پنځه اسمونو پورے دا قاعده چلیږی، د ؟ څلورو اسمونو مثال "مَعْرِفَةُ مِقْدَارِ رَأْسِ الْمَالِ" اودَ پنځو اسمونو مثال "بَابُ مُتَابَعَةِ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ" ۔

قاعده(۲) هرکله چه دوه اسمونه راشی او دویم اسم ضمیر وی نو دا به مرکب اضافی وی مثال "غُلَامُهٗ "داهم دَ پنځه اسمونو پورے راځی، دَ دریو اسمونومثال "لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا" دَڅلورو اسمونو مثال "وَكَيْفِيَّةُ تَرْكِيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ" دَپنځه اسمونو مثال لکه شرح مأة عامل کښی راځی "جَمِيْعُ مُدَّةِ عَدَمِ رُؤْيَتِیْ" ۔

قاعده(۳)هرکله چه دوه اسمونه راشی اودویم اسم اسم اشاره وی نو داهم مرکب اضافی وی لکه "بِاَسْمَاءِ هٰؤُلَاءِ، وَمَكْرُ اُوْلٰئِکَ "داهم دَ خلورو اسمونو پورے راځی۔

دَ خلورو اسمونو مثال لکه "بَيَانُ اِعْتِبَارِ صِفَّةِ ذَالِکَ الْجُزْءِ"۔

قاعده(۴)دَ دریو نه واخله تر لسو پورے اعداد، او"مأَةٌ"او"الفٌ" دا اعداد همیشه خپل تمیز طرف ته مضاف وی امثله: "ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ، اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ، سَبْعَةَ اَيَّامٍ، تِسْعَةَ رَهْطٍ،مأَةَ عَامٍ، اَلْفَ سَنَةٍ،"۔

قاعده(۵)هر کله چه "مَا"او "مَنْ"نه مخکښے یو اسم بغیر دَ الف لام نه راشی نودغه به مضاف اومضاف الیه وی لکه "جَزَاءُ مَنْ تَزَكّٰی، بِمَوْتِ مَالَادَمَّ فِيْهِ" ۔

اومعنوی علامت: دَاضافت داده چه په پښتو کښی دَدی په ترجمه کښی لفظ " دَ" یا لفظ "زما " یا لفظ "ستا " راځی لکه "بَيْتُ اللّٰهِ" کور دَ الله، "غُلَامِي " غلام زما، "غُلَامُکَ " غلام ستا۔

دویم قسم: دَمرکب غیرمفید مرکب بنائی دے،مرکب بنائی دیته وایئ چه دوه اسمونه یوځائے کړے اودیکښی نسبت اضافی اواسنادی نه وی اودویم جزء متضمن حرف لره وی،لکه اَحَدَ عَشَرَ نه واخله تر تِسْعَةَ عَشَرَ پورے،ددی دوه اجزاء دی لیکن ددی دَاجزاءنومونه نشته۔

اعراب دَاجزاء دَمرکب بنائی: دَدی دواړه اجزاء مبنی برفتحه وی سِوا دَاثناعشر نه۔

دلته کښی شپږ سوالات دی

دَ دریو تعلق دَ اول جزء سره دے، او دَ ریو تعلق دَدویم جزء سره دے۔

سوالات دَ اول جزء

سوال(۱) اول جزء دَدی نفس مبنی ولے دے؟

سوال(۲) مبنی برحرکت ولے دے؟

سوال(۳) په حرکت دَفتحے سره ولے دے؟

الجواب عن الاول: نفس مبنی خوځکه دے چه دَجزء اول آخر په اوسط کښی واقع شوے دے۔

الجواب عن الثانی: اومبنی برحرکت سره ځکه دےچه بناء دَدی عارضی ده۔

الجواب عن الثالث: اوپه حرکت دَفتحے سره ځکه دےچه فتحه اخف الحرکات ده۔

سوالات دَ دویم جزء

سوال(۱) دویم جزء نفس مبنی ولے دے؟

سوال(۲) مبنی برحرکت ولے دے حالانکه اصل په بناء کښی سکون دے؟

سوال(۳) مبنی برحرکت دَ فتحے سره ولے دے؟

الجواب عن الاول: نفس مبنی ځکه دے چه دامتضمن دے حرف لره.

الجواب عن الثانی: په حرکت سره ځکه دے چه بناء ددی عارضی ده.

الجواب عن الثالث: اوپه حرکت دَ فتحے سره مُبنی څکه دے چه فتحه اخف الحرکت ده۔

علاوه دَ "اِثْنَاعَشَرَ" نه ځکه چه دَ دی اول جزء معرب دے، دا په اصل کښی اثنانِ وو، او اثنانِ لفظاً اومعناً دَ تثنیے سره مشابه دے۔

دریم قسم: مرکب منع صرف دے۔

مرکب منع صرف:دیته وایئ چه دوه اسمونه یوځائے کړی اودی کښی نسبت اضافی یااسنادی نه وی، اوثانی اسم څه حرف لره متضمن هم نه وی، اوچه دَ ترکیب نه مخکښے کومه معنی وی نو روستوهغه معنی باقی هم نه وی پاتی شوی.لکه "بَعْلَبَکَّ" بَعْلَ دَبت نوم دے، اوبَکَّ دَبادشاه نوم دے،نو دَترکیب نه روستودا دَ یوخارنوم گرځیدلے دے۔

اسماء الاجزاء: دَدی هم اجزاء شته خونومونه یئ نشته۔

اعراب دَ مرکب منع الصرف

اول جزء ددی به مبنی برفتحه وی اودویم جز دَقول مشهور مطابق معرب غیرمنصرف دے۔

اول جزء یئ مبنی برفتحه ځکه دے چه دادرمیان کښی واقع شوے دے، اودویم جزء یئ معرب غیرمنصرف ځکه دے چه دی کښی دَغیرمنصرف کیدو دوه اسباب دی یوترکیب اودویم علمیت، اوغیر منصرف باندے ټول اعرابات جاری کیږی علاوه دَتنوین اوجر نه۔

اودویم مذهب دادے چه دواړه اجزاء معرب دی اول مضاف اودویم مضاف الیه ده. اودریم مذهب دادے چه دواړه اجزاء ددی معرب دی لیکن اول جزء مضاف اودویم جزء مضاف الیه غیر منصرف دے۔

اوعندالاکثراول جزء مبنی برفتحه وی کچرے ماقبل آخر حرف صحیح وی لکه بَعْلَبَکَّ، او کچرے حرف علت وو نو بیا به مبنی بر سکون وی لکه "مَعْدِیْکَرَبَ "اوجزء ثانی ددے معرب غیرمنصرف وی۔

خلورم قسم: مرکب توصیفی دے۔

مرکب توصیفی: دیته وایئ چه جزء اول یئ موصوف وی اوجزء ثانی یئ صفت وی موصوف ذات ته وایئ اوصفت ددے حالت ته وایئ لکه "رَجُلٌ عَالِمٌ "۔

اسماءالاجزاء: دَدی جزء اول ته موصوف اوجزء ثانی ته صفت وایئ.

اعراب دَاجزاء دَمرکب توصیفی. دَدی اعراب یعنی دَجزء اول اعراب دَ عامل په اعتبار سره وی، که ماقبل عامل رافع وو نو مرفوع به وی، اوکه ماقبل عامل ناصب وو نومنصوب به وی، اوکه ماقبل عامل جارّه وونو مجرور به وی، مثال "جَاءَ رَجَلٌ عَالِمٌ،رَأَیْتُ رَجُلاً عَالِماً، مَرَرْتُ بِرَجُلٍ عَالِمٍ "، اوجزء ثانی چه صفت دے داپه اعراب کے دَ موصوف تابع وی۔

قاعده(۱) هرکله چه دوه اسمونه راشي اودواړه معرفے وی یادواړه نکرے وی نو دا به مرکب توصیفي وی، دَ معرفے مثال لکه "مُحَمَّدُنِ الْمُصْطَفَی" اودَنکرے مثال لکه "رَجُلٌ عَالِمٌ"

قاعده(۲) هرکله چه دَ نکرے نه روستو ظرف مستقر راشي،او یا داسے فعل راشي چه په هغی کښې معنی دَ طلب نه وی نودابه موصوف صفت وی، مثال دَ ظرف مستقر لکه " کِتَابٌ مِنْ عِنْدِاللهِ" مثال دَ فعل لکه "حُرُوْفٌ تَجُرُّ الْاِسْمَ " ۔

قاعده(۳) هرکله چه دری یا څلور یا پنځه اسمونه یوځائے داسے راشي چه اولنی باندی الف لام وی نو اول اسم به یئ موصوف وی اوباقی به یئ صفت وی مثال "بِسْمِ اللهِ الْرَّحْمٰنِ الْرَّحِیْمِ". دا دَ دریو مثال شو. "هُوَ اللهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ" دا دَ څلورومثال شو. او "اَلْحَجُّ وَاجِبٌ عَلَى الْاَحْرَارِ الْمُسْلِمِيْنَ الْبَالِغِيْنَ الْعُقَلَاءِ الْاَصِحَّاءِ" دا دَ پنځه وو مثال شو۔

قاعده(۴) هرکله چه دَ اسم موصول نه مخکښے یواسم الف لام والا راشي نودا به ترکیب توصیفي وی لکه "هُدًى لِلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ" ۔

قاعده(۵) هرکله چه دَ اسم اشارے نه روستو یو اسم الف لام والا راشي نو دابه موصوف صفت وی مثال "رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ، رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ" ۔

اومعنوی: علامه یئ دا ده چه په پښتو کښې به یئ په معنی کښې "هسے" یا "داسے" لفظ راځی۔

نوټ: مرکب توصيفي کښې موافقت دَ لسو څيزونو ضروري دے چه دَ هغې بيان روستو راروان دے۔

پنځم قسم: دَغيرمفيد،مرکب صوتي دے۔

مرکب صوتي: ديته وايئ چه دوو اسمونو لره يوځائے کړے شي او دويم اسم ېئ صوت وي لکه "سِيْبَوَيْه" ۔

اسماء الاجزاء: ددې دوه اجزاء دي اول سيب او دويم ويه، ليکن دَدې اجزاء نومونه هم نشته۔

اعراب داجزاء دَمرکب صوتي: جزء اول به مبني برسکون وي ځکه چه دَجزء اول آخر په اوسط کښې واقع شوے دے، اوجزءآخرېئ هم مبني برسکون دے ځکه چه دا صوت دے،او اسمائے اصوات دَ مبنياتو نه دي۔

سوال: چه دَ مرکب غير مفيد نه فائده نه حاصليږي لکه څنګه چه دَ تعريف ددې نه معلوميږي، نودَ دې ذکرکولوته بياځه ضرورت دے؟

الجواب: کم ازکم جزء دَ جملے خوواقع کيږي کنه،دَ جملے په اجزاء کښے درې اجزاء دا واقع کيږي. کله مبتداء واقع کيږي لکه "حَجُّ الْبَيْتِ فَرْضٌ" اوکله خبر واقع کيږي لکه "مُحَمَّدٌرَّسُوْلُ اللهِ" اوکله فاعل واقع کيږي لکه "قَامَ عَبْدُاللهِ" ۔

اجراء اؤمشق

غُلَامُ زَيْدٍ:لفظ،موضوع،مرکب،مرکبِ غيرِمفيد، غيرِتام، غيرِاسنادي، غيرِکلامي،مرکبِ ناقص،مرکبِ اضافي۔

"اَحَدَعَشَرَ،حَضْرَمَوْتَ،سِیْبَوَیْہِ،رَجُلٌ عَالِمٌ۔

فصل۲اقسام دَجملے باعتبار ذات وصفت

په اعتبار دَ صفت سره دَ جملے شپږ اقسام دی۔

(۱)مبیِّنه (۲)معلِله (۳)معترِضه (۴)مستانِفه (۵)حالِیه (۶)معطوفه۔

(۱)جمله مبیِّنه:جمله مبیّنه هغه جملے ته وایئ چه هغه دَ اولے جملے تفسیر اووضاحت اوکړی، لکه"الکلمةُ علی ثلاثةِ اقسامٍ، اسمٌ وفعلٌ وحرفٌ"اوس په دے مثال کښی اولے جملے مطلب واضح نه وو نو دویمے جملے دَهغی وضاحت اوکړو چه هغه اسم اوفعل اوحرف دے۔

(۲) جمله معلله: جمله معلله هغه جملے ته وایئ چه دَ اولے جملے علت بیان کړی، لکه حدیث شریف کښی راځی "لَاتَصُوْمُوْا فِیْ هٰذِهِ الْاَیَّامِ فَاِنَّهَا اَیَّامُ اَکْلٍ وَشُرْبٍ وَبِعَالٍ"اوس "فانّها ایام اکل وشربٍ وبعالٍ" دی جملے دَ مخکښی جملے علت بیان کړو۔

(۳)جمله معترضه: جمله معترضه هغه جملے ته وایئ چه هغه په درمیان دَ کلامینو کښی واقع شی بغیر دَربط دَ ماقبل اومابعدنه لکه"قَالَ اَبُوْحَنِیْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اَلنِّیَّةُ فِیْ الْوُضُوْءِلَیْسَتْ بِشَرْطٍ" پدی مثال کښی "رَحِمَهُ اللهُ"جمله معترضه ده چه دَ مابعد اوماقبل سره دَدی څه تعلق نشه۔

(۴)جمله مستانفه: جمله مستانفه هغه جملے ته وایئ چه دَهغی نه نوے کلام شروع شی لکه "اَلْکَلِمَةُ عَلیٰ ثَلَاثَةِ اَقْسَامٍ" او دیته جمله ابتدائیه هم وایئ۔

(۵)جمله حالیه: جمله حالیه دیته وایئ چه هغه حال واقع شی لکه "جَاءَ نِیْ زَیْدٌ وَهُوَرَاکِبٌ" داجمله حال واقع شوے ده۔

(۶)جمله معطوفه: جمله معطوفه هغه جملے ته وایئ چه هغه په اوله جمله باندے عطف وی لکه"جَاءَ نِیْ زَیْدٌوَ ذَهَبَ عَمْرٌو"،نو"ذَهَبَ عَمْرٌو"په جاءنی باندی عطف ده الخ۔

فائده: هیڅ یوه جمله دَ دُوؤ کلمو نه کمه نه وی۔

فائده: کله چه په یوه جمله کښی دَ دُوؤنه کلمات زیات شی نوهلته دَ مسند او مسند الیه د ؟پهچان دَ پاره څلور خبری پیژندل ضروری دی.
(۱) دَاسم،فعل،حرف پیژندل (۲)معرب،مبنی(۳)عامل،معمول (۴) دَ کلماتو په خپل مینځ کښی تعلق چه دامبتداء،خبردی اوکه فعل، فاعل دی نو ددی وجه نه مصنف اوس دَ اسم فعل اوحرف علامات ذکر کوی۔

فصل۳ دَ اسم، فعل او دَ حرف علامات

علامات دَاسم:دَاسم علامات په دوه قسمه دی(۱) لفظی (۲) معنوی

لفظی علامات: دَاسم دولس دی چه یولس تری یوشاعر په شعر کښی جمع کړی د ی ـ

لام وتنوین حرف جر مسند الیه منسوب بدان

پس مصغر مثنی مجموع مضاف را بخوان
نیزتائے متحرکه موصوف علامات اسم دان
نظم کردم آنچه دیدم در کتب نحو یان
اودولسم حرف نداء دے۔
دَکتاب دَ ترتیب په اعتبار سره
(۱)الف لام دے مثال لکه " اَلْحَمْدُ " ۔
(۲)تنوین دے مثال لکه"زَیْدٌ" ۔
(۳)حرف جردے مثال لکه"بِزَیْدٍ" ۔
حروف جارّه بیاټول اوولس دی چه یو شاعر په شعرکښی جمع کړی دی۔
باو تاء کاف و لام واو و منذ ومذ خلا
ربّ حاشا من عدا فی عن علی حتّی اِلی
(۴)مسند الیه، مثال "زیدٌ قائمٌ " ۔
(۵)اسم منسوب یعنی دَ دی په آخر کښی یاء نسبتی لیږدلی وی، مثال "بَغْدَادِیٌّ" یالکه "پَاکِسْتَانِیٌّ" ۔
(۶)علامه تصغیرده، تصغیر په لغت کښی وړوکی کولوته وایئ، اوپه اصطلاح کښی تصغیر هغه اسم ته وایئ چه په هغه کښی داسی تغیر اوکړے شی چه په هغه کښی معنی دَ تعظیم یادَتحقیر یا دَ شفقت وی مثال دَ تعظیم لکه "قُرَیْشٌ" تصغیر دَ قَرْشٌ دے اوقرش هغه مهی ته وایئ چه هغه په ټولو مهیانو باندی غالب وی، دَ دی دَ مناسبت دَ وجی

نه قریش دَ یوی قبیلی نوم کیخودلےشوچه دا قبیله په نورو ټولو قبیلو باندے غالبه وه. مثال دَ تحقیر "رُجَيْلٌ" . دَ شفقت مثال "بُنَيَّ" ـ

(۷)تثنيه مثال "رَجُلَانِ"(۸)جمع مثال "رِجَالٌ" ـ

اعتراض: تاداذکرکړل چه تثنيه اوجمع علامه دَاسم ده نوتثنيه اوجمع خوفعل هم راځی لکه "نَصَرَا"او"نَصَرُوْا"

جواب: دادے چه تثنيه او جمع صرف علامات دَاسم دی،فعل تثنيه اوجمع نه وی نو په "نَصَرَا"او"نَصَرُوْا" کښی فعل صرف "نَصَرَ" دے، اوتثنيه اوجمع کيدل دَدی په اعتبار دَ ضمائرو سره دے، نو دی ضمائرو دَوجے نه ديته تثنيه اوجمع وايئ۔

(۹)علامه دَاسم مضاف ده مثال لکه "غُلَامُ زَيْدٍ" ـ

(۱۰)علامه دَاسم تائےمتحرکه ده مثال لکه "ضَارِبَةٌ" ـ

(۱۱)علامه دَاسم موصوف ده مثال لکه "رَجُلٌ عَالِمٌ" ـ

(۱۲) علامه دَ اسم حرف نداء ده مثال لکه "يَازَيْدُ" ـ

معنوی علامات دَاسم پنځلس دی

(۱)معرفه کيدل (۲)نکره کيدل (۳)مذکرکيدل (۴)مؤنث کيدل(۵) منصرف (۶)مستثنیٰ (۷) مستثنی منه (۸)غير منصرف (۹)فاعل (۱۰)مفعول به (۱۱)منادی (۱۲)ذوالحال (۱۳)مکبّر (۱۴) يادَخه ځيزنوم وی لکه "مَکَّةٌ، مَدِيْنَةٌ، فَاطِمَةُ"(۱۵) دَ حروف مشبه بالفعل، دَ افعال ناقصهُ ، لائے نفی جنس اودَ ما ولا مبشبهتين بليس اسم کيدل. داټول دَاِسْم معنوی علامات دی۔

علامات دَفعل

دَفعل هم دوه قسمه علامات دی (۱)لفظی (۲)معنوی۔

لفظی علامات: دَفعل آته دی، دا یوشاعر په شعر کښې ذکرکړی دی۔

سین وسوف جازمہ قدتائے ساکنہ امر داں

اتصال تاء فعلت نهی علامت فعل داں

امثله:(۱)چه په شروع کښې لفظ "قَدْ"وی لکه "قَدْضَرَبَ" ۔

(۲)چه په شروع کښې لفظ"سِیْن"وی لکه "سَیَضْرِبُ" ۔

(۳)چه په شروع کښې یئ لفظ"سَوْفَ" وی لکه "سَوْفَ یَضْرِبُ"۔

(۴)چه په شروع کښې حرف جازم وی لکه "لَمْ یَضْرِبْ" ۔

(۵)چه په آخر کښې یئ تاء ساکنه وی لکه "ضربَتْ" ۔

(۶)چه په آخر کښې یئ ضمیر مرفوع متصل بارز وی لکه "ضربتَ،ضربتِ،ضربتُ" ۔

(۷)چه امر وی لکه "اِضْرِبْ" ۔

(۸)دغه شان نهی وی لکه "لَاتَضْرِبْ" ۔

معنوی علامات دَفعل:(۱)ماضی: مثال ضَرَبَ(۲)مضارع: مثال یَضْرِبُ (۳)چه په آخرکښې یئ نون تاکید ثقیله وی لکه"لَیَضْرِبَنَّ" (۴)دغه شان نون خفیفه وی لکه"لَیَضْرِبَنْ "(۵)چه په شروع کښې یئ دَحروف نواصبونه یوحرف وی لکه "لَنْ یَّضْرِبَ" ۔

علامات دَ حرف

دَحرف علامه داده چه په هغی کښی دَاسم اوفعل دَعلامه نه وی لکه شاعر په یوشعر کی ذکرکړی دی ــ

در حرف هرگز نبا شد اے عزیز
از علامات اسم وفعل هیچ چیز

اعتراض: تامخکښی ذکرکړل چه هیڅ یو جمله به دَ دُوؤ کلمونه کمه نه وی نوزه به درته اوښایم چه کلمه به یوه وی اوجمله به وی لکه "اِضْرِبْ " ـ

جواب: جمله عامه ده، لفظاً وی او که تقدیراًوی،دَ لفظاً مثال لکه "ضَرَبَ زَیْدٌ" اودَ تقدیراًمثال لکه"اِضرِبْ "په دیکښی ضمیر مستتر دے چه تعبیر ترینه په "اَنْتَ" سره کیږی۔

مشق او اِجراء

اَلْحَمْدُ لفظ موضوع مفرد اسمِ مصدر،علامه دَاسم دخول دَ الف لام،
اَلْقُرْآنُ،الْصِرَاطُ،الجَنَّةُ،الکَعْبَةُ۔
رَزَقْنَا،خَتَمَ،یُخَادِعُوْنَ،یَکْذِبُوْنَ۔ قَدْ،عَلَی،فِیْ،مَا۔

فصل ۴ معرب، مبنی

مونږ ذکر کړی وو چه کله په کلام کښی کلمات دَ دووو نه زیات شی نو هلته به دَمسند اومسند الیه دَپیژندګلو دَپاره دَخلوروخبروپیژندل ضروری وی۔

(۱)دَ اسم،فعل اوحرف پیژندل، نود ؟هغی تفصیل اوشو مخکښې۔
(۲)معرب او مبنی پیژندل، نو اوس دَ معرب اومبنی تعریفات او اقسام ذکر کوو۔

اسم په اعتبار دَمعرب اومبنی سره یاپه اعتبار دَاِعراب اوبناء سره په دوه قسمه دے(۱)معرب (۲)مبنی۔

تعریف دَ معرب: معرب هغه اسم ته وایئ چه آخر دَ دے په اختلاف دَعواملوسره بدلیږی مثال لکه"جَاءَ زَیْدٌ، رَاَیْتُ زَیْداً، مَرَرْتُ بِزَیْدٍ" ۔

تعریف دَمبنی: مبنی هغه اسم ته وایئ چه آخر دَدی په اختلاف دَ عواملو سره نه بدلیږی مثال لکه "جَاءَ هٰؤُلَاءِ، رَاَیْتُ هٰؤُلَاءِ، مَرَرْتُ بِهٰؤُلَاءِ" ۔

دَ معرب او دَ مبنی تعریف یوشاعر په شعر کښې ذکرکړے دے۔
مبنی آں باشد که ماند بر قرار: معرب آں باشد که گردد باربار

تنبیه: دا اصل کښې دَ معرب اومبنی حکم دے، دی کتاب کښې دَ پوهے دَپاره داسے تعبیر یئ ترینه کړے دے. اصل دَمعرب تعریف صاحب دَ کافیه ذکر کړے دے هغه دادے.

"فالمعربُ المرکب الذی لم یشبه مبنی الاصل" ۔

تعریف دَمبنی "فالمبنی ماناسب مبنی الاصل او وقع غیرمرکب"

فائده: چرته چه معرب وی نوهلته څلوراشیاء وی۔
(۱)عامل (۲)معرب (۳)اعراب (۴)محل اعراب۔

مثال کښې اجراء: لکه "جَاءَنِيْ زَيْدٌ" کښې "جَاءَ" عامل دے "زَيْدٌ" معمول اومعرب دے او "دال" محل دَاعراب دے، اوضمه ته اعراب وایئ۔

اقسام المعرب والمبنی

مبنی په شپږقسمه ده، اومعرب په دوه قسمه دے۔ اوس دا دَ کلمے دَ دریو اقسامونه مونږ را ا ⍰باسو، هغه داسے چه په کلام دَعربو کښې دَ کلمے دری اقسام دی۔ (۱)اسم (۲)فعل (۳) حرف۔

حروف ټول مبنی دی، دَ کلمے هم یوقسم لاړو اودَمبنی هم یوقسم پوره شو۔

دَ کلمے دویم قسم فعل دے،فعل په دری قسمه دے(۱)ماضی (۲)مضارع (۳)امر. نوماضی او امرِحاضرهم مبنی دی، نودَ مبنی دری قسمونه لاړل،ا ودَفعل مضارع هغه صیغے چه نون تاکید او نون جمع مؤنث ورسره پیوست وی داهم مبنی دی،نودَمبنی څلوراقسام پوره شو.

بیا دَ کلمی دریم قسم اسم دےاسم په دوه قسمه دے.

(۱)اسم متمکن (۲)اسم غیرمتمکن. نواسم غیرمتمکن هم مبنی دے، نو دَ مبنی پنځه اقسام پوره شول۔

بیا اسم متمکن به په ترکیب کښې واقع وی یابه نه وی،که واقع نه وو نودا هم مبنی شو، نو دَ مبنی شپږ اقسام پوره شو۔

اومعرب دوه اشیاء دی(۱)اسم متمکن چه په ترکیب کښې واقع وی.

(۲)دَفعل مضارع هغه صيغے چه نون دَ جمع مؤنث او نون د ؟تاکيد مباشرنه خالي وی۔

فائده: نون تاکيد مباشر هغه ته وايئ چه دَ فعل دَ لام کلمے او دَ نون دَ تاکيد په درميان کښې فصل نه وی مثال "اِضْرِبَنَّ "او "اِضْرِبَنْ " ۔

غيرمباشرچه دَ نون تاکيد او دَ فعل دَ لام کلمه کښې فصل وی لکه "لَاتَضْرِبُنّ، لَا تَضْرِبِنّ " په اصل کښې "لَا تَضْرِبُوْنَّ لَا تَضْرِبِيْنَّ " وو۔

بيا اسم په دوه قسمه دے (۱)اسم متمکن (۲)اسم غير متمکن۔

اسم متمکن:هغه اسم ته وائي چه دَمبنی الاصل سره مشابهت نه ساتی.

اسم غيرمتمکن: هغه اسم ته وايئ چه مبنی الاصل سره مشابهت ساتی. بيا مشابهت په آته قسمه دے۔

(۱)مشابهت افتقاری (۲)مشابهت وضعی (۳)مشابهت وقوعی (۴)مشابهت وقوعی شبهی (۵) مشابهت شبهی وقوعی (۶) مشابهت معنوی (۷) مشابهت بنائی (۸) مشابهت اضافی۔

(۱)**مشابهت افتقاری:** ديته وايئ چه يواسم په معنی ورکولو کښې دَحرف پشان دويمے کلمے ته محتاج وی لکه اسماء مضمرات،اسماء اشارات،اسماء موصولات۔

(۲) مشابهت وضعی ديته وائي چه يو اسم دَمبنی الاصل شکل خپل کړی لکه "مَنْ"او"مَا"اسم دی، دوئ دَمبنی الاصل شکل خپل کړے دے چه هغه"هَلْ"او"قَدْ "دے۔

(۳) مشابهت وقوعی دیته وایئ چه یو اسم دَمبنی الاصل په ځائے باندے واقع وی لکه "نَزَالِ"چه واقع دے دَ"اِنْزِلْ"او"تَرَاکِ دَ"اُتْرُکْ" مبنی الاصل په ځائے۔

(۴) مشابهت وقوعی شبهی دیته وائي چه یواسم واقع وی دَ داسے اسم په ځائے چه هغه اسم مشابه وی دَمبنی الاصل سره لکه "یَازَیْدُ" کښی "زَیْد"دَ "اَدْعُوْکَ" دَ "کاف"په ځائے باندے واقع دے،اوکاف دَ "اَدْعُوْکَ" دَ کاف حرفی سره مشابه دے۔

(۵)مشابهت شبهی وقوعی دیته وایئ چه یواسم مشابه یاهَم وزن وی دَ داسے اسم سره چه هغه اسم واقع وی دَمبنی الاصل په ځائے لکه "فُجَارِ"مشابه دےدَ"نَزَالِ"سره او"نَزَالِ"واقع دےدَمبنی الاصل په ځائے.

(۶)مشابهت معنوی دیته وایئ چه یو اسم دَمبنی الاصل په معنی وی لکه اسماء افعال،چه بعض دَماضی په معنی دی، او بعض دَ امر په معنی دی۔

اسماء افعال: په معنی دَ ماضی لکه "هَیْهَاتَ " بمعنی بَعُدَ او"شَتَّانَ" بمعنی اِفْتَرَقَ۔

اسماء افعال: په معنی دَ امر حاضر لکه "رُوَیْدَ" بمعنی "اَمْهِلْ" او "بَلْهَ" بمعنی دَعْ۔

(۷)مشابهت بنائی یاتضمنی دیته وایئ چه یواسم متضمن وی دَمبنی الاصل معنی لره یالفظ لره لکه "اَحَدَ عَشَرَ" یا "اَیْنَ" ۔

(۸)مشابهت اضافي ديته وايئ چه يو اسم مبنى الاصل ته مضاف وى بالواسطه يا بلا واسطه. بالواسطه مثال لكه "يَوْمَئِذٍ"اوبلاواسطه مثال "يَوْمَ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ" ـ

مشق اؤاجراء

(1)جَاءَزَيْدٌ:جَاءَ لفظ،موضوع، مفرد(واحدمزكرغائب فعلِ ماضى معلوم)،زَيْدٌ لفظ،موضوع،مفرد،اسمِ جامد،اسمِ معرب
ضَرَبَ: لفظ، موضوع، مفرد (واحد مزكر غائب فعلِ ماضى معلوم) مبنى، مبنى الاصل ـ

فصل ۵ اقسام دَ اسم غيرمتمكن

بيا دَ اسم غير متمكن آته اقسام دى ـ
(۱)مضمرات (۲)اسمائےاشارات (۳)اسمائے موصولات (۴) اسمائے افعال (۵)اسمائے اصوات (۶)اسمائے ظروف (۷) اسمائےكنايات (۸)مركب بنائى ـ

بحث دَ مضمراتُ

(۱)**مضمرات:** دَ مضمر جمع ده، مضمر او ضمير يوخيزدے. په لغت كښى پوشيده ته وايئ، اوپه اصطلاح دَخلقو كښى زړه ته ضمير وايئ څكه چه داپټ وى ـ

اوپه اصطلاح دَ نحاتو کښې ضمیر "ما وُضِعَ لمتکلم اومخاطب اوغائب قد تقدّم ذکره لفظًا اومعناً اوحکماً " ته وایئ۔

بیاضمیر په اعتباردَذات سره په درې قسمه دے۔

(۱)متکلم (۲)مخاطب (۳)غائب۔

بیاپه دې کښې دَغائب ضمائرو دَپاره مرجع ضروري وي. دَ مرجع درې اقسام دي(۱) مرجع لفظي (۲) مرجع معنوي (۳) مرجع حکمي۔

مرجع لفظي: هغه ته وایئ چه هغه ماقبل کلام کښې صراحةً موجود وي لکه "ضَرَبَ زَیْدٌغُلَامَهُ " ۔

مرجع معنوي: هغه ته وایئ چه په ماقبل کلام کښې ضمناً موجود وي لکه "اِعْدِلُوْاهُوَاَقْرَبُ لِلْتَقْوٰی"پدے مثال کې"هُوَ" ضمیر عدل ته راجع دے کوم چه دَ "اعدلوا"په ضمن کې دےځکه چه قانون دادے چه په هرمشتقي کښې خپله مبداء(مصدر) وي۔

مرجع حکمي: هغه ته وایئ چه ماقبل دَدې نه صراحةً مذکوروي اونه ضمناً، بلکه معهود فی الذهن وي لکه "قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ" اوس دلته کښې"هُوَ"ضمیرالله تعالی ته راجع دے چه نه صراحةً اونه ضمناًمذکور دے، بلکه دَمتکلم چه نبي ﷺ دےدَهغه په ذهن کښې موجود دے چه هغه الله تعالی دے۔

فائده: دَ راجع اومرجع په مینځ کښې مطابقت په پنځه څیزونو کښې ضروري دے (۱)افراد(۲)تثنیه(۳)جمع(۴)تذکیر (۵)تانیث۔

مونږ مخکښې ذکر کړل چه ضمير باعتبار الذات په درې قسمه دے
(۱)متکلم(۲)مخاطب (۳)غائب۔
دغه شان په اعتبار دَمحل دَ اعراب سره هم په درې قسمه دے۔
(۱)مرفوع (۲)منصوب (۳)مجرور۔
اوپه اعتبار دَعامل سره په دوه قسمه دے(۱)متصل (۲)منفصل۔
دغه شان ضمائر په دريوطريقوباندے تقسيميږی (۱) عقلاً (۲) قياساً
(۳)صورتاً۔
عقلاً دَضمائرو تعداد (۹۰)دے، قياساً دَ ضمائرو تعداد (۷۰)دے، او
صورتاًدَ ؟ ضمائرو تعداد (۶۰)دی۔
عقلاً ضمائر (۹۰)داسے جوړيږی چه ضمير خوبه يا دَ مخاطب وی
يادَغائب وی يادَ متکلم وی، بياهر يو دَ دی نه يابه واحد وی يابه تثنيه
يا به جمع وی، نو ټول نهه (۹) شو، يعنی په مخاطب کښې واحد
مخاطب، تثنيه مخاطب، جمع مخاطب. په غائب کښې واحد غائب،
تثنيه غائب،جمع غائب. په متکلم کښې واحد متکلم،تثنيه متکلم
اوجمع متکلم۔
بياهريو دَ دی نه يابه مذکر وی يابه مؤنث وی. نو(۹)له چه دُوو کښې
ضرب ورکړے نو داټول اته لس (۱۸) ضمائر شو۔
اوس په دی اتلس ضمائرو کښې هر يو ضمير يابه مرفوع متصل وی
يابه مرفوع منفصل وی يابه منصوب متصل وی يابه منصوب منفصل

وی یابه مجرور متصل وی. نو اتلس لره په پنځؤوکښی ضرب ورکړو نو لس کم سل جوړیږی۔

قیاسًا ضمائر: (۷۰) داسے جوړیږی چه مونږ دَمتکلم شپږ ضمائرو کښی واحد مذکر متکلم او واحده مؤنثه متکلمه لره یوکړل،صرف واحد متکلم ترینه جوړکړو نوپنځه شو، بیاتثنیه مذکر متکلمَین اوتثنیه مؤنث متکلمَتَین دِی دواړو لره حذف کړل، اوجمع مذکر متکلم اوجمع مؤنث متکلم لره هم یو کړل نو صرف متکلم مع الغیر ترینه جوړ شو۔

اوس اتلس ضمائرو نه څلور لرے کړه نو (۱۴)پاتی شو. بیاڅوارلس په آخری پنځه ضمائرو یعنی مرفوع متصل ومنفصل الخ لره ضرب ورکړه نوټول(۷۰) ضمائر شو۔

صورتاً ضمائر (۶۰) داسی جوړیږی چه په څوارلسوضمائروکښی ضمیر دَ تثنیه مذکر غائِبَین اوتثنیه مؤنث غائبَتَین دواړو شکل یووو یعنی هُمَا، دغه شان تثنیه مذکرمخاطِبَین اوتثنیه مؤنث مخاطبَتَین شکل هم یوشان وو یعنی اَنْتُمَا اوکُمَا نو باعتبار صورت مونږ په دی څلوروکښی دوه لری کړل نو دَڅوارلسو نه دولس پاتی شو،بیادولس ضمائرو لره مونږه په پنځؤو کښی ضرب ورکړونو(۶۰)جوړشول۔

اقسام دَ ضمائرو

مضمرات پنځه قسمه دی۔

(۱)مرفوع متصل(۲)مرفوع منفصل(۳)منصوب متصل(۴) منصوب منفصل(۵) مجرور متصل۔

(۱)**مرفوع متصل:** مُتصِل صیغه دَاسم فاعل دہ،دَ باب افتعال نه،په لغت کښې په معنی دَمیلاویدونکښې سره راځی، اوپه اصطلاح دَنحاتو کښې ضمیر مرفوع متصل هغه دے چه فاعل واقع شوے وی اومتصل وی دَعامل خپل سره۔

فائده: ضمیرمرفوع متصل به همیشه دَپاره فاعل یانائب فاعل وی، اومبتداء اوخبر نشی راتلے ځکه چه هلته اتصال نشی کیدےدَعامل خپل سره، ځکه چه اتصال امر لفظی دے اوپه مبتداء اوخبر کښې عامل معنوی دے نو دَعامل معنوی سره اتصال نشی کیدے۔

ضمیر مرفوع متصل داخوارلس دی

ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ۔

نوټ: ضمیر مرفوع متصل په دوه قسمه دے بارز او مستتر۔

(۱) **بارز:** هغه ته وایئ چه په هغی باندے تلفظ کیدے شی اودیته بارز ځکه وایئ چه بارِز صیغه دَ اسم فاعل ده، او ددی معنی ده ظاهریدونکښې، اوداهم ظاهر وی په لفظ کښې۔

(۲) **مستتر:** هغه ته وایئ چه په هغه باندی تلفظ نشی کیدے یعنی په الفاظو کښې،او په نظر نه راځی، اودیته مستتر ځکه وایئ چه مستتر

وایۍ پټیدونکښې ته اوداهم پټیدونکے دے ځکه چه ظاهر په لفظ کښې نشته۔

مستتر: بیاپه دوه قسمه دے جائز الاستتار او واجب الاستتار۔

(۱) **جائز الاستتار:** هغه ضمیر ته وایۍ چه کله پټ کله ښکاره وئیلے کیږی، او داپه ترکیب کښې فاعل یانائب فاعل واقع کیږی اوپه تمام اسماء مشتقاتوکښې ضمیر جائز الاستتار وی۔

(۲) **واجب الاستتار:** داهغه ضمیر دے چه همیشه پټ وئیلے کیږی او دا راځی په صیغه دَ واحد مذکر مخاطب اودَ متکلم په دواړو صیغو کښې بالاتفاق، اوپه صیغه دَ واحده مؤنث مخاطبه کښې راځی بالاختلاف، لیکن سوا دَ ماضی نه ځکه چه دَ ماضی په صیغو کښې ضمیر بارز وی، اودَ اختلاف مطلب دادے چه دَ جمهورو په نزد پدی یعنی " تَضْرِبِیْنَ " کښې یاء ضمیر بارز دے اودَ بعض صرفیانو په نزد پدیکښې ضمیر مستتر واجب الاستتاردے۔

(۲) **ضمیر مرفوع منفصل:** ضمیر مرفوع منفصل هغه ضمیر دے چه دَ خپل عامل نه جداوی، اوداپه ترکیب کښې همیشه مبتداء یاخبریانائب فاعل یا فاعل واقع کیږی اوداهم څورالس دی۔

"اَنَا، نَحْنُ،اَنْتَ، اَنْتُمَا، اَنْتُمْ، اَنْتِ، اَنْتُمَا، اَنْتُنَّ، هُوَ، هُمَا، هُمْ ،هِيَ، هُمَا، هُنَّ" ـ

(۳) **ضمیر منصوب متصل:** ضمیر منصوب متصل داهغه ضمیر دے چه دَ خپل عامل سره پیوسته وی او دا راځی روستودَ افعالو

اوحروف مشبه بالفعل اواسماء افعالو نه او دا په ترکیب کښې مفعول به اواسم دَ حروف مشبه بالفعل واقع کیږی۔

مثال دَ فعل: ضَرَبَنِیْ، ضَرَبَنَا، ضَرَبَکَ، ضَرَبَکُمَا، ضَرَبَکُمْ الخ.

مثال دَ حروف مشبه بالفعل: اِنَّنِیْ، اِنَّنَا، اِنَّکَ، اِنَّکُمَا، اِنَّکُمْ الخ.

مثال دَ اسماء افعال: رُوَیْدَنِی، رُوَیْدَنَا، رُوَیْدکَ، رُوَیْدکُمَا، الخ.

(۴) ضمیرمنصوب منفصل: دا هغه ضمیر دے چه دَ خپل عامل نه جداوی، اوپه ترکیب کښې مفعول به واقع کیږی اوداهم څوارلس دی۔

اِیَّایَ، اِیَّانَا، اِیَّاکَ، اِیَّاکُمَا، اِیَّاکُمْ، اِیَّاکِ، اِیَّاکُمَا، اِیَّاکُنَّ، اِیَّاهُ، اِیَّاهُمَا، اِیَّاهُمْ، اِیَّاهَا، اِیَّاهُمَا، اِیَّاهُنَّ۔

(۵) ضمیرمجرور متصل: هغه ضمیر دے چه دَ خپل عامل سره پیوسته وی، اوپه ترکیب کښې معمول دَعامل جارّه واقع شوے وی یا دَ وجه دَ حرف جارّه نه، او یا وجه دَ اضافت نه۔

مثال دَ حروف جارّه: لِیْ، لَنَا، لَکَ، لَکُمَا، لَکُمْ، لَکِ، لَکُمَا، لَکُنَّ، لَهُ، لَهُمَا،لَهُمْ،لَهَا،لَهُمَا، لَهُنَّ۔

مثال دَ اضافت: کِتَابِیْ، کِتَابُنَا، کِتَابُکَ، کِتَابُکُمَا، کِتَابُکُمْ، کِتَابُکِ، کِتَابُکُمَا، کِتَابُکُنَّ، کِتَابُهُ، کِتَابُهُمَا، کِتَابُهُمْ، کِتَابُهَا، کِتَابُهُمَا، کِتَابُهُنَّ۔

سوال: نحویان حضرات اول دَ متکلم بیا دَ مخاطب بیا دَغائب صیغې ذکرکوی،او صرفیان حضرات اول دَغائب بیا دَ مخاطب بیا دَ متکلم صیغې ذکرکوی دا ولې؟

جواب: صرفیان حضرات دَ کلمے دَ بناء نه بحث کوی اوپه بناءکښې اول غائب دے، دَغائب نه دَ مخاطب اومتکلم بناءکیږی،نودَ دی وجی صرفیان اول دَغائب صیغے ذکرکوی. اونحویان دَ کلمے دَ تعریف تنکیرنه بحث کوی نوچونکه په ضمائرو کښې ضمیر دَ متکلم اعرف المعارف وؤ بیا دَ مخاطب بیا دَ غائب، نو دَ دی وجی نه دلته اول دَ متکلم بیا دَ مخاطب اوبیا دَ غائب صیغے ذکرکوی۔

فائده: ضمائر ځکه مبنی دی چه دوئ مشابه دی دَ حروفو سره په احتیاج کښې۔

بحث دَ اسمائے موصوله

(۲)اسمائے موصوله: تعریف: "هُوَ اِسْمٌ یَحْتَاجُ اِلَی جُمْلَةٍ خَبرِیَّةٍ فِیْهَاضَمِیر یَعُودُ الیه". ترجمه: اسم موصول هغه اسم دے چه جمله خبریه طرف ته محتاج وی، اوپه دی کښې یو ضمیر وی چه هغه اسم موصول ته راجع کیږی۔

فائده: دغه جمله خبرئے ته صله وایئ، او دَ صله تعریف دادے"جملةٌ خبریةٌتُذکَرُ بعدالموصول لتُتِمَّ معناه"۔

نوټ: عائد اوموصول په مینځ کښې مطابقت په پنځه څیزنو کښې ضروری دے(۱)افراد (۲)تثنیه (۳)جمع (۴)تذکیر (۵)تانیث۔ لیکن دی مطابقت دَ پاره دا شرط دے چه داموصول به اسم عام نه وی۔

حکم:ددی دا دے چه اسم موصول بمع صله دَ جملے جز ءجوړیږی۔

اقسام دَ اسم موصول

دَ اسم موصول دوه اقسام دی (۱)اسم موصول خاصه (۲)اسم موصول مشترکه۔

اسم موصول خاصه: هغه ته وایئ چه دَ هغی معنی دَ څه خاص افرادو سره خاص وی لکه "اَلَّذِیْ" هغه یوسړے "اَلَّذَانِ اَلَّذَیْنِ" هغه دوه سړی "اَلَّذِیْنَ " هغه ډیرسړی "اَلَّتِیْ "هغه یوه ښځه "اَلَّتَانِ اَلَّتَیْنِ" هغه دوه ښځے "اَلَّاتِیْ وَالَّوَاتِیْ " هغه ډیرے ښځے۔

سوال:اسمائے موصوله خومبنی دی او تا دَ حالت رفعی دَپاره یوحالت اوحالت نصبی اوجری دَپاره دویم حالت بیان کړو، حالانکه مبنی خودَ اختلاف دَعواملو دَ وجی نه نه مختلف کیږی۔

الجواب: دا واضع داسے وضع کړی دی دَعامل دَ وجی نه دَدی دوه حالات نه دی۔

(۲)اسم موصول مشترکه: هغه ته وایئ چه دَ واحد ، تثنیه ،جمع ، مذکراو مؤنث په درمیان کښی مشترک وی.لکه "مَا،مَنْ،اَیٌّ،اَیَّةٌ " او هغه الف لام چه په اسم فاعل باندی داخل وی لکه "اَلْضَّارِبُ "نو دلته معنی ددے "اَلَّذِیْ ضَرَبَ " دے، اوهغه الف لام چه په اسم مفعول باندی داخل وے لکه"اَلْمَضْرُوْبُ "بمعنی "اَلَذِیْ ضُرِبَ" او "ذُوْ " چه کله په لغت دَ بنی طَیٌّ کښی مستعمل وی لکه "جَاءَ ذُوٌ ضَرَبَکَ" ای "اَلَّذِیْ ضَرَبَکَ " دغه شان په یوشعرکښی راځی،ع

"وَبِئْرِی ذُوْ حَفَرْتُ وَذُوْ طَوَیْتُ " بمعنی "الذی حفرتُ والذی طویتُ" ۔

"مَا" دا اکثر دَ غیر ذوی العقولُ دَپاره راځی لیکن کله کله دَ ذوی العقولُ دَپاره هم راځی لکه "وَالْسَّمَاءَ وَمَابَنَاهَا" ـ

"مَنْ" دا دَ پاره دَ ذوی العقولُ راځی لیکن کله کله دَ غیر ذوی العقولُ دَپاره هم راځی لکه "فَمِنْهُمْ مَنْ يَّمْشِيْ عَلَى بَطْنِهِ" ـ

"اَیٌّ" دا دَ مذکر دَ پاره راځی خواه که هغه واحد وی که تثنیه وی که جمع وی۔

"اَیَّةٌ" دا دَ مؤنث دَپاره مستعملیږی خواه که واحد وی که تثنیه وی که جمع وی۔ بیامصنف وایئ چه اَیَّةٌ او اَیٌّ معرب دی۔

سوال: اَیٌّ او اَیَّةٌ معرب دی نو دا بیا په مبنیاتوکښی ولے ذکرکړل؟

جواب(۱) دَ اَیٌّ و اَیَّةٌمعنی مبنی والاده، نو دَ دی وجے نه یئ داپه بحث دَ مبنیاتو کښی ذکرکړل، لهذا دیکښی شبه استعمالی ده۔

جواب(۲) دَ اَیٌّاو اَیَّةٌ دَپاره څلور حالات دی په دریوحالاتوکښی معرب دی اوپه یو حالت کښی مبنی دی۔

(۱)چه دواړه مضاف وی اوصدر د ؟صِلِي یئ هم مذکور وی لکه "اَيُّهُم هُو قائِمٌ" ـ

(۲)چه نه دواړه مضاف وی اونه یئ صدر دَصِلِه مذکور وی لکه "ایٌّ قائمٌ" ـ

(۳)چه دواړه مضاف نه وی لیکن صدر دَصِلِه مذکور وی لکه "اَیٌّ هُوَقَائِمٌ" ـ

نوټ: صدر دَ صلهِ دیته وایئ چه دَ اسم موصول نه روستو کومه جمله وی نو دَ هغی جملی اول ته صدر دَ کلام وایئ۔

(۴) چه دادواړه مضاف وی لیکن صدر صلهِ یئ مذکور نه وی لکه "اَیّهُمْ قَائِمٌ " ۔

نوپه اولنو دریو حالاتو کښی معرب دی، اوپه آخر ی څلورم حالت کښی مبنی دی، نودَ دی وجه نه یئ په مبنیاتوکښی ذکرکړل۔

سوال: اسمائے موصوله مبنی ولے دی؟

جواب: اسماء موصوله په احتیاج کښی دَ حروف سره په شبه افتقاری کښی مشابهه دی لکه څنګه چه حروف اسم او فعل ته محتاج دی نو دغه شان اسماء موصوله صلے ته محتاج دی، دغه شان ضمائرهم دی چه ضمیر مرجع ته محتاج وی۔

بحث دَ اسمائے اشارات

(۳)اسمائے اشارات: تعریف: "مَا وُضِعَ لِتَعِیْنِ المشار الیه" ترجمه: اسماء اشاره هغه ته وایئ چه دَمشارالیه دَتعین دَپاره وضع کړے شوے وی۔ **تفصیل دَ اقسامو:** اسماء اشاره کل دیارلس دی۔

(۱)ذا (۲)ذان (۳)ذین (۴)تا(۵)تی (۶)تِهْ (۷)ذهْ (۸)ذهی (۹)تِهی (۱۰)تان (۱۱)تَین (۱۲)اولاء (په مدسره) (۱۳)اُولٰی(په قصرسره).

"ذا" دَ واحد مذکر دَ پاره استعمالیږی "ذانِ اوذَینِ" دَ تثنیه مذکر دَپاره استعمالیږی. "ذانِ" په حالت رفعی کی او"ذَینِ" په حالت نصبی او جرّی کښی۔

اوتا، تی، ته، ذه، ذهی، تهی دا واحده مؤنثے دَ پاره استعمالیږی۔
"تانِ اوتَینِ" دَ تثنیه مؤنثے دَ پاره استعمالیږی "تانِ" په حالت رفعی کښی او"تَینِ" په حالت نصبی جری کښی، او "أُولاءِ" بمد "اولی "بقصر دَ جمع مذکر اومؤنث دواړو دَ پاره استعمالیږی۔

فائده: کله کله دَ اسم اشاری په شروع کښی هاء راوړے کیږی اودیته هاء تنبیهیه وایئ لکه "هٰذَا" بیا کله په مخاطب باندے دلالت کولو دَ پاره په آخر کښی "ک" حرف خطاب راوړے کیږی اوکله دَ"ک" حرف خطاب اواسم اشاره په درمیان کښی دَ "لام" اضافه کیږی لکه "ذالک" اوکله نه وی لکه "ذاکَ "خوپه "ذاک" او "ذالک" کښی دومره فرق دے چه "ذاکَ " دَ اسم اشاری قریب دَ پاره راځی او "ذالک" دَ اسم اشاری بعید دَ پاره راځی، بیاخواه که بعد حسی وی لکه "ذالک الرجل"، اوکه بُعْدِ رُتبی لکه "ذالک الکتاب" ۔

اسماء اشاره: بیاپه دری قسمه دی(۱)اسماء اشاره قریب (۲)اسماء اشاره بعید (۳)اسماءاشاره متوسطه۔

اسماء اشاره قریب:هذا، هذان، هذین، هؤلاء، هذه، هاتان، هاتین هٰؤلاء.

اسمائے اشاره بعید:ذالک۔

اسماء اشاره متوسط:ذاک۔

فائده: په کوم ځائے کښی چه اسم اشاره وی نوهلته دری څیزونه وی(۱)مشیر (۲)مشار الیه (۳)اسم اشاره لکه "هَذَا الْرَّجُلُ " کښی متکلم مشیر دے او "اَلْرَّجُلُ "مشارالیه او"هَذَا "اسم اشاره ده۔

سوال: اسمائے اشارہ مبنی ولے دی؟

جواب: اسمائے اشارہ په احتیاج کی دَ حروفو سره په شبه افتقاری کے مشابه دی لکه څنګه چه حروف اسم اوفعل ته محتاج دی، نودغه شان اسمائے اشاره مشارالیه ته محتاج دی ۔

بحث دَ اسمائے افعالُ

(۴) اسمائے افعال: تعریف: "اسم الفعل هومانابَ عن الفعل معناً واستعمالاً " ۔

ترجمه: اسم فعل هغه ته وایئ چه په معنی اواستعمال کښی دَ فعل قائم مقام وی۔

وجه دَ تسمیه: اسماء جمع دَ اسم ده اوافعال جمع دَ فعل ده، اودیته اسمائے افعال ځکه وایئ چه دا دی اسماء اومعنی دَ فعل ورکوی۔

اسمائے افعال: په دری قسمه دی(۱)بمعنی امرحاضر (۲)بمعنی فعل ماضی (۳)بمعنی فعل مضارع۔

بمعنی امرحاضر(۱)رُوَیْدَبمعنی اَمْهِلْ(۲)بَلْهَ بمعنی دَعْ (۳) حَیَّهَلَ بمعنی اَقْبِلْ(۴)هَلُمَّ بمعنی اِیْتِ (۵)دُوْنَکَ بمعنی خُذْ (۶)عَلَیْکَ بمعنی اَلْزِمْ (۷)هَا بمعنی خُذْ (۹)صَهْ بمعنی اُسْکُتْ (۱۰) مَهْ بمعنی اُکْفُفْ یا اِکْتَفِ (۱۱)نَزَالِ بمعنی اِنْزِلْ (۱۲)تَرَاکِ بمعنی اُتْرُکْ(۱۳)آمِیْنَ بمعنی اِسْتَجِبْ (۱۴)فَقَطْ بمعنی اِنْتَهِ(۱۵)مَکَانَکَ بمعنی اُثْبُتْ(۱۶) اَمَامَکَ بمعنی تَقَدَّمْ

(۱۷)وَرَائَکَ بمعنی تَأَخَّرْ (۱۸) عَلَی الْاَمْرِ بمعنی اَقْبِلْ عَلَیْهِ
(۱۹)اِلَی الْاَمْرِ بمعنی عَجِّلْ اِلَیْهِ (۲۰)بِالْاَمْرِ بمعنی عَجِّلْ بِهٖ۔
بمعنی فعل ماضی (۱)هَیْهَاتَ بمعنی بَعُدَ (۲)شَتَّانَ بمعنی اِفْتَرَقَ
(۳)سَرْعَانَ بمعنی سَرُعَ۔
بمعنی فعل مضارع (۱)اُفْ بمعنی اَتَحَزَّنُ (۲)اُوْهْ بمعنی اَتَوَجَّعُ
(۳)وَیْ،وَا،وَاهًا بمعنی اَتَعَجَّبُ۔

سوال: اسماء افعال ولے مبنی دی؟

جواب: اسمائے افعال دَ فعل ماضی او امر حاضر سره په شبه معنوی کښې مشابه دی۔

بحث دَ اسمائے اصوات

(۵) اسماء اصوات: تعریف "ماحُکِیَ به صَوتٌ اوصُوِّتَ به البهائمُ"
اسماء جمع دَ اسم ده، اوا صوات جمع دَ صوت ده۔

اسماء اصوات: هغه ته وایئ چه په دی سره څه څناور ته آوازاوکړے شی، او یا دَ څه څناور آواز نقل کړے شی، او یا دَ غم اوخوشحالی په وخت کښې چه کوم الفاظ اوئیلے شی۔

څناورُ ته آوازکولو مثال لکه عرب دَ اوښ کینولو په وخت کښې "نَخْ" وایئ۔

دَ څناورُ دَ آواز نقل کولو مثال لکه عرب دَ کارغه آواز په "غَاقَ" سره نقل کوی۔

دَ غم اوخوشحالئ په وخت کښې چه کوم الفاظ اوئیلے شی لکه "أُحْ أُحْ" دَ سینے دَ تکلیف په وخت کښې، او "ا ؟ُفْ" دَ درد په وخت کښې، دَ خوشحالی په وخت کښې چه کوم الفاظ اوئیلے شی لکه عرب دَ واده په موقع "بَخْ بَخْ" وایئ، دارنګې د اَس(گھوڑا) تیزولوپه وخت کښې "هَلاً" دَ خچرۀ پاره "عَدَسَ" دَ بیزے دَپاره"هَسْ" استعمالوی۔

سوال: اسماء اصوات مبنی ولے دی؟

جواب: اسماء اصوات دَ حروف سره په احتیاج کښې په شبه افتقاری کښې مشابه دی، یعنی اسماء اصوات هم صائت اومحکّی عنه ته محتاج دی۔

(۶) بحث دَ اسماء ظروف

(۶) اسماء ظروف: ظروف جمع دَ ظرف ده، په لغت کښې لوښی ته وایئ اوپه اصطلاح کښې "الظّرف مایدُلُّ علی المکان اوالزّمان".

اسم ظرف هغه ته وایئ چه په مکان یاپه زمان باندی دلالت کوی.

نوددی تعریف نه مونږ ته پته اولګیده چه ظرف په دوه قسمه دے۔

(۱)ظرف زمان (۲) ظرف مکان۔

ظرف زمان: چه په زمانه باندی دلالت کوی لکه "اِذْ،اِذَا،مَتَی، کَیْفَ، اَیَّانَ ،اَمْسِ، مُذْ ،مُنْذ قَطُّ،عَوْضُ،قَبْلُ،بَعْدُ۔

ظرف مکان: چه په څه مکان باندی دلالت کوی لکه "حَیْثُ،قُدَّامُ، خَلْفُ،فَوْقُ، تَحْتُ، عِنْدَ، اَیْنَ،اَنّٰی، لَدَی، لَدُنْ "۔

بیان دَ ظروف زمان

إِذْ: دَ ماضی دَ پاره راځی اګرچه په مستقبل داخل وی، او دا په جمله اسمیه اوفعلیه دواړو باندی داخلیږی۔

دَ جملے فعلیے مثال: "جِئْتُکَ إِذْ طَلَعَت الشَّمْسُ " ۔

دَ جملے اسمیے مثال: جِئْتُکَ إِذْ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ " ۔

اذا: دا دَ مستقبل معنی ورکوی، اوماضی لره هم دَ مستقبل په معنی ګرځوی لکه "إِذَاجَاءَ نَصْرُاللّٰهِ" اوکله دَ مفاجات دَ پاره هم راځی لکه "خَرَجْتُ فَإِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ۔

سوال: إِذْ او "إِذَا" مبنی ولے دی؟

جواب: دا په حروفو کښی دَ "مِنْ"سره په شبه وضعی کښی مشابه دے، او "إِذَا" یاخو دَ "إِذْ" دَ وجه نه مبنی دے، او یا په دی کښی معنی دَ شرط ده ،نوددی مشابهت دَ حروفو سره په شبه معنوی کښی دے ۔

فائده: "إِذْ" او "إِذَا" چه په شروع دَ کلام کښی راشی نود ؟ ترکیب په اعتبار په دیکښی څلور وجی جائز دی۔

(۱)معمول دَ "أُذْکُرُوْا" فعل مقدّم (۲)معمول دَ فعل مؤخر (۳)زائد (۴) إِذْ بمعنی قَدْ لکه "وَإِذْقَالَ رَبُّکَ " اویابه مرکب اضافی مفعول فیه وی دَ پاره دَ فعل مقدّم ، اوکه په درمیان دَ دُوه فعلونوکښی وو نو ما بعد ته به مضاف وی۔

مَتیٰ: دا دَ شرط اواستفهام دواړو دَ پاره راځی. دَ شرط مثال لکه "مَتَیٰ تَصُمْ ؟ أَصُمْ ". دَ استفهام مثال "مَتَیٰ تُسَافِرُ " ۔

دَ مبنی وجه یئ داده چه "مَتَی" دَ حروف شرط یاحروف استفهام سره په شبه معنوی کښی مشابه دے۔

کَیْفَ: دا دَ استفهام دَ پاره راځی مثال "کَیْفَ حَالُکَ" ۔

او دَ مبنی وجه یئ داده چه "کَیْفَ" دَ حروف استفهام سره په شبه معنوی کښی مشابه دے۔

فائده: دَ "کَیْفَ" نه روستو به یافعل وی یابه اسم وی، کچرته اسم وو نو دابه په اعتبار دَ متعلق سره خبر مقدم وی لکه "کَیْفَ حَالُکَ" اوکه دَ دی نه روستو فعل وو نو که فعل ناقص وو نوبیابه هم خبر مقدم وی لکه" کَیْفَ کَانَ عَاقِبَةُ الْمُکَذِّبِیْنَ ". اوکه فعل تام وو نو بیابه مفعول مطلق دَ هغه فعل وی یابه دَ هغه فعل معمول نه حال وی لکه "اَلَمْ تَرَکَیْفَ فَعَلَ رَبُّکَ " ۔

ایان: دا راځی دَ پاره دَ زمانے مستقبل لکه "اَیَّانَ یَوْمَ الدِّیْنِ " ۔

فرق په مابین دَ "اَیَّانَ" او "کَیْفَ" کښی دادے چه "اَیَّانَ" استعمالیږی په امور عظیمه وو کښی، او "کَیْفَ" استعمالیږی په امور عظیمه اوحقیره دواړو کښی لکه " کَیْفَ یَطِیْرُ الذُّبَابُ ". خو "اَیَّانَ" خاص دے په امر عظیم پوری لکه "اَیَّانَ یَوْمَ الدِّیْنِ " ۔

اَمْسِ: دا راځی دَ پاره دَ زمانے ماضی مثال لکه "جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَمْسِ".

او دَ مبنی وجه یئ داده چه یا خو "اَمْسِ" دَ "اَرْمِ" سره په شبه وضعی کښی مشابه دے، او یا په دے کښی معنی دَ ماضی ده نو دَ دی دوجے نه داهم مشابه شو په شبه معنوی کښی۔

مُذْ، مُنْذ: دا دواړه دَ ابتدائی مدّت دَ پاره راځی خو چه کله سوال په "مَتَی" سره اوشی لکه "مَتَی مَارَأَیْتَ زَیْداً " نو په جواب کښی معنی دَ ابتدائی مدت راځی۔

او دَ پوره مدت دَ پاره هم راځی چه کله سوال په کم سره اوشی لکه "کَمْ مُدَّةً مَارَأَیْتَ زیداً "نو په جواب کښی معنی دَ پوره مدّت راځی۔

ترکیب دَ"مُذْ" او "مُنْذ" که چرته دَ "مُذْ" او "مُنْذ"نه روستو مفرد مجرور وی نو دا به بیا حروف جارّه وی، اوکه چرته دَ دی نه روستو مفرد مرفوع وی نو بیابه دا دواړه دَ اسماء ظروفونه وی۔

او دَ مبنی وجه یې داده چه "مُذْ" دَ "مِنْ" سره په شبه وضعی کښی مشابه دے او "مُنْذ" په "مذ" محمول دے، یعنی دَ دے وجی نه داهم مبنی دے۔

قَطُّ: دا دَ ماضی منفی دَ تاکید دَ پاره راځی مثال "مَاضَرَبْتُهٗ قَطُّ " ۔

فرزدق دَ امام زین العابدین په مدح کښی چه کومه قصیده وئیلے وه نو دَ هغے په یوشعر کښی هم راغلی دی۔

ما قال لا قطُّ الّا فی تشهده : لولا التشهد کانت لاءُہ نعم

عوضُ: دا دَ مستقبل نفی دَ تاکید دَ پاره راځی مثال "لَا أَضرِبُهٗ عَوْضُ"

او دا دواړه مبنی ځکه دی چه دا دَ لام استغراق سره په شبه معنوی کښی مشابه دی۔

قَبْلَ، بَعْدُ: دَ دی دَ پاره دری حالات دی په دوه حالاتو کښی معرب اوپه یوحالت کښی مبنی دی۔

(۱)یودا چه داړه مضاف وی، او دَ دی مضاف الیه هم مذکور وی مثال "جِئْتُکَ قَبْلَ زَیْدٍ" او "بَعْدَعَمْرٍو" ۔
(۲)دویم داچه دا دواړه مضاف وی اودَ دی مضاف الیه نسیاً منسیاً محذوف وی (یعنی دَ متکلم په ذهن اونیت کښی باقی هم نه وی لکه "رُبَّ قَبْلٍ خَیْرٌ مِنْ بَعْدٍ" په دی دوؤحالاتو کښی دامعرب دی۔
(۳)دریم دا چه دا دواړه مضاف وی او مضاف الیه دَ دی محذوف منوی وی لکه "لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ" ای مِن قبلِ کلِّ شیئٍ اومِن بعدِ کلِّ شیئٍ۔

بیان دَ ظروف مکان

حَیْثُ: دا اکثر جملے طرف ته مضاف وی لکه "اِجْلِسْ حَیْثُ زَیْدٌ جَالِسٌ" یعنی اجلس مکان جلوس زید۔
دغه شان "قُدَّامُ ،خَلْفُ لکه " قَامَ النَّاسُ قُدَّامُ وَخَلْفُ " ای قدام زید وخلف زید۔
تَحْتُ ، فَوْقُ لکه "جَلَسَ زَیْدٌ تَحْتُ وَصَعِدَ عَمْرٌو فَوْقُ " ای تحت الشجرة وفوق الشجرة۔
عند: لکه اَلْمَالُ عِنْدَ زَیْدٍ" ۔
اَیْنَ واَنّٰی: دا دَ استفهام دَ پاره هم راځی او دَ شرط دَ پاره هم راځی. دَ استفهام مثال لکه "اَیْنَ تَذْهَبُ "ته چرته ځے "اَنّٰی تَقْعُدُ" ته چرته کینے . دَ شرط مثال لکه " اَنّٰی تَجْلِسُ اَجْلِسُ "کوم ځائے چه ته کینے نو زه به هم کینم. "اَیْنَ تَذْهَبُ اَذْهَبُ"چرته چه ته زی نو زه به هم زم۔

او"اَنّٰی" دَ کَیْفَ په معنی هم راځی کله چه دَ فعل نه روستو راشی، کقوله تعالٰی "فَأْتُوْا حَرْثَکُمْ اَنّٰی شِئْتُمْ "ای کیف شئتم۔
لَدَی او لَدُنْ: دا دواړه دَ "عِنْدَ " په معنی دی، لیکن فرق په عِنْدَ او لَدَی او لَدُنْ کښی دادے چه په عِنْدَ کښی دَ هغه څیز قبضه اوملک ضروری وی لکه "اَلْمَالُ عِنْدَ زَیْدٍ" خواه که مال بیاپه خزانه کښی وی یاپه جیب کښی وی او"اَلْمَالُ لَدیٰ زَیْدٍ"په هغه وخت کښی وئیلے کیږی چه مال دَ زید سره وی، پس عند عام دے اولَدیٰ او لَدُنْ خاص دی۔
اودا ټول مبنی ځکه دی (سوا دَ اَنّٰی اواَیْن نه) چه دا ټول مضاف الیه ته مضاف کیږی اوهغی ته محتاج وی لکه څنګه چه حروف ضم دَ ضمیمے ته محتاج وی، نو په دی کښی شبه افتقاری ده، لیکن دَ دی مضاف الیه کله مذکور وی لکه "اِجْلِسْ حَیْثُ جَلَسَ زَیْدٌ "او کله محذوف وی لکه"صَعَدَ عَمْرٌو فَوْقَ"ای تحت الشجرة وفوق الشجرة۔
نوټ:این اوانّی مبنی ځکه دی چه دَ شرط اواستفهام معنی ورکوی نودا دَ حروف شرط یاحروف استفهام سره په شبه معنوی کښی مشابه دی۔
فائده(۱)قبلُ ،بعدُ،تحتُ،فوقُ،قدّامُ ،خلفُ ، حیثُ ، قطُّ ،عوضُ دابه مبنی برضمه وی، او ایّانَ، کیفَ، اینَ به مبنی برفتحه وی او اَمسِ به مبنی برکسره وی۔
فائده (۲) ظروف غیر مبنیه چه کله جملے یا "اِذْ" ته مضاف وی نودا مبنی بر فتحه وئیل جائز دی،کقوله تعالٰی"یَوْمَ یَنْفَعُ الْصَّادِقِیْنَ

صِدْقُهُمْ" نو دلته په "يَوْمَ" باندی فتحه ويل جائز دی لکه "يَوْمَئِذٍ، حِيْنَئِذٍ" ـ

بحث دَ اسماء کنايات

(۷)اسماء کنايات: کنايات جمع دَ کنايةٌ ده ، کنايه په لغت کښی په سترګے سره اشاره کولوته وايئ، اوپه اصطلاح کښی "هِيَ اسماء تدلّ على عددٍ مبهم اوحديث مبهمٍ" ـ

ترجمه:اسم کنايه هرهغه اسم ته وايئ چه دلالت کوی په عدد مبهم باندی ياپه قول مبهم۔

مثال دعدد مبهم: "كَمْ وَكَذَا" مثال دَ قول مبهم: لکه "كَيْتَ وَذَيْتَ" په

دَ " كَمْ " دوه اقسام دی(۱)کَمْ خبريه (۲)کَمْ استفهاميه۔

دَ کَمْ خبريه معنی په لفظ "دومره" سره کيږی۔

اودَ کَمْ استفهاميه معنی په لفظ "څومره" سره کيږی۔

کَمْ استفهاميه: ديته وايئ چه په هغی سره دَ يوعدد مبهم نه تپوس اوشی لکه "كَمْ رَجُلاً عِنْدَکَ" ـ

کَمْ خبريه: ديته وايئ چه په دی سره دَ يوعدد مبهم نه خبر ورکړے شی لکه "كَمْ مِنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا" ـ

نوټ: دَ کَمْ استفهاميه تميز مفرد منصوب راځی لکه"كَمْ رَجُلاً عِنْدَکَ" ليکن کله دَ حرف جر دَ وجے نه دَ دی تميز مفرد مجرور هم راځی لکه "كَمْ مِنْ رَجُلٍ عِنْدَکَ" ـ

اودَ کَمْ خبريه تميز مفرد مجرور ياجمع مجرور راځی۔

دَمفرد مجرور مثال كَمْ دِرْهَمٍ عِنْدَكَ" ـ
دَجمع مثال"كَمْ رِجَالٍ عِنْدَكَ" په كَمْ خبريه باندى هم كله كله حرف جر داخليږى لكه "كَمْ مِنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا" ـ
قاعده: كَذَا هميشه خبريه راځى لكه "اَنْفَقْتُ دِرْهَماً كَذَا" اوكله داپه عطف سره هم راځى لكه "ملَكْتُ كَذَا وَكَذَا دِرْهَماً" ـ
قاعده: كَمْ او كَذَا ته په تركيب كښى مميز اومدخول ته يئ تميز وايئ، او دَ مميز او تميز نه چه كمه جمله جوړه وى نوهغى ته مركب تميزى وايئ۔
قاعده: كَيْتَ وذَيْتَ په تركيب كښى هميشه مكرر واقع كيږى۔
او كَمْ استفهاميه مبنى ځكه دے چه دا دَ همزه استفهام سره په شبه معنوى كښى مشابه دے اوكم خبريه دَ "مِنْ" سره په شبه وضعى كښى مشابه دے لكه چه څنګه مِنْ دوه حرفى دے نودغه شان كَمْ هم دوحرفى دے ـ
او كَذَا دا ځكه مبنى دے چه دا مركب دے دَ كاف حرف تشبيه او دَ اسم اشاره نه، اودا دواړه مبنى دى نو دا دَ مبنياتو دَ تركيب دَ وجه نه مبنى دے۔
او كَيْتَ، ذَيْتَ ځكه مبنى دى چه دا دَ جملے سره په شبه وقوعى كښى مشابه دى يعنى جملے په ځائے واقع كيږى۔

بحث دَ مرکب بنائی

(۸)مرکب بنائی: تعریف "کلّ اسم رکب من کلمتین لیست بینهما نسبةٌ" ترجمه: مرکب بنائی هغه اسم ته وایئ چه هغه مرکب وی دَ دوه کلمونه او دَ دی په درمیان کښې نسبت اوتعلق نه وی، ددے تفصیل مخکښے ذکر شوے دے۔

مشق اؤاجراء

"اَنَا: لفظ، موضوع، مفرد، اسمِ جامد، مبنی، مبنی غیرالاصل، اسمِ غیرِ متمکن، اسمِ ضمیر۔

اِیَّایَ،لِيْ،اَلَّذِيْ،هٰذَا،رُوَيْدَ،غَاقِ،اِذَا،كَمْ،كَيْتَ،اَحَدَعَشَرِ۔

فصل ۶ اسم منسوب

تعریف: اسم منسوب هغه اسم ته وایئ چه دَ هغی په آخر کښې یاء ماقبل مکسور وی لکه "بَغْدَادِيٌّ" ۔

دَ اسم په آخر کښې دَ یاء نسبتیه لرولونه معلومیږی چه دَ دی دَ څه شئ سره تعلق دے لکه "هِنْدِيٌّ" دَ هند اوسیدونکے۔

قواعد دَ اسم منسوب

(۱)الف مقصوره چه کله په کلمه کښې په دریم یاڅلورم ځائے کښې واقع شی نودابه په واو سره بدلیږی لکه "عَصَا" نه عَصَوِيٌّ"، دَ "عِيْسىٰ" نه "عِيْسَوِيٌّ" دَ "مَوْلٰى" نه "مَوْلَوِيٌّ" اوکه ثانی حرف متحرک وی نو بیا

غورزیږی لکه "بَرْدیٰ" نه "بَرَدِیٌّ"، اوکه الف مقصوره په پنځم ځائے کښې وی نوبیابه غورزیږی لکه "مُسْتَشْفیٰ" نه "مُسْتَشْفِيٌّ" ـ
(۲)دَ الف ممدوده دویم الف په واوسره بدلیږی لکه "سَمَاءَ" نه "سَمَاوِیٌّ" او بَیْضَاءَ" نه "بَیْضَاوِیٌّ" ـ
(۳)چه په کوم اسم کښې یائے مشدد دَ مخکښې نه موجود وی نوهلته دَ یائے نسبت راوړلو ضرورت نشته لکه "شَافِعِیٌّ "دا دَ یو امام نوم دے، دغه شان "شَافِعِیٌّ " مذهب شافعی ته هم منسوب دےـ
(۴) کله چه په اسم کښې تاء تانیث وی نودغه دَ نسبت په وخت کښې غورزیږی لکه "کُوْفَةٌ " نه "کُوْفِیٌّ " او "مَکَّةٌ " نه "مَکِیٌّ" دَ غه شان چې کوم اسم دَ "فُعَیْلَةٌ "یا "فَعْلَةٌ "په وزن وی نود ؟ دی تاء هم غورځیږی لکه "مَدِیْنَةٌ" نه "مَدَنِیٌّ" او "جُهَیْنَةٌ" نه "جُهَیْنِیٌّ" ـ
(۵)کوم اسم چه دَ فَعِیلٌ په وزن وی او دَ دی په آخر کښې یائے مشدد وی، اوس که دَ دی نه اسم منسوب جوړ وی نو اوله یاء به په واو سره بدل کړے بیاواو ماقبل مفتوح اوپه آخره کښې به یائے نسبتیه راوړے لکه دَ "عَلِیٌّ" نه "عَلَوِیٌّ" او دَ "نَبِیٌّ"نه "نَبَوِیٌّ" ـ
(۶)اوکه یاء په اسم کښې په څلورم ځائے کښې ماقبل مکسور وی نو "يِ" حذف کول او په واو سره بدلول دواړه جائز دی لکه دَ "دِهْلِیٌّ" نه "دِهْلَوِیٌّ"او "دِهْلِیٌّ" ـ

(۷)اوکه دَ اسم دَ آخرنه حرف اصلي حذف کړے شوے وی نو دابه دَ نسبت په وخت کښې واپس راځی لکه "اَخٌ" نه "اَخَوِیٌّ" او دَ "اَبٌ" نه "اَبَوِیٌّ" او دَ "دَمٌ" نه "دَمَوِیٌّ" ۔

(۸)دَ بعض الفاظو نسبت خلاف القیاس راځی لکه دَ "نُوْرٌ" نه نُوْرَانِیٌّ" او "حَقٌّ" نه "حَقَّانِیٌّ" او "رَیْ" نه "رَازِیٌّ" دَ بَادِیَةٌ" نه "بَدَوِیٌّ" ۔

فصل نمبر۷ اسم تصغیر

تعریف ددی مع امثله مخکښې ذکرشوے دے۔

قواعد دَاسم تصغیر

(۱)دَ دری حرفی اسم،اسمِ تصغیر دَ فُعَیْلٌ په وزن راځی لکه دَ "رَجُلٌ" نه "رُجَیْلٌ" او دَ "عَبْدٌ" نه "عُبَیْدٌ" ۔

(۲)دَ چارحرفی اسم،اسمِ تصغیر دَ فُعَیْعِلٌ په وزن راځی لکه دَ "جَعْفَرٌ" نه "جُعَیْفِرٌ" ۔

(۳)او دَ پانچ حرفی اسم، اسمِ تصغیر په وزن دَ فُعَیْعِیلٌ راځی خوپه شرط دَ دی چه څلورم حرف ئې مدّ ولین وی لکه دَ "قِرْطَاسٌ" نه "قُرَیْطِیْسٌ" اوکه څلورم حرف یې مدّ ولین نه وو نو بیابه پنځم حرف حذف کړے لکه "سُفَیْرِجٌ" دَ "سَفَرْجَلٌ" نه۔

فائده(۱)په مؤنث سماعي کښې " ة " په تصغیرکښې ظاهریږی لکه "اَرْضٌ" نه "اُرَیْضَةٌ" دَ "شَمْسٌ" نه "شُمَیْسَةٌ" ۔

فائده(۲)چه دَ کوم اسم آخری حرف حذف کړے شوئے وی نو هغه به واپس راځی لکه دَ "اِبْنٌ" جمع "بُنَیٌّ" چه دا په اصل کښې "بُنَوٌّ" وو۔

فصل نمبر ۸ معرفه ونکره

اسم په اعتبار دَ عموم اوخصوص سره په دوه قسمه دے۔

(۱)معرفه (۲)نکره۔

معرفه: په لغت کښې پيژندلو ته وايئ، اوپه اصطلاح کښې"ماوُضِعَ لشيئ معين اولشخص معينٍ".

ترجمه:معرفه هغه اسم ته وايئ چه دَ يو معين څيز دَ پاره وضع کړے شوے وی يا دَ يوشخص معين دَ پاره وضع کړے شوی وی۔

په لنډو الفاظو کښې معرفه هغه اسم ته وايئ چې دَ يومعين څيز يا دَ معين شخص دَ پاره وضع کړی شوی وی۔

وجه دَ حصر: دا اسم به خالی نه وی يابه وضع کړے شوے وی دَ پاره دَ يوشيئ معين، او يا به وضع کړے شوے وی دَ پاره دَ يوشی غيرمعين، که دَ معين شيئ دَ پاره وضع کړے شوے وؤ نو ديته معرفه وايئ، اوکه دَ غيرمعين شيئ دَ پاره وضع کړے شوے وو نو نکره۔

بيا دَ معرفے ووه (۷) اقسام دی۔ (۱) ضمير (۲)عَلَم (۳)اسم اشاره (۴)اسم موصول (۵)معرّف باللّام (۶)مضاف از يکے (۷)معرفه بالنداء۔

(۱)**ضمير:** هغه اسم دے چه دَ يونوم په ځائے اوئيلے شی لکه "هُوَ، اَنْتَ، اَنَا" ۔

(۲)**علم:** هغه اسم دے چه هغه په خاص شهر يا په خاص سړے يا په يو خاص څيز دلالت کوی لکه "اَلْمَدِيْنَةُ الْمُنَوَّرَةُ، زَيْدٌ، مَاءُ زَمْزَمٍ"

عَلَم بیاپه پنځه قسمه دي (۱)اسم محضه (۲)لقب (۳)کنیت (۴)خطاب (۵)تخلص۔

اسم محضه: هغه نوم ته وایئ چه دا دَ پیدائش په وخت کښې ایښودے شوے وی لکه "حَامِدٌ ،عَامِرٌ" ۔

اسم لقب: هغه نوم ته وایئ چه دَ چا ښه یا بد صفت بیان کړے شی لکه "قاری صاحب، حافظ صاحب" ۔

اسم کنیت: هغه نوم ته وایئ چه دَ هغې په اول کښې "اب، ابن،اخ اواخت "راغلے وی لکه "ابوبکر،ابن عباس" ۔

خطاب: هغه نوم ته وایئ چه چاته دَ بادشاه یاحاکم یا دَ یوے قافلے دَطرف نه اعزازاًمیلاؤشی لکه"قائداعظم،اسیرمالټا،شیخ الهند"۔

تخلص: هغه نوم ته وایئ چه دَ یوکس دَ خپل شناخت دَ پاره ایښودے وی لکه "فضل ربی " سره "ربّانی" ۔

(۳)اسم اشاره: یعنی هغه اسم چه په هغې سره څه شئ ته اشاره اوکړے شی لکه "هٰذَا، ذَالِکَ" ۔

(۴)اسم موصول:یعنی هغه اسم چه دَصله سره دَجملے جزء جوړیږی لکه "اَلّذِیْ،اَلّتِیْ" ۔

(۵)معرف بالام: یعنی هغه اسم چه په نکره باندی "الف، لام" داخل کړے شی اومعرفه جوړه شی لکه دَ "رَجُلٌ" نه "اَلْرَّجُلُ" ۔

(۶)اوهغه اسم: چه دَ دی پنځه قسمونونه یو ته مضاف وی۔

امثله (۱)چه ضمیر ته مضاف وی لکه "غُلَامُهٗ" (۲)چه علم ته مضاف وی لکه "غُلَامُ زَیْدٍ" (۳)چه اسم اشاره ته مضاف وی لکه "غُلَامُ هٰذَا" (۴)چه اسم موصول ته مضاف وی لکه "غُلَامُ الَّذِیْ عِنْدِیْ" (۵)چه معرف باللام ته مضاف وی لکه "غُلَامُ الرَّجُلِ" ۔

(۷)معرفه بالنداء: یعنی هغه اسم چه نکره وی خو دَ حرف نداء دَ دخول دَ وجی نه معرفه جوړه شی لکه دَ "رَجُلٌ" نه "یَارَجُلُ" ۔

نوټ: معرفه بالنداء طرف ته هیڅ یواسم نه مضاف کیږی۔

فائده(۱)اسماء اشاراتو او اسمائے موصولاتو ته مبهمات هم وایئ، ځکه چه اسم اشاره مشارالیه ته محتاج دے، او اسم موصول صله ته محتاج دے۔

قاعده دَ لفظِ ابن: کله چه لفظ "اِبۡنٌ" په مابین دَ علمینُ متناسلینُ کښی واقع شی نو دابه ماقبل لره صفت اومابعد ته مضاف وی لکه "محمدُبنُ عبدِالله" ۔

نوټ: دَ ټولونه اعرف المعارف، اول دَ اللّٰه تعالی نوم دے، بیاضمائر دی، بیاپه ضمائرو کښی ضمیر دَ متکلم، بیا دَ مخاطب، بیا دَ غائب، بیا اعلام، بیا اسم اشاره الی آخره۔

نکره: په لغت کښی ناشناته وایئ، اوپه اصطلاح کښی"ماوضع لشیئ غیرمعین اولشخص غیرمعیّن" ۔

ترجمه:نکره هغه اسم ته وایئ چه هغه یو شیئ غیرمعین دَ پاره وضع کړے شوے وی لکه "فَرَسٌ"چه دا دَ یوخاص آس نوم نه دے بلکه په عربئ کښی "فَرَسٌ"هر یو آس ته وایئ۔

فصل نمبر۹ مذکر، مؤنث

په اعتبار دَ جنس سره اسم په دوه قسمه دے (۱)مذکر (۲)مؤنث

مذکر: هغه اسم ته وایئ چه هغی کښی علامه دَ تانیث نه لفظی وی اونه تقدیری لکه "رَجُل،فَرَسٌ" ۔

مؤنث: هغه اسم ته وایئ چه په هغی کښی علامه دَ تانیث لفظی یا تقدیری وی لکه "اِمْرَاءَةٌ" ۔

دَ تانیث لفظی علامات څلور دی (۱)تائے ملفوظه لکه "طَلْحَةُ " (۲)الف مقصوره لکه "حُبْلیٰ" (۳)الف ممدوده لکه "حَمْرَآ ءُ "(۴) تائے مقدّره لکه "اَرْضٌ " چه دا په اصل کښی اَرْضَةٌ " وو۔

فائده: په اعتبار د ؟ علاماتو سره دَ مؤنث دوه اقسام دی (۱) قیاسی (۲) سماعی ۔

مؤنث قیاسی: هغه ته وایئ چه په هغی کښی علامات دَ تانیث په الفاظو کښی موجود وی لکه "طَلْحَةُ" ۔

سوال: "طَلْحَةُ" دا خو دَ یوصحابی نوم دے، اوتاسو ذکر کړل چه دا مؤنث دے؟

جواب: نحات حضرات دَ کلمے دَ ظاهر نه بحث کوی، حقیقت کښې خواه که هغه مذکر وی اوکه مؤنث وی، نو "طَلْحَةٌ" لفظاً مؤنث دے اګرچه په حقیقت کښې دا دَ یو مذکر نوم دے۔

مؤنث سماعي: هغه ته وایئ چه په هغې کښې علامات دَ تانیث مقدّر وی، یامؤنث سماعی هغه ته وایئ چه دَ هغې سماع دَ عربُ نه شوے وی لکه "اَرْضٌ" او "شَمْسٌ" چه دا په اصل کښې "اَرْضَةٌ" او "شَمْسَةٌ" دے، ځکه چه دَ دې تصغیر "اُرَیْضَةٌ" او"شُمَیْسَةٌ" راځی، او قاعده دا ده چه "التصغیر والتکسیر یَرُدّان الاشیاء الی اصلها" تصغیر اوتکسیر شی لره خپل ا اصل ته اَړوی۔

بیا په اعتباردَذات سره دَ مؤنث دوه اقسام دی (۱)حقیقی (۲)لفظی۔

حقیقي: هغه ته وایئ چه دَ هغې په مقابله کښې مذکر حیوان وی، لکه "اِمْرَاَءةٌ" دَ دې په مقابله کښې "رَجُلٌ" او "اَتَانٌ" چه په مقابله کښې "حِمَارٌ" دے۔

مؤنث لفظي: هغه ته وایئ چه دَ هغې په مقابله کښې حیوان مذکر نه وی، لکه "شَمْسٌ" ۔

وجه دَ حصر: دا اسم به دَ دُوه حالونه خالی نه وی، په دیکښې به علامة دتانیث وی یانه که علامه دتانیث پکښې نه وه نودامذکر اوکه علامه دتانیث پکښې وه نوبیابه د دوه حالونه خالی نه وی داعلامه به لفظاً وی یابه تقدیراً که تقدیراً وه نومؤنث سماعی اوکه لفظاً وی نوبیابه د دوه حالونه خالی نه وی یابه داعلامه به تاء وی یابه غیرتاء وی که تاء

وه نوبیاددوه حالونه خالی نه وی یابه حقیقة وی لکه طلحة یابه حکمًاوی لکه عقرب اوکه تانه وه نودغه علامه به یاالف زائده مقصوره وی لکه حبلی یابه الف ممدوده وی لکه حمرآء،بیضاء بیاهر یوددی دواړونه به خالی نه وی یابه د دی په مقابله کښی به جاندار مذکر وی یانه که وونومؤنث حقیقی لکه "اِمْرَاءةٌ" چه ددی په مقابله کښی "رَجُلٌ" دے، اوکه نه وو نو مؤنث لفظی لکه "طَلْحَةٌ" چه ددی په مقابله کښی جاندار مذکرنشته ـ

قاعده: دَ انسان په بدن کښی چه څومره جُفت اعضاء دی سوا دَ خدّین او حاجبینُ، نه دا ټول مؤنث سماعی دی، راتګی نومونه دَ ممالکٌ او دَ ښارونو، او دَ قبائلُ لکه قریش وغیره، نومونه دَ جنت او دَ جهنّم، دارنګی نومونه دَ حیواناتُ لکه ثعلب وغیره،او دَ شرابُ او دَ هواګانو لکه قبول، دبور وغیره، او نومونه دَ قدرتی اشیاء لکه سماء ارض اودَ مصنوعی اشیاء لکه مِرْوَحَة وغیره، او حروف تهجی داهم مؤنث سماعی دی۔

فصل ۱۰ واحد ، تثنیه ، جمع

اسم په اعتبار دَ تعدد سره په دری قسمه دے۔

(۱)واحد (۲)تثنیه (۳)جمع۔

واحد: هغه ته وایئ چه په یو باندی دلالت کوی لکه "رَجُلٌ" یوسړے او "اِمْرَاءَةٌ" یوه ښځه۔

تثنیه: هغه ته وایئ چه په دُوؤ دلالت کوی لکه "رَجُلَانِ" دوه سړی، بیا تثنیه په دری قسمه ده (۱)تثنیه حقیقی (۲)مشابه بالتّثنیه (۳) ملحق بالتّثنیه۔

تثنیه حقیقی: دیته وایئ چه په هغی کښی دری شرائط وی۔
(۱)چه مفرد من لفظه ورله وی (۲)چه په دوو دلالت هم کوی (۳)چه دَ دی په آخره کښی نون مکسوره او الف ماقبل مفتوح، یانون مکسوره او "یَا" ماقبل مفتوح وی، یعنی "لَانِ" او "لَین" وزن راغلے وی لکه "رَجُلَانِ، رَجُلَیْنِ" چه په دیکښی دری واړه شرائط موجود دی۔

مشابه بالتثنیه: دیته وایئ چه هغی کښی دوه شرائط موجود وی۔
(۱)چه په دُوو دلالت کوی (۲)چه په آخر کښی یئ الف اونون وی لکه "اِثْنَانِ ،اِثْنَتَانِ" او "اِثْنَیْنِ، اِثْنَتَیْنِ" ۔

نوټ: دَ مشابه بالتثنیه نور مثالونه نشته دی۔

ملحق بالتثنیه: دیته وایئ چه یوشرط پکښی موجود وی هغه داچه دلالت کوی په دوو باندی لکه " کِلَا"، کِلْتَا" چه دَ دی دَ پاره مفرد من لفظه هم نشته اوآخره کښی یا اونون هم نشته۔

نوټ: دیته تثنیه معنوی هم وایئ.او په دنیاکښی دَ دی دُوؤ نه علاوه نورمثالونه نشته۔

بیا تثنیه په دوه قسمه ده (۱)تثنیه حقیقی (۲)تثنیه تغلیبی۔

تثنیه حقیقی: دیته وایئ چه په خپلو دُوو افرادو باندی ځان له ځان له صادقیږی لکه "رَجُلانِ" چه دَ دی افراد "رَجُلٌ" او "رَجُلٌ "دی۔

تثنیه تغلیبی: هغه ته وایئ چه په دُوو افرادُ کښې صرف په یوفرد صادق راځی لکه " وَالِدَیْن" چه دا تثنیه دَ " وَالِد " ده، او" وَالِد " له په "وَالِدَةٌ" باندی غلبه ور کړې ده،نو دَدی وجه نه په مور او پلار دوا ړو باندی اطلاق کیږی۔

جمع: هغه ته وایئ چه دَ واحد په صیغه کښې څه تبدیلی اوکړې شی، او دَ دوو نه په زیاتو باندی دلالت کوی۔

بیا دا تبدیلی یا به لفظاً وی، لکه "رِجَالٌ" چه جمع دَ "رَجُلٌ" ده، او یا به تقدیراً وی، لکه "فُلْکٌ" بروزن " قُفْلٌ" یوه کشتئ ، او"فُلُکٌ" بروزن " أُسْدٌ" زیاتی کشتئ۔

بیا دَ جمع دَ پاره دری شرائط دی۔

(۱)چه مفرد من لفظه ورله وی (۲)چه دَ دُوو نه په زیاتوباندی دلالت کوی (۳) چه دَ دی په آخر کښې "واو نون"یا "یا نون" وی (یعنی "لُوْنَ، لِیْنَ "وزن وی)مثال لکه " مُسْلِمُوْنَ، مُسْلِمِیْنَ " ۔

بیاجمع په دری قسمه ده۔

(۱)جمع حقیقی (۲)مشابه بالجمع (۳)ملحق بالجمع۔

جمع حقیقی: دیته وایئ چه په دی کښې دری واړه شرائط موجود وی لکه "مُسْلِمُوْنَ" ۔

مشابه بالجمع: دیته وایئ چه په دی کښې دوه شرائط موجود وی لکه "عِشْرُوْنَ".ځکه چه دا په جمع دلالت هم کوی، او دَ دی په آخر کښې واو او نون هم شته، لیکن دَ دی دَ پاره مفرد من لفظه نشته۔

نوټ: دَمشابه بالجمع دَپاره دَعشرون نه ترتسعون پورے دامثالونه دی.
سوال: دَ دی دَ پاره مفرد من لفظه "عَشَرَ" شته .
جواب: اوّل دَ جمع دری دی او"عشر" چه دری ځله جمع کړے نو "ثلاثون" جوړیږی نه چه "عشرون" ـ
ملحق بالجمع: دیته وایئ چه پوشرط پکښی موجود وی، لکه " اُولُوْ" دا دَ دوؤ نه په زیاتو دلالت کوی او مفرد من لفظه ورلره نشته، اودَ دی په آخره کښی "واو، نون"هم نشته یعنی وزن " لَوْنٌ ،لِیْنٌ " او"لاتٌ" هم نشته۔
په اعتبار دَلفظ دَ جمع دوه اقسام دی(۱)جمع مکسّر (۲)جمع سالم۔
جمع مکسر: دیته وایئ چه په هغی کښی دَ واحد صیغه سلامت نه وی پاتی شوے لکه "رِجَالٌ " چه په دی کښی دَ واحد صیغه "رَجُلٌ "سلامت نه ده پاتے شوے، او دیته جمع تکسیر هم وایئ۔
جمع سالم: دیته وایئ چه په هغی کښی دَ واحد صیغه سلامت پاتی شوے وی،او وزن دَ" لُوْنَ ، لِیْنَ ، لَاتٌ"وی، اودیته جمع تصحیح هم وایئ۔ دا په دوه قسمه ده (۱)جمع مذکرسالم (۲)جمع مؤنث سالم۔
جمع مذکرسالم: دیته وایئ په هغی کښی "واو" ماقبل مضموم او "نون" مفتوح وی لکه "مُسْلِمُوْنَ " یا "یا" ماقبل مکسور او "نون مفتوح" وی لکه "مُسْلِمِیْنَ " ـ

جمع مؤنث سالم: دیته وایئ چه دَ هغی په آخر کښی "الف" او "تا" وی یعنی "لاتٌ" وزن وی لکه "مُسْلِمَاتٌ" ـ

په اعتبار دَ معنی سره دَ جمع دوه اقسام دی۔

(۱)جمع قلت (۲)جمع کثرت۔

جمع قلت: دیته وایئ چه هغه دَ لسو نه په کمو باندی دلالت کوی۔ اودَ دی څلور اوزان دی. اَفْعُلٌ لکه "اَکْلُبٌ "۔ اَفْعَالٌ لکه"اَقْوَالٌ ". اَفْعِلَةٌ لکه " اَرْغِفَةٌ "۔ فِعْلَةٌ لکه "غِلْمَةٌ " ـ

جمع کثرت: دیته وایئ چه داپه لسو یا دَ لسو نه په زیاتو باندے دلالت کوی. اودَ دی مشهور لس اوزان دی۔

اوزان	جمع	واحد
فِعَالٌ	عِبَادٌ	عَبْدٌ
فُعُلٌ	رُسُلٌ	رَسُوْلٌ
فَعْلیٰ	مَرْضٰی	مَرِیْضٌ
فُعَلَاءُ	عُلَمَاءُ	عَالِمٌ
فُعُوْلٌ	نُجُوْمٌ	نَجْمٌ
فَعَلَةٌ	طَلَبَةٌ	طَالِبٌ
فِعْلَانٌ	غِلْمَانٌ	غُلَامٌ
اَفْعِلَاءُ	اَنْبِیَاءُ	نَبِیٌّ
فُعَّالٌ	خُدَّامٌ	خَادِمٌ
فِعَلٌ	فِرَقٌ	فِرْقَةٌ

فائده: دَ اسماء رباعی اوخماسی جمع اکثر دَ منتهی الجموع په وزن راځی، او دَ دی مشهور دری اوزان دی۔

(۱)مَفَاعِلُ لکه دَ مسجد نه "مَسَاجِدُ"۔

(۲)مَفَاعِيْلُ لکه دَ مِصباح نه "مَصَابِيْحُ" ۔

(۳)فَعَائِلُ لکه دَ رِسالةٌ نه "رَسَائِلُ" ۔

منتهی الجموع: هغه جمع ته وايئ چه په هغی کښی الف دَ جمع نه روستو دوه حروف وی لکه "مَسَاجِدُ" یا یوحرف مشدّد وی لکه "دَوَابٌّ" یا دری حروف وی او درمیان والاحرف ساکن وی لکه "مَفَاتِيْحُ" ۔

فائده: بعض جمع دَ واحد من غیر لفظه راځی لکه "اِمْرَاَءةٌ" دَ دی جمع "نِسَاءٌ" او دَ "ذُوْ" جمع "اُوْلُوْا" راځی۔

فائده: کله کله واحد دَ اسم جمع معنی ورکوی لکه "قَوْمٌ،رَهْطٌ، رَكْبٌ" او دیته اسم جمع وايئ۔

فائده: دَ بعض الفاظوجمع خلاف القیاس راځی لکه دَ "اُمٌّ" نه "اُمَّهَاتٌ" او دَ "فَمٌ" نه "اَفْوَاهٌ" او دَ "مَاءٌ" نه "مِيَاهٌ" ۔

فصل نمبر ۱۱ منصرف، غیرمنصرف

دَاسم معرب دوه اقسام دی (۱)منصرف (۲)غیر منصرف۔

منصرف: "هومالیس فیه علتان اوْ واحدة تقوم مقامهما مِن الاسباب التسعةِ".

ترجمه:منصرف هغه اسم ته وایئ چه په هغی کښې نه وی دوه سببه دَ اسباب تسعُ نه، یا یوسبب چه هغه قائم مقام دَ سببینُ وی۔

حکم: "ان یدخلَه الحرکات الثلٰث مع التنوین" ۔

په دی باندی دری واړه حرکات سره دَ تنوین نه راځی لکه "جَاءَ نِیْ زَیْدٌ، رَأَیْتُ زَیْداً، مَرَرْتُ بِزَیْدٍ" ۔

غیرمنصرف: "هومافیه علتان من تسعٍ اوْ واحدة منهاتقوم مقامهما" ۔

ترجمه:غیرمنصرف هغه اسم ته وایئ چه وی پدی کښې دوه سببه دَ اسباب تسعُ نه وی، یا یوسبب چه هغه قائم مقام دَ سَبَبَیْنُ وی۔

حکم: پدی باندی کسره او تنوین نه راځی۔

اسباب دَ منع الصرف

اسباب دَ منع الصرف نهه دی. عدل، وصف، تانیث، معرفه، عجمه، جمع، ترکیب، وزن فعل، الف ونون زائدتان۔

دَ دی مجموعه ابوسعید انباری النحوی پدی شعرکښې ذکر کړے دهـ

مَوانِعُ الصَّرفِ تِسعٌ کُلَّما اجْتَمَعَتْ: ثِنْتَانَ مِنهُمافَمالِلصَّرفِ تَصْوِیبُ

عدل و وصف وتانیث ومعرفة: و عجمة ثمّ جمع ثم ترکیبُ

والنون زائدة من قبلها الف: و وزن فعل و هذا القول تقریبُ

دارنګه محمود بن حزم الکرمانی هم پدی شعر کښې ذکر کړی دیـ

فمعرفة وتانیث ونعت: ونون قبلها الف وجمع

وعجمة ثمّ ترکیب وعدل: و وزن الفعل والاسباب تسع

{{{امثله}}}

دَعدل مثال:لکه "عُمَرُ" پدی کښی عدل دے، او دویم سبب معرفه ده۔
دَ وصف مثال: لکه "اَحْمَرُ" پدی کښی یو وصف اوبل وزنِ فعل دے۔
دَ تانیث مثال: لکه "طَلْحَةُ" پدی کښی یو تانیث لفظی او بل معرفه ده،
دَ معرفه مثال: لکه"زَیْنَبُ"پدی کښی یومعرفه او بل تانیث معنوی ده۔
دَ عُجمه مثال: لکه "اِبْرَاهِیْمُ"پدی کښی عُجمه اومعرفه ده۔
دَ جمع مثال: لکه "مَسَاجِدُ" پدی کښی جمع متنهی الجموع ده ۔
دَ ترکیب مثال: لکه "بَعْلَبَکَّ" پدی کښی ترکیب اومعرفه ده۔
دَ وزنِ فعل مثال: لکه "اَحْمَدُ" پدی کښی وزن فعل اومعرفه ده۔
دَ الف او نونِ زائدتان مثال: لکه "عِمْرَانُ " پدی کښی الف ونون زائدتان اومعرفه ده۔

تفصیل دَ اسبابُ دَ منع صرف

عدل:په لغت کښی انصاف ته وایئ، اوپه اصطلاح کښی "هو تحویل الاسم من صیغةٍ الی صیغةٍ اخریٰ بغیرقانون صرفیّ مع بقاء المادة الاصلیة والمعنی الاصلیّ"

ترجمه:هغه اړول دَ اسم دی دَ یوے صیغی نه بلے صیغی ته بغیر دَ قانون صرفی نه سره دَ بقاء دَ ماده اصلی اومعنی اصلی نه۔

بیاعدل په دوه قسمه دے (۱)عدل تحقیقی (۲)عدل تقدیری۔

عدل تحقیقی:دیته وایئ چه دَ دی واقعی څه اصل وی لکه "ثُلٰثَ" چه دَ دی معنی ده دری دری، نوددی نه معلومه شوه چه دَ دی اصل " ثَلٰثَةٌ ثَلٰثَةٌ " دے۔

عدل تقدیری: دیته وایئ چه واقعی څه اصل نه وی بلکے دَخپل طرف نه څه اصل منلے شوے وی لکه "عُمَرُ" چه دا الفظ په کلام دَ عربو کښې غیرمنصرف مستعمل دے، لیکن په دیکښې دَ غیرمنصرف صرف یوسبب دے چه معرفه ده، اوبل سبب پکښې نه وو،نو بل عدل تقدیری او منلے شو، نو دَ استعمال په لحاظ سره دَ دی اصل "عَامِرٌ" منلے شوے دے۔

فائده: اوزان دَعدل شپږ دی ددی شپږو اوزان په وزن چه کوم اسم راځی نوهغی به غیرمنصرف وی لکه په دے شعر کښې ذکرکړی دی۔

اوزان عدل رابتمامی توشش شمر

مَفعَلْ فُعَلْ مِثَالُهُمَا مَثْلَثُ عُمَرُ

فَعْلِ است همچو أَمْسِ فُعَالُ است چون ثُلٰثَ

دیگر فَعَالْ داں تو قَطَامْ وَفَعَلْ سَحَرْ

وصف: په لغت کښې بیان ته وایئ، اوپه اصطلاح کښې "هو کون الاسم دالًّا علی ذاتِ مبهمةٍ ماخوذةٍ مع بعضِ صفاتها".

ترجمه: هغه یوداسی اسم دے چه دلالت کونکے وی په ذات مبهمه باندی چه اغستے شوے وی سره دَ بعض صفاتو دَ هغی نه۔

تانیث: په لغت کښې مؤنث ته وایئ، اومراد دَتانیث نه دلته هغه دے چه په دی کښې علامات دَ تانیث لفظی یامعنوی وی، معنوی دَ پاره دوه شرائط دی. یوداچه دَ څه دَ پاره به عَلَم وی، دویم داچه په دی کښې به یو دَ امورُ ثلاثه ؤو نه وی (۱) دَ دریو حروفونه به زیات وی

لکه "زَیْنَبُ " (۲)یابه دری حروف وی لیکن متحرک الاوسط به وی لکه "سَقَرُ " (۳)یادری حروف وی، متحرک الاوسط هم نه وی لیکن عجمه به وی لکه "مَاهُ وَجُوْرُ " اودَ تانیث لفظی په صورت کښې یابه تاء وی لکه "عَائِشَةُ، فاطِمَةُ ، طَلْحَةُ " یابه الف مقصوره زائده او یابه الف ممدوده وی،لیکن چه کله الف وی نوبیابه یوسبب قائم مقام دَ سببینُ وی۔

معرفه:په لغت کښې پیژندلو ته وایئ، اودلته مراد دَمعرفه نه علمیت دے۔

عجمه:په لغت کښې چاړا ته وایئ، اوپه اصطلاح کښې"ماوضعه غیرالمعرب فهو عجمیّ" چه دَعربونه علاوه بل چاوضع کړے وی. شرط دَ دی دَ پاره دادے چه دَ دریو حروفونه زیات وی لکه "اِبْرَاهِیْمُ " یا دری حروف وی، لیکن متحرک الاوسط وی لکه "شَتَرُ "چه دا دَ یو قلعه نوم دے۔

جمع:په لغت کښې "مافوقُ الاثنین" ته وایئ اودلته مراد دَجمع نه جمع اقصی ده۔

نوټ:دَجمع اقصی دَ جوړولو طریقه داده چه که الف دَ جمع اقصی نه روستو یوحرف وی نومشدّد به وی لکه "دَوَابُّ " اوکه دوه حروف وی نو اول مکسور اوثانی اعراب به دَ عامل په اعتبار سره وی لکه"مَسَاجِدُ" اوکه دری حروف وی نو اول به مکسور وی، دویم ساکن اودَ دریم

اعراب به دَعامل په اعتبار سره وی لکه "مَصَابِيْحُ " اودا یوسبب قائم مقام دَ سببینُ دے۔

ترکیب:په لغت کښی جوړخ ته وایئ، اودلته مراد دَ ترکیب نه مرکب منع الصرف دے چه دَ دی تعریف مخکښی ذکر شوے دے، لکه "بَعْلَبَکَّ ، حَضْرَ مَوْتُ ، مَعْدِیْ کَرَبَ " ۔

وزن فعل:دَ وزن فعل مطلب دادے چه وی اسم اودَ فعل په وزن باندی وی، بیا وزن فعل په دوه قسمه دے (۱)مختص بالفعل (۲) غیر مختص بالفعل۔

مختص بالفعل:دیته وایئ چه دَ فعل سره خاص وی لیکن دَ دی نه منقول وی اسم طرف ته لکه "شَمَّرَ" دا دَ معاویه رضی اللّٰهُ عنه دَ اَس نوم دے۔

غیرمختص بالفعل:دیته وایئ چه دغه وزن په اسم کښی هم راځی لیکن په اول کښی حروف اتین وی دَ فعل پشان لکه "یَشْکُرُ، تَغْلِبُ،اَحْمَدُ،نَرْجِسُ " ۔

قاعده:دَ انبیاءعلیهم السلام په نومونو کښی ووه(۷) نومونه منصرف دی، باقی غیرمنصرف دی لکه چه شیږ یوشاعر ذکر کړی دی.ع

گرہمی خواہی کہ دانی نام ہر پیغبرے

تاکدام است اے برادرنزدنحوے منصرف

صالح وہود ومحمدباشعیب ونوح ولوط

منصرف داں و د یگر باقی ہمہ لاینصرف

اوډَ ووم پیغمبر نوم شیث علیه السلام دے۔

الف ونون زائدتان: الف ونون زائدتان که داسم په آخر کښې وی نو شرط دَ دی دَ پاره دادے چه دابه عَلم وی لکه "عِمْرَانَ ،سَلْمَانَ" اوکه علم نه وی نوبیابه منصرف وی لکه "سَعْدَانَ" (دایوقسم بوټے دے چه ګنړو وښو کښې کیږی، ورسره ازغی هم وی اوښاروی ئے نه خوری)

اوکه الف نون زائدتان دَ صفت په آخر کښې وی نو شرط دَ دی دَ پاره دا دے چه دَ دی مؤنث به دَ "فَعْلَانَةٌ" په وزن نه وی لکه "سَکْرَانٌ" غیرمنصرف دے ځکه چه دَ دی مؤنث "سَکْرَانَةٌ" په وزن نه راځی او "نَدْمَانٌ" منصرف دے ځکه چه دَ دی مؤنث "نَدْمَانَةٌ" راځی۔

سوال: په غیرمنصرف باندی کسره اوتنوین ولے نه راځی؟

جواب: په غیرمنصرف باندی کسره اوتنوین ځکه نه راځی چه دَ دی مشابهت دے دَ فعل سره په وجود دَ فرعیتینُ کښې۔

مثلاً: "عُمَرُ" جوړدے دَعلمیت او عدل نه، نوعدل فرع ده دَ معدول عنه، اوعَلم فرع ده دَ ذات موضوع له العَلَم، اوصفت فرع ده دَ موصوف، عجمه فرع ده دَ عربيء، وزن فعل فرع ده دَ وزن اسم، تانیث فرع ده دَ تذکیر ، جمع فرع ده دَ واحد، اوترکیب فرع ده مفرد ده۔

قاعده: کله چه په غیرمنصرف باندی الف لام داخل شی یادویم اسم ته مضاف شی نو بیا پدے باندی کسره راتلے شی لکه " وَاَنْتُمْ عَاکِفُوْنَ فِیْ الْمَسَاجِدِ ،مِنْ شَعَائِرِ اللّٰه " ۔ **نوټ:** دیته منصرف جعلی وایيء۔

فصل نمبر۱۲ مرفوعات

مرفوعات اته دی(۱)فاعل (۲)مفعول مالم یسمّ فاعله (۳)مبتداء (۴)خبر(۵)خبرِدَ انّ واخواتها(۶)اسم دَ ماولا مشبهتین بَلیس(۷)اسم دَ کان واخواتها (۸)خبر دَ لائے نفی جنس۔

فاعل: دیته وایئ چه دَ فعل یاشبه فعل نه بعد واقع وی اودیته دَ فعل یاشبه فعل نسبت شوے وی لکه "قَامَ زَیْدٌ، ضَرَبَ عمرٌو" ۔

بیافاعل په دوه قسمه دے (۱)ظاهر (۲)مضمر۔

دَ ظاهر مثال: لکه "قَامَ زَیْدٌ" کښی "زَیْدٌ" فاعل اسم ظاهر دے اوپه "ضَرَبْتُ" کښی "تُ" ضمیر فاعل دے۔

بیاضمیر په دوه قسمه دے (۱)مستتر (۲)بارز۔

مستتر: لکه "ضَرَبَ" کښی "هُوَ" او" ضَرَبَتْ" کښی "هِیَ" ۔

بارز: لکه "ضَرَبْتُ ،ضَرَبْنَا " ۔

قاعده(۱) کله چه دَ فعل فاعل ظاهر وی اومؤنث حقیقی وی، اوفعل اوفاعل په درمیان کښی څه فاصله هم نه وی، نوفعل به همیشه مؤنث راوړے شی لکه " قَامَتْ هِنْدٌ" ۔

قاعده(۲) کله چه دَفعل فاعل دَمؤنث ضمیر وی نوبیابه هم فعل مؤنث راځی لکه "هِنْدٌ قَامَتْ" چه پدیکښی "هِیَ" ضمیر مستتر دے او هغه فاعل دے۔

قاعده(۳) کله چه دَ فعل فاعل ظاهروی اومؤنث حقیقی وی او دَ فعل او دَ فاعل په درمیان کښی څه فاصله وی، نوبیا فعل مذکر اومؤنث دواړه راتلے شی لکه " قَرَأَ الْيَوْمَ هِنْدٌ "او " قَرَأَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ " ۔

قاعده(۴) کله چه دَفعل فاعل ظاهر مونث حقیقی وی، اودَفعل او دَ فاعل په درمیان کښی څه فاصله هم وی، یا فاعل ظاهر مؤنث غیر حقیقی وی، یافاعل جمع مکسر وی نو په دی دری واړو صورتونو کښی فاعل مونث هم راتلے شی اومذکرهم، لکه " قَرَأَ الْيَوْمَ هِنْدٌ، قَرَأَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ،طَلَعَ الشَّمْسُ، طَلَعَتِ الشَّمْسُ، قَالَ الرِّجَالُ،قَالَتِ الرِّجَالُ "۔

قاعده(۵) کله چه دَفعل فاعل ظاهروی نو فعل همیشه واحد راوړے کیږی لکه "ضَرَبَ الرَّجُلُ، ضَرَبَ الرَّجُلَانِ،ضَرَبَ الرِّجَالُ " ۔

قاعده(۶) کله دَفعل فاعل ظاهر نه وو نو فاعل واحد دَپاره به فعل واحد، دَ تثنیے دَ پاره تثنیه، اوجمع دَپاره به جمع راوړے کیږی، لکه "اَلْخَادِمُ ذَهَبَ،اَلْخَادِمَانِ ذَهَبَا،اَلْخَادِمُوْنَ ذَهَبُوْا" ۔

قاعده(۷) کله چه دَ فعل فاعل دَ جمع مکسر ضمیر وی نو فعل واحد مؤنث اوجمع مذکر دواړه راتلے شی لکه "اَلْرِّجَالُ قَامُوْا، اَلْرِّجَالُ قَامَتْ " ۔

مفعول مالم يُسمّ فاعله: یانائب فاعل داهغه اسم دے چه دَ ده طرف ته دَفعل مجهول نسبت شوے وی، یعنی فاعل حذف کړے شوے وی اونائب فاعل راوړے شوے وی لکه "ضُرِبَ زَيْدٌ " ۔

قاعده: نائب فاعل په واحد، تثنیه، جمع او مذکر اومؤنث کیدو کښې دَ فاعل په ترتیب وی۔

امثله: ضُرِبَتْ هِنْدٌ...هِنْدٌضُرِبَتْ...رُاِیَ الشَّمْسُ...رُاِیَتِ الشَّمْسُ ضُرِبَ الرِّجَالَ...ضُرِبَتِ الرِّجَالُ...ضُرِبَ الرَّجُلُ... ضُرِبَ الرَّجُلَانِ ...ضُرِبَ الرِّجَالُ...اَلْخَادِمُ طُلِبَ...اَلْخَادِمَانِ طُلِبَا...اَلْخَادِمُوْنَ طُلِبُوْا ...اَلرِّجَالُ ضُرِبُوْا...اَلرِّجَالُ ضُرِبَتْ

مبتداء اودَ خبرتعریف: "هما اسمان مجردان عن العوامل اللفظية"

ترجمه: دا دوه اسمونه دی چه خالی دی دَعوامل لفظیو نه۔
دَمبتداء اوخبرپه عامل کښې دری مذاهب دی۔
اول مذهب: دادے چه په مبتداء اوخبر کښې عامل معنوی ابتداء ده۔
دویم مذهب: دادے چه په مبتداء کښې ابتداء ده، اوپه خبرکښې مبتداء ده،یعنی په مبتداءکښې عامل معنوی دےاو خبرکښې عامل لفظی دے.
دریم مذهب: دادے چه په مبتداء کښې خبر عامل دے اوپه خبر کښې مبتداء عامل دے یعنی په دواړو کښې عامل لفظی دے۔
لیکن اول مذهب مختار دے۔
قاعده(۱) مبتداء اکثر معرفه وی، اوکله نکره وی خوپه شرط دَ دی چه دی کښې څه تخصیص اوشی، بیاتخصیص په یوڅوطریقو سره دے۔

(۱) کله چه خبر ظرف مستقر مقدم وی نومبتداء نکره واقع کیږی لکه "فِیْ الدَّارِ رَجُلٌ " ۔

(۲) کله چه په مبتداء باندے حرف نفی یاحرف استفهام داخل شی لکه " اَرَجُلٌ قَائِمٌ ، او "مَا اِمْرَاَءةٌ قَائِمَةٌ " ۔

(۳) کله چه مبتداءنکره موصوفه وی اودَ دی صفت لفظاً وی یاتقدیراً، لکه "وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَیْرٌ مِّنْ مُّشْرِکٍ "، "شَرٌّ اَهَرَّ ذَانَابٍ".نودلته کښی "شَرٌّ" نکره موصوفه ده، اوصفت یې مقدر دے چه "عَظِیْمٌ " دے۔

قاعده(۲)اکثر مبتداء په خبر مقدم وی، لیکن په دریو ځایونو کښی مبتداءپه خبر مقدم کول واجب دی۔

(۱) کله چه دَ مبتداء خبر جمله وی لکه "زَیْدٌ ؟یَضْرِبُ " ۔

(۲) کله چه په مبتداء کښی معنی دَ استفهام وی لکه "مَنْ اَبُوْکَ " ۔

(۳) کله چه مبتداء اوخبر دواړه معرفه وی، اویره دَ التباس دَ خبرصفت سره وی لکه " اَللّٰهُ الصَّمَدُ"، اوکه یره دالتباس نه وه نو بیاجواز الامرین دے یعنی که مبتداء مقدم کوی اوکه خبر لکه "آدَمُ اَبُوْنَا "، اَللّٰهُ اِلٰهُنَا " ۔

قاعده(۳)خبر اکثر نکره وی، اوکله معرفه هم راځی، دَ نکرے مثال لکه "زَیْدٌ عَالِمٌ "یا "زَیْدٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ " زَیْدٌ مبتداء ده او اَبُوْهُ عَالِمٌ یې خبر دے،اوجمله په حکم دَنکره کښی وی،دَ معرفه مثال "اَللّٰهُ اِلٰهُنَا "

۔

قاعده(۴) خبر اکثر مفرد وی اوجمله هم راځی، لیکن په دغه جمله کښې ضمیر وی چه راجع به وی مبتداء ته لکه " زَیْدٌ یَعْلَمُ" یَعْلَمُ جمله ده او دیکښې هو ضمیر راجع دے " زَیْدٌ" مبتداء ته۔

قاعده(۵) په مبتداء باندی خبر مقدم کول جائزدی لکه "فِی الدَّارِ زَیْدٌ" لیکن په دوه ځایونو کښې خبرمقدم کول واجب دی۔

(۱) کله چه خبر استفهام وی لکه " اَیْنَ زَیْدٌ" ۔

(۲) چه مبتداء نکره وی اوخبرظرف مستقر وی لکه"فِی الدَّارِرَجُلٌ" ۔

قاعده(۶) دَمبتداء اوخبر په درمیان کښې مطابقت دَ څواشیاؤ ضروری دے، دَ تذکیر اوتانیث، واحد، تثنیه او جمع کښې کله چه خبر مفرد مشتقی وی یامنسوب وی، مثال دَ واحد لکه "اَلرِّزْقُ مَقْسُوْمٌ ،اَلْاَرْضُ وَاسِعَةٌ"، دَ تنثنیه مثال " اَنْتُمَا عَالِمَانِ، هَاتَانِ عَالِمَتَانِ" ، مثال دَ جمع لکه "اَلرِّجَالُ قَوَّامُوْنَ" ، اَلْبَنَاتُ جَمِیْلَاتٌ" ۔

قاعده(۷) مبتداء خبرکښې مطابقت دَپاره یوځو شرطونه دی

(۱) خبر مشتقی وی، او که مشتقی نه وی نومطابقت ضروری نه دے لکه " اَلْکَلِمَةُ لَفْظٌ" ۔

(۲) مبتداء، خبر دواړه اسم ظاهر وی، نودَ احترازی مثال"وَهِیَ اِسْمٌ"۔

(۳) خبر اسم تفضیل مستعمل به مِن نه وی، نو دَ احترازی مثال "اَلصَّلٰوةُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ" ۔

(۴) خبر هغه الفاظو کښې نه وی چه کوم مشترک وی بین المزکر والمؤنث نو دَ احترازی مثال " اَلْمَرْاَةُ صَبُوْرٌ" ۔

(۵)خبر دَ هغه الفاظو نه نه وی کوم چه مختص بالمؤنث وی نو دَ احترازی مثال "اَلْمَرْاَءَ ةُ حَائِضٌ" ۔

قاعده(۸)دَ یومبتداء دَ پاره ډیرخبرونه هم راتلے شی لکه "زَيْدٌ عَالِمٌ حَافِظٌ قَارِئٌ" ۔

خبر دَ اِنَّ و اخواتها: دلته پنځه خبرے پیژندل ضروری دی۔

(۱)ذات (۲)تعداد (۳)مدخول (۳)عمل (۵)وجه تسمیه۔

(۱)ذات: دَ دی حروف دی (۲)تعداد: کښې شپږ دی (۳)مدخول: دَ دی اسم یعنی مبتداء اوخبر دی(۴)عمل: دَ دی دا دے چه دا خپل اسم ته نصب اوخبرته رفع ورکوی۔ داڅلور خبرے شاعر جمع کړی دی۔

اِنَّ اَنَّ کَاَنَّ لَيْتَ لٰكِنَّ لَعَلَّ

ناصب اسمند رافع درخبرضدماولا

(۵)وجه تسمیه:داحروف دَفعل سره مشابه دی لفظاً معنیً واستعمالاً.

لفظاً: داسے چه.....

(۱)ځنګه فعل ثلاثی اورباعی راځی نودغه شان داحروف هم دی، "اِنَّ اَنَّ لَيْتَ" ثلاثی دی او " كَاَنَّ ،لٰكِنَّ ،لَعَلَّ " رباعی دی۔

(۲)ځنګه چه دَ فعل په آخر کښې نون وقایه سره دَ "یَا" ضمیر نه راځی دغه شان دَ دی حروفو په آخر کښې هم راځی لکه "اِنَّنِیْ" ۔

(۳)ځنګه چه ماضی مبنی برفتحه وی دغه شان داحروف هم دی لکه "ضَرَبَ" او"كَاَنَّ" ۔

(۴) څنګه چه دَفعل په آخر کښې "هَا" ضمیر دَ غائب راځی نوداسے دَ دی په آخر کښې هم راځی لکه "ضَرَبَهُ او" اِنَّهُ " ـ
(۵) څنګه چه فعل کښې ادغام او فکّ ادغام کیږی نو دے کښې هُم ـ
معناً: داسے چه "اِنَّ اَنَّ " بمعنی تَحَقَّقْتُ ،كَاَنَّ بمعنی تَشَبَّهْتُ ،لَيْتَ بمعنی تَمَنَّيْتُ،لَعَلَّ بمعنی تَرَجَّيْتُ، لٰكِنَّ بمعنی اِسْتَدْرَكْتُ " ـ
دَ استدراک مطلب دادے چه دَ مخاطب په ذهن کښې دَ راتلونکے سوال دَ مخکښے نه جواب اوشی۔
استعمالاً: مشابهت داسے دے چه څنګه دَ فعل نه بعد دوه اسمونه راشی نو اول اسم لره رفع ورکښې اودویم لره نصب ورکوی مثال "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرواً " داسے دا هم دی چه دَ دی نه روستو دوه اسمونه راځی، لیکن دوئ اول لره نصب ورکوی اوثانی لره رفع ورکوی، ځکه چه حروف فرع دَ فعل دی، نومونږ دَ اصل اوفرع په درمیان کښې دَ فرق دَ پاره داسے اوکړل۔
سوال: داخوصحیح ده چه اسم لره نصب ورکوی اوخبرلره رفع، حالانکے خبرخو دَ مخکښې نه مرفوع وو۔
جواب: خبر مخکښې دَ عامل معنوی دَ وجه نه مرفوع وو، اوس عامل لفظی راغلو، اوعامل لفظی قوی دے دَ عامل معنوی نه، اوچه قوی وی نوضعیف ختمیږی۔

قاعده: کله دَ دے حروفو نه روستو "مَا "راشی نو دا "مَا کافه عن العمل وی "یعنی داحروف بیاعمل نه کوی لکه "اِنَّمَازَیْدٌ قَائِمٌ "،دلته "اِنَّ " عمل نه دے کړے۔

(۶)اسم دَ مَا وَلَا: دلته کښې هم پنځه خبری پیژندل ضروری دی.

(۱)ذات (۲)تعداد (۳)مدخول (۴)عمل (۵)وجه تسمیه۔

(۱)ذات: دَ دی حروف دی۔

(۲)تعداد: کښې دوه دی۔

(۳)مدخول: دَ دی جمله اسمیه یعنی مبتداء اوخبر دی۔

(۴)عمل: دَ دی دا اسم ته رفع اوخبر ته نصب ورکوی۔

(۵)وجه دَه تسمیه: دیته حروف مشبهتان بَلَیْس وایئ،داځکه چه دَ دی مشابهت دے دَ "لَیْسَ " سره لفظاً اومعنیً۔

لفظاً: خو داسے دے چه ځنګه "لَیْسَ " اسم لره رفع اوخبرته نصب ورکوی، نودغه شان داهم اسم له رفع اوخبرله نصب ورکوی لکه "مَازَیْدٌ قَائِماً، لَارَجُلٌ ظَرِیْفاً " ۔

اومعناً: داسے چه "لَیْسَ " دَ نفی دَ پاره راځی، دغه شان داهم دَ نفی دَ پاره راځی۔

فرق دَ مَا او لَا

"مَا" عام دے په معرفه اونکره دواړو باندی داخلیږی او "لَا"خاص دے صرف په نکره داخلیږی،دَ دی وجه نه دَ "مَا "مشابهت دَ "لَیْسَ " سره

پوره دے په نسبت دَ "لَا" څکه "لَیْسَ" په معرفه اونکره دواړو باندی داخلیږی. مثال دَ "مَا" لکه "مَازَیْدٌ قَائِماً" مثال د "لَا" لکه "لَارَجُلٌ اَفْضَلُ مِنْکَ"۔ **خوکله چه.....**

(۱)دَ دی په اسم باندی "اِنْ" داخل وی لکه "مَااِنْ زَیْدٌ قَائِمٌ"۔

(۲)دَ دی په خبر باندی "اِلاَّ" داخل وی لکه "مَازَیْدٌ اِلاَّشَاعِرٌ"۔

(۳)دَ دی خبرپه اسم باندی مقدّم نه وی لکه "مَاقَائِمٌ زَیْدٌ"۔

نوپدی دری واړو صورتونو کښی "مَا"عمل نه کوی۔

دَ **"لَا" دَ عمل** دَ پاره هم دری شرطو نه دی چی .....

(۱)دَ دی په خبر باندی به "اِلَّا"داخل نه وی لکه "لَارَجُلٌ اِلَّافِقِیْهٌ"

(۲)دَ دی په اسم باندی به خبر مقدم نه وی لکه "لَاقَائِمٌ فَرَسٌ"

(۳)دَ "لَا" مدخول به نکره وی، که یوهم معرفه وی نو عمل به نه کوی. لکه "لَا بَکْرٌ قَارِیٌٔ" ۔

نو په ددی دری واړو صورتونو کښی به "لَا" مُلغٰی عن العمل وی۔

(۷)**اسم دَ کان واخواتها:** دیته افعال ناقصه وایئ چه دا اسم ته رفع او خبرته نصب ورکوی۔ او افعال ناقصه ټول ۱۷ دی۔

"کَانَ، صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰیَ، و اَضْحٰی، ظَلَّ، بَاتَ، مَابَرِحَ، مَادَامَ، مَا انْفَکَّ، لَیْسَ، مَافَتِیَٔ اومَازَالَ" ۔

دا دیارلس مشهور دی، اوڅلورغیرمشهور دی. "عَادَ،غَدَا، آضَ اورَاحَ"

مثال: "کَانَ زَیْدٌ قَائِماً،صَارَ الْفَقِیْرُ غَنِیاً" ۔

(۸)**خبر دَ لائے نفی جنس:** لکه "لَارَجُلَ قَائِمٌ" د ؟ لائے نفی جنس تفصیل به انشاء اللّه په بیان دَ حروف عاملو کښې راشي۔

فصل نمبر ۱۳ منصوبات

منصوبات دولس دی (۱)مفعول به (۲)مفعول مطلق (۳)مفعول له (۴)مفعول معه (۵)مفعول فیه(۶)حال (۷)تمیز (۸)اسم دَ اِنَّ واخواتها (۹)خبر دَ ماولامشبهتین بلیس (۱۰)خبرد ؟ کانَ وخواتها (۱۱)اسم دَ لائے نفی جنس (۱۲)مستثنی۔

(۱)**مفعول به:** هغه اسم ته وایئ چه په هغی باندی دَ فاعل فعل واقع شوے وی لکه " اَکَلَ زَیْدٌ طَعَاماً،شَرِبَ خَالِدٌ مَاءً " ۔

قاعده: په بعض ځایونوکښې دَ مفعول به فعل حذف کیږی دَ څه قرینے دَ وجه نه لکه میزبان دَخپل میلمه دَ راتلو په وخت کښې دَ هغه دَ خوشحالئ دَ پاره وایئ "اَهْلاً وَسَهْلاً "چه داپه اصل کښې "اَتَیْتَ اَهْلاً وَوَطَیْتَ سَهْلاً "وو۔

دغه شان دَ خطرے په وخت کښې وئیلے کیږی " اِیَّاکَ وَالْاَسَدَ " چه داپه اصل کښې " اِتَّقِ نَفْسَکَ مِنَ الْاَسَدِ " وو۔

دغه شان چاته دَ آواز کولوپه وخت کښې هم فعل حذف کیږی لکه "یَاغُلَامَ زَیْدٍ "چه داپه اصل کښې " اَدْعُو غُلَامَ زَیْدٍ "وو۔

بحث دَ مُنادیٰ

کوم ځائے چه منادیٰ اونداء وی نوهلته څلوراشیاء وی۔

(۱)منادٰی (۲)منادِی (۳)حرف نداء (۴)مقصود بالنداء۔
منادِی آواز کونکښی ته و ایئ، اومنادیٰ چه چاته آواز اوشی، اومقصود بالنداء چه کومه خبره مقصود وی۔
نوټ:حروف نداء پنځه دی یَا، هَیَا، اَیَا، اَیْ، همزه مفتوحه۔
"اَیَا" او"هَیَا" دَ بعید دَ پاره راځی ځکه چه زیادت دَ حروفُ دلالت کوی په زیادت دَ مسافت باندی،او "اَیْ " او"هَمْزه" مفتوحه دَ قریب دَ پاره راځی ځکه چه قلت دَ حروفُ دلالت کوی په قلت دَ مسافت باندی، او "یَا" عامه دَه۔

اعراب دَ منادی

دَ منادی دَ پاره یوځو قسمه اعراب دے۔
اول نصب:دِ دَ پاره یو څو صورتونه دی۔
(۱)که منادی مضاف وی لکه "یَاغُلَامَ زَیْدٍ" ۔
(۲)شبه مضاف وی لکه "یَاقَارِئاً کِتَاباً " ۔
(۳)نکره غیر معینه وی لکه یونابیناانسان وایئ"یَارَجُلاً خُذْ بِیدِیْ " ۔
دویم علامت دَ رفع: دِ دَ پاره یو څو صورتونه دی۔
(۱) منادی مفرد معرفه وی نودابه مبنی وی په علامة درفع سره لکه "یَازَیْدُ " ۔
نوټ:مفرد نه مراد هغه دے چه دَ مضاف په مقابله کښی وی، یعنی مضاف یاشبه مضاف نه وی لکه "یَازَیْدُ یَازَیْدَانِ،یَازَیْدُوْنَ " ۔
(۲)منادی نکره معینه لکه "یَارَجُلُ " ۔

دریم جر: دِ دَ پاره یوصورت دے چه کچری منادی مستغاث بلام وی

خلورم مبنی برفتح: دِ دَ پاره یوصورت دے هغه دا چه کله منادیٰ مستغاث بالالف وی نودابه مبنی برفتح وی لکه "یَازَیْدَاهُ " ـ

قاعده(۱) کچری منادی معرف باللام وی نودَ حرف نداء اومُنادی په درمیان کښی دَ مذکر دَ پاره "اَیُّهَا" اودَ مؤنث دَ پاره "اَیَّتُهَا" فاصله راوړے شی. لکه "یَااَیُّهَا النَّاسُ، یَااَیَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ" ـ

قاعده(۲) په منادی کښی ترخیم هم جائز دےیعنی تخفیف دَ پاره آخری حرف حذف کول۔

قاعده(۳) په منادی مرخم باندی اصل حرکت هم وئیلے شی۔ اوضمه هم لکه "یَامَالِکُ" کښی "یَامَالِ ،یَامَالُ " دواړه وئیلے شی۔

(۲)مفعول مطلق: هغه مصدر دے چه دَ فعل نه روستو واقع وی، او هغه مصدر دَ دغه فعل هَم معنی وی، برابره خبره ده که بنا یو وی او که جدا،ماده یوه وی اوکه جدا اوباب یو وی که جدا وی لکه "ضَرَبْتُ ضَرْباً، قَعَدْتُ جُلُوْساً، اَنْبَتَ نَبَاتاً " ـ

تقسیم: په مفعول مطلق کښی په دوؤ اعتبارو سره تقسیم کیږی (۱)باعتباراللفظ (۲)باعتبار معنی۔

باعتبار اللفظ په دری قسمه دے۔

(۱)چه فعل اومفعول مطلق دواړو باب، معنی، اوماده یو وی لکه "ضَرَبْتُ ضَرْباً " ـ

(۲)چه دَ فعل اومفعول مطلق دواړو معنی اوباب یو وی لیکن ماده یوه نه وی لکه "قَعَدْتُ جُلُوْساً " ـ
(۳)چه دَ فعل اومفعول مطلق دواړو ماده اومعنی یوه وی لیکن باب یو نه وی لکه "تَبَتَّلْ اِلَیْهِ تَبْتِیْلاً " ـ
(۲)باعتبار معنی سره هم په دری قسمه دے(۱)تاکیدی (۲)نوعی (۳)عددی۔
تاکیدی: هغه دے چه دَ فعل اومفعول مطلق دواړو مدلول یو وی لکه "ضَرَبْتُ ضَرْباً " ـ
نوعی:هغه دے چه مفعول مطلق دَ فعل دَ انواعُ نه یوه نوعه وی لکه جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِئْ " ـ
عددی:هغه دے چه دَ مفعول مطلق عدد بیانوی لکه "جَلَسْتُ جَلْسَةً او جَلْسَتَیْنِ او جَلْسَاتٌ " ـ
بیا "فَعْلَةٌ " دَ بیان عدد دَ پاره دے، او "فِعْلَةٌ " دَ بیان حالت دَ پاره دےلکه یوشاعر وئیلی دی۔
اَلْمَفْعَلُ لِلْمَوْضِعِ اَلْمِفْعَلُ لِلْآلَةِ: اَلْفَعْلَةُ لِلْمَرَّةِ وَ الْفِعْلَةُ لِلْحَالَةِ
قاعده:مفعول مطلق فعل کله دَ څه قرینے دَ وجه نه حذف کیږی هم لکه "خَیْرَ مَقْدَمٍ" اصل کښی "قَدِمْتَ قُدُوْماً خَیْرَ مَقْدَمٍ" وو۔
(۳)مفعول له:هغه اسم دے چه دَ هغی دَ وجه نه فعل واقع شوے وی لکه "قُمْتُ اِکْرَاماً لِزَیْدٍ، وَضَرَبْتُهٗ تَأْدِیْباً " ـ

یا هغه اسم دے چه دا فعل دَ ده دَ وجه نه موجود شوے وی لکه "قَعَدْتُ عَنِ الْحَرْبِ جُبْناً" ۔

(۴)مفعول معه:هغه اسم دے چه دَ "واو" نه روستو واقع شوے وی، اودغه "واو" په معنی دَ "مَعَ" سره وی لکه "جَاءَ زَيْدٌ وَالْكِتَابَ" ۔

نوټ:دَ "واو عاطفه" او "واو" بمعنی "مع" په درمیان کښی فرق په دریو طریقو سره دے۔

(۱)دَ واؤ عاطفه ماقبل اومابعد دواړو اسمونو اعراب یو وی په خلاف دَ واؤ بمعنی مع نه۔

(۲) دَ واؤ عاطفه ماقبل اسم اومابعد اسم دواړه په حکم کښی مستقل وی، په خلاف دَ واؤ بمعنی مع نه، ځکه چه په هغی کښی دواړه اسمونه په حکم کښی مشترک وی لکه زید سحر راغلواوبکر ماښام نوداسے وئیلے شی چه "جَاءَ زَيْدٌ وَبَكْرٌ "(راغلو زید اوبکر) لیکن "جَاءَ زَيْدٌ وَبَكْراً "(زید راغلو سره دَ بکرنه) داسے نشی وئیلے، اول مثال کښی هر یوله مجیئت مستقل ثابت دے اوپه دویم مثال کښی دواړه په مجیئت کښی مشترک دی۔

(۳)کچرے "واو عاطفه" لرے کړے شی اودَ دی په ځائے "مع" کیخودے شی نو معنی نه صحیح کیږی، په خلاف دَ "واو" بمعنی "مع" نه چه "واو" بمعنی "مع" لرے کړے شی او دَ هغی په ځائے "مع" کیخودے شی نو بیا هم معنی صحیح کیږی لکه "جِئْتُ وَزَيْداً "دَ دی په ځائے "جِئْتُ مَعَ زَيْدٍ" وئیل هم صحیح دی۔

(۵)مفعول فیه: هغه اسم دے چه فعل مذکور په دی کښی واقع شوے وی، اودیته ظرف هم وایئ، ظرف په لغت کښی لوخی ته وایئ۔ دَظرف دوه اقسام دی (۱)ظرف زمان (۲)ظرف مکان دَدی تفصیل په ظروفو کښی تیر شوے دے۔

ظرف زمان: دا په دوه قسمه دے (۱)مبهم (۲)محدود۔

دغه شان دَ ظرف مکان هم دوه اقسام دی (۱)مبهم (۲)محدود۔

(۱)ظرف زمان مبهم: هغه ته وایئ چه دَ دی ځه زمانه یاحد معین نه وی، زمان لکه "دَ هْرٌ، حِیْنٌ" مثال لکه "صُمْتُ دَهْراً (ای فی دهرٍ)۔

(۲)ظرف زمان محدود: هغه ته وایئ چه دَ دی ځه زمانه یاحد معین وی. زمان لکه " سَنَةٌ، شَهْرٌ ،یَوْمٌ ، لَیْلٌ، سَاعَةٌ، دَقِیْقَةٌ"مثال لکه "سَافَرْتُ شَهْراً "(ای فی شهرٍ)۔

ظرف مکان: داهم په دوه قسمه دے(۱)مبهم لکه "خَلْفٌ، اَمَامٌ" مثال لکه "جَلَسْتُ خَلْفَکَ "(ای فِیْ خَلْفِکَ) وَقُمْتُ اَمَامَکَ " (ای فِیْ اَمَامِکَ) (۲)محدود لکه "دَارٌ، مَسْجِدٌ "مثال لکه جَلَسْتُ فِیْ الْدَّارِ، وَصَلَّیْتُ فِیْ المَسْجِدِ" ۔

قاعده: په ظرف مکان محدود کښی "فِیْ" مذکور وی، باقی دری وارو کښی مقدر وی، څنګه چه دَ مثالونو نه واضح دی۔

یوشاعر مفاعیل خمسه په یوشعر کښی ذکرکړی دی۔

حَمِدْتُ حَمْداً حَامِداً وَّ حَمِیْداً : رِعَایَةَ شُکْرِهٖ دَ هْراً مَدِیْداً

ترکیب:حَمِدْتُ فعل فاعل،حَمْداً مفعول مطلق، حَامِداً مفعول به، او واو بمعنی مَعَ، حَمِیْداً مفعول معه، رَعَایَۃَ مضاف شُکْرِہٖ مضاف الیه، مضاف سره دَ مضاف الیه دا مفعول له شو، دَھْراً مَدِیْداً موصوف صفت مفعول فیه، فعل سره دَ فاعل اوسره دَ خپلومفاعیلو نه جمله فعلیه خبریه شوه۔

(۶)حال:هغه اسم دے چه دَ فاعل یا دَ مفعول یا دَ دواړو حال بیان کړی. دَ فاعل حالت په دی شان چه کله صدور دَ فعل دَ فاعل نه کیدو نو فاعل په کوم حالت کښې وو؟ ولاړوو، که ناست وؤ، او دَ مفعول حالت په دی شان چه کله وقوع دَ فعل دَ فاعل کیدو نومفعول په کوم حالت کښې وو،او دَ دواړو په حالت هم په دی مذکوره شان سره دے۔

امثله:دَ فاعل دَ حالت مثال لکه جَاءَ نِیْ زَیْدٌ رَاکِباً "، او دَ مفعول دَ حالت مثال لکه " ضَرَبْتُ زَیْداً مَشْدُوْداً " او دَ دواړو دَ حالت مثال لکه "کَلَّمْتُ زَیْداً جَالِسَیْنِ" ۔

قاعده:ذوالحال اکثر معرفه وی، اوکله نکره هم وی، لیکن دَ نکرے په صورت کښې تقدیم دَ حال واجب دے په ذوالحال باندی. کچری حال مقدم نه شی نو بیا دَ موصوف، صفت سره التباس راځی په حالت نصبی کښې. مثال دَ موصوف، صفت لکه "جِئْتُ رَجُلاً نَائِماً " دلته "رَجُلاً "موصوف او"نَائِماً " صفت دے۔

مثال دَ ذوالحال لکه "جِئْتُ نَائِماً رَجُلاً "دلته "نَائِماً " حال که مونثر مقدم نه کړو نو بيا دَ موصوف اوصفت سره التباس راځي۔

قاعده:ذوالحال لفظي هم وي اومعنوي هم،لکه "زَيْدٌ اَ کَلَ وَهُوَ جَالِسٌ" نو دلته په "اَ کَلَ " کښې "هُوَ" ضمير مستتر ذوالحال دے۔

قاعده: حال کله دَ فاعل لفظي او مفعول لفظي نه واقع کيږي لکه "جَاءَ زَيْدٌ رَاکِباً، رَاَيْتُ زَيْداً رَاکِباً . او کله حال دَ فاعل معنوي او مفعول معنوي نه واقع کيږي لکه"زَيْدٌ فِيْ الدَّارِ قَائِماً،هَذَازَيْدٌ قَائِماً " ۔

(۷)**تميز:**په لغت کښې بيانولو اوجدا کولو ته وايئ، او په اصطلاح کښې "تميز" هغه اسم دے چه دَ عدد، يا دَ وزن، يا دَ پيمانے، يا دَ مساحت، يا دَ مقياس نه ابهام لرے کړی۔

دَ عدد مثال لکه "اِنِّيْ رَأَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ کَوْکَباً "، دَ وزن مثال لکه "اِشْتَرَيْتُ رِطْلاً زَيْتاً "دَ پيمانے مثال لکه"بِعْتُ قَفِيْزَيْنِ بُرّاً" دَ مساحت مثال لکه "مَافِيْ السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَتِ سَحَاباً " دَ مقياس مثال لکه "عَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زَبَداً " ۔

(۸)**اسم انّ واخوتها:**ددے بحث په مرفوعاتُ کښې تير شوے دے۔

(۹)خبر دَ ما و لَا:مثال:مَازَيْدٌ قَائِماً " ۔

(۱۰)اسم دَ لائے نفي جنس:مثال:لَارَجُلَ ظَرِيْفٌ" ۔

(۱۱)خبر دَ کان وغيره:لکه "کَانَ زَيْدٌ قَائِماً " ۔

(۱۲)**مستثنى:**صيغه دَ اسم مفعول ده، په لغت کښې راوستلے شوی ته وايئ، اوپه اصطلاح کښې دا هغه اسم دے چه دَ حروف استثناء نه

روستو واقع وی، دَ پاره دَ دی چه داخبره ظاهره کړی چه دَکوم شی نسبت ماقبل ته یعنی "مستثنی منه طرف ته شوے دے هغه نسبت مستثنی ته نه ئ شوے۔

بالفاظ دیگر مستثنی دیته وایئ چه روستو دَ "اِلّا" او دَ اخواتو دَ "اِلّا" نه ذکر وی، او مخرج من المتعدد وی دَ دی دَ پاره چه داخبره ظاهر کړی چه دَکوم حکم نسبت مستثنی منه طرفته شوے وی مستثنی ترینه خارج دے۔

نوټ: دَ مستثنی جامع تعریف نشته دے، دَ دے وجه نه صاحب دَ کافیي اول تقسیم کړے دے دُوه قسمونو ته (۱)متصل (۲) اومنقطع بیا یئ دَ هر یوتعریف کړے دے۔

فائده: مستثنی بیا په دوه قسمه ده (۱)متصل (۲)منقطع.

متصل: دیته وایئ چه مستثنی مخکښی دَ استثناء نه په مستثنی منه کښی داخل وی لکه "جَاءَنِیْ الْقَوْمُ اِلّازَیْداً". دی مثال کښی "زَیْد" دَ مخکښی نه په قوم کښی داخل دے۔

منقطع: دیته وایئ چه مستثنی قبل الاستثناء په مستثنی منه کښی داخل نه وی لکه "سَجَدَ الْمَلَائِکَةُ اِلَّااِبْلِیْسَ"، جَانِیْ الْقَوْمُ اِلَّاحِمَاراً" دی مثال کښی "ابلیس" او"حمار" په ملائکو اوقوم کښی داخل نه دی۔

فائده: بیا مستثنی په دوه قسمه ده (۱)مفرغ (۲)غیرمفرغ۔

مفرغ: دیته وایئ چه دَ هغی مستثنی منه مذکور نه وی لکه "جَاءَنِیْ اِلّازَیْداً" ۔

غیرمفرغ: دیته وایئ چه دَ هغی مستثنی منه مذکور وی لکه "جَاءَنِیْ الْقَوْمُ اِلَّازَیْدًا " ـ

فائده: په کوم کلام کښی استثناء وی نودَ هغی بیادوه اقسام دی.

(۱) کلامِ موجَب (۲) کلامِ غیرموجب۔

کلام موجَب: دیته وایئ چه په هغی کښی نفی،نهی ،استفهام نه وی۔

کلام غیرموجب: دیته وایئ چه په هغی کښی نفی، نهی ،استفهام وی۔

اقسام اعراب المستثنی

دَ مستثنی اعراب په څلورقسمه دے (۱)وجوب النصب (۲)نصب وبدلیت (۳)بحسب العامل (۴)وجوب الجرّ۔

نصب: دَنصب دَ پاره پنځه صورتونه دی۔

(۱) کچری مستثنی روستو دَ " اِلَّا" نه په کلام موجب کښی واقع وی نودابه همیشه منصوب وی لکه "جَاءَنِیْ الْقَوْمُ اِلَّازَیْدًا " ـ

(۲) کچری په کلام غیرموجب کښی مستثنی په مستثنی منه باندی مقدم وی نو منصوب به وی لکه "مَاجَاءَ نِیْ اِلَّازَیْداً اَحَدٌ " ـ

(۳) مستثنی منقطع به همیشه منصوب وی لکه "سَجَدَ الْمَلٰئِکَةُ اِلَّا اِبْلِیْسَ " ـ

(۴) روستو دَ "خَلَا" او"عَدَا" نه دَ اکثر علماء په نزد باندی منصوب وی لکه "جَاءَنِیْ الْقَوْمُ خَلَازَیْدًا " ـ

(۵)چه مستثنی روستو دَ "مَاخَلَا،مَاعَدَا، لَيْسَ ،لَايَكُوْنُ" نه واقع وی نو منصوب به وی لکه "جَاءَنِيْ الْقَوْمُ مَاخَلَازَيْدًا "الخ۔

(۲)**نصب وبدل:**چه مستثنی روستو دَ "اِلَّا "نه په کلام غیر موجب کښی وی، اومستثنی منه یئ مذکور وی نوپه دی کښی دوه وجے دی (۱)نصب (۲)بدل، لکه "مَاجَاءَنِيْ اَحَدٌ اِلَّازَيْداً " او "مَاجَاءَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدٌ" دلته "زَيْدٌ مرفوع دے بنا بربدلیت۔

(۳)**بحسب العامل:**چه مستثنی روستو دَ "اِلَّا" نه په کلام غیرموجب کښی واقع وی او مستثنی منه یئ محذوف وی، نودَ مستثنی اعراب به بحسب العامل وی، یعنی که عامل رافع وو نومرفوع به وی، اوکه عامل ناصب وو نومنصوب به وی، اوکه عامل جارّه وو نومجرور به وی، لکه "مَاجَاءَنِيْ اِلَّازَيْدٌ ، مَارَأَيْتُ اِلَّازَيْداً ،مَامَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ"دیته مستثنی مفرغ هم وایئ۔

(۴) **اعراب دَ جر:**چه مستثنی روستو دَ لفظ "غَيْرُ،سِوٰى، سَوَاءَ، حَاشَا"نه واقع وی نومجرور به وی، ځکه چه دا لفظاً حروف جارّه دی اومعناً حروف استثناء دی لکه "جَاءَنِيْ الْقَوْمُ غَيْرَزَيْدٍ وَسِوٰى زَيْدٍ وَسَوَاءَ زَيْدٍوَحَاشَا زَيْدٍ" ۔

اعراب دَ لفظ دَ غیر

دَ "غَيْرُ " اعراب پشان دَ مستثنیٰ "بِاِلَّا" اعراب دے ، یعنی هغه پنځه ورومبنی قسمونه دی۔ **تفصیل یئ دادے چه:**

(۱)یعني مستثنی روستو دَ "اِلَّا" نه په کلام موجب کښې منصوب وو نو دَ "اِلَّا" په ځائے مونږه "غَيْرَ" کیخودو نو دا منصوب وګرځیدو او هغه روستو مستثنی به مجرور وی، لکه "جَاءَنِيْ الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ"۔

(۲)دَ دی اعراب دَ مستثنی منقطع اعراب پشان دے لکه "سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ غَيْرَ اِبْلِيْسَ۔

(۳)په کلام غیرموجب کښې چه کله مستثنی په مستثنی منه باندی مقدم وی(یعني دویم قسم)نو"غَيْرَ"به منصوب وی لکه "مَاجَاءَنِيْ غَيْرَ زَيْدٍ اَلقومُ"۔

(۴)نصب اوبدل:لکه "مَاجَاءَنِيْ اَحَدٌغَيْرَزَيْدٍ وَغَيْرُ زَيْدٍ" ۔

(۵)اعراب بحسب العامل لکه "مَاجَاءَنِيْ غَيْرُ زَيْدٍ مَارَأَيْتُ غَيْرَزَيْدٍ مَامَرَرْتُ بِغَيْرِزَيْدٍ" ۔

نوټ:دَ "غَيْرُ"دَ مستثی اعراب به همیشه مجرور وی، لیکن دَ لفظ "غَيْرُ" اعراب دَ ماقبل پنځه وؤ قواعدو مطابق به وی، یعني غَيْرُ، غَيْرَ، غَيْرِ بدلیږی رابدلیږی۔

فائده: لفظ "غَيْرُ"اصل وضع کښې دَ پاره دَ صفت ده، خوکله کله دا استثناء دَ پاره هم راځی لکه جَاءَنِيْ الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ" ای "اِلَّازَيْداً "۔

او " اِلَّا" اصل وضع کښې دَ استثناء دَ پاره ده، خوکله صفت دَ پاره هم راځی لکه اللّٰه تعالی فرمایئ "لَوْكَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا" ای "غَيْرَاللّٰهِ"، دغه شان "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ای "غَيْرُاللّٰهِ" ۔

فصل نمبر۱۴ المجرورات

کوم اسم چه مجرور وی نودا په دوه قسمه دے (۱)مجرور بالاضافت (۲)مجرور بحرف الجر یعنی چه په اسم باندی حرف جر داخل شوے وی۔

قاعده: په مضاف باندی الف لام اوتنوین نشی راتلے، داځکه چه دَ اضافت دَ وجه نه نکره معرفه کیږی،یعنی اضافت دَ پاره دَ تعریف وی، او الف لام هم دَ تعریف دَ پاره راځی، نو بیا دوه علامے دَ تعریف په یوه کلمه کښی راځی او دا صحیح نه دی۔

قاعده: نون دَ تثنیه اونون دَ جمع دَ اضافت دَ وجه نه غورځیږی لکه "غُلَامَا زَیْدٍ" ،طَالِبُوْا عِلْمٍ"- دا نون ځکه غورځیږی چه نون دَ تثنیے او دَ جمع دَ انفصال دَ پاره راځی، او اضافت اتصال غواړی، نودا دواړه نشی جمع کیدے۔

قاعده: دَ مضاف الیه دَ معنی ترجمه چه اوشی نوپه اُردو کښی "کا" ، "کے"، کی"، "را"، "رے"،"ری" راځی، دَ دی تفصیل مخکښی په قواعدو دَ مرکب اضافی کښی تیرشوے دے۔

اقسام دَ اعراب دَ اسم متمکن

دَ اسم متمکن اعراب په دری قسمه دے (۱)رفع (۲)نصب (۳)جر۔

رفع: دَ پاره دری حالت دی، دوه حرفی او یوحرکتی۔

دَ حرکتی "رفع" په ضمے سره لکه "زَیْدٌ" شو په "جَاءَ زَیْدٌ" کښی۔

اودَ حرفي "رفع" په "واو" سره يا په "الف" سره راځي لکه "اَبُوْکَ" شو په "جَاءَ اَبُوْکَ" کېږي،او "رَجُلَانِ" شو په "جَاءَ رَجُلَانِ" کېږي۔

نصب: دَ پاره څلور حالته دي، دوه حرکتي اودوه حرفي۔

(۱)دَحرکتي "نصب" په فتحې سره يا په کسرې سره راځي لکه "زَيْداً" شو په "رَأَيْتُ زَيْداً " کېږي. او"مُسْلِمَاتٍ" شو په "رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ" کېږي۔

(۲) دَحرفي "نصب" په الف سره يا په "يَا" سره لکه "اَبَاکَ " شو په "رَأَيْتُ اَبَاکَ" کېږي. او"مُسْلِمِيْنَ" شوپه "رَأَيْتُ مُسْلِمِيْنَ" کېږي۔

جر: دَ پاره درې حالته دي، دوه حرکتي دي او يوحرفي دې۔

(۱)دَ حرکتي "جر" په کسرې سره يا په فتحې سره راځي لکه "زَيْدٍ" شوپه "مَرَرْتُ بزَيْدٍ" کېږي. او "بِاَحْمَدَ"شو په "مَرَرْتُ بِاَحْمَدَ" کېږي۔

(۲)دَ حرفي "جر" په "يَا"سره لکه "مُسْلِمِيْنَ" شو په "مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ" کېږي۔

اقسام دَ اسم متمکن

دَ اعراب په لحاظ سره دَ اسم متمکن شپاړلس(۱۶) اقسام دي۔

بيا دا په دوه قسمه دي(۱) باعراب بالحرکت (۲)باعراب بالحرف۔

دَ اتو ۸ اقسامو اعراب بالحرکت دې، او اعراب بالحرکت درې دي (۱)ضمه (۲)فتحه (۳)کسره۔

دَ اته ۸ اقسامو اعراب بالحرف دې، او اعراب بالحرف هم په درې قسمه دې (۱)واو (۲)الف (۳)يا۔

بیا هر واحد دَ اعراب بالحرکت او بالحرف نه په دوه قسمه دے۔
(۱)لفظی (۲)تقدیری، نو کل ځلور۴ اقسام شو (۱)اعراب بالحرکت لفظی (۲)اعراب بالحرکت تقدیری (۳)اعراب بالحرف لفظی (۴)اعراب بالحرف تقدیری۔
بیا دَ دی ځلورو واړو نه هر یو په دوه دوه قسمه دے (۱)حقیقی (۲)حکمی۔ نوټول اته ۸ اقسام شول۔

نوټ:حقیقی دیته وایئ چه په دریو واړوحالاتو(یعنی رفع،نصب ،جر) کښی یوحالت دَ بل تابع نه وی۔
اوحکمی:دیته وایئ چه په دریو واړو حالاتو کښی یودَ بل تابع وی (یعنی جر دَ نصب، یانصب دَ جر تابع وی)۔

بیان دَ اصنافُ دَ اعراب

اعراب بالحرکت لفظی حقیقی: یعنی هغه اقسام چی دَ هغی اعراب بالحرکت وی، او یو حالت دَ بل تابع نه وی هغه دری دی۔
اول قسم مفرد منصرف صحیح: دَ دی حالت رفعی په ضمی لفظی سره، اوحالت نصبی په فتحی لفظی سره، اوحالت جری په کسری لفظی سره وی، لکه "جَاءَ نِیْ زَیْدٌ، رَأَیْتُ زَیْدًا، مَرَرْتُ بِزَیْدٍ" ۔
دَ قیودات فوائد:مفرد یئ ذکرکړو نوتثنیه اوجمع یئ ترینه خارج کړه،منصرف یئ ذکرکړو نو غیرمنصرف ترینه خارج شو، اوصحیح یئ ذکر کړو نوغیرصحیح ترینه خارج شو۔

صحیح:په لغت کښې تندرست ته وايئ، اوپه اصطلاح دَ نحاتو کښې صحیح دیته وايئ چه دَ دی په آخرکښې حرف علّت نه وی لکه "زَيْدٌ" اوپه اصطلاح دَ صرفیانوکښې صحیح دیته وايئ چه دَ دی دَ "فاء ،عين،لام" کلمے په مقابله کښې نه حرف علت، همزه، او دوه حرفه دَ يو جنس نه وی لکه "رَجُلٌ" ـ

فائده:مفرد مقابل دَ څلورو څیزونو راځی (۱)مقابل دَ مرکب (۲) مقابل دَ تثنیه، جمع (۳)مقابل دَ مضاف اوشبه مضاف ۴) مقابل دَ جملے ـ

دویم قسم جاری مجری صحیح:په لغت کښې قائم مقام دَ صحیح ته وايئ، اوپه اصطلاح کښې جاری مجریٰ صحیح دیته وايئ چه دَ دی په آخر کښې حرف علت وی اومخکښې حرف صحیح ساکن وی لکه "دَلْوٌ، ظَبْيٌ".مثال لکه "هٰذَا دَلْوٌ، رَاَيْتُ دَلْواً، مَرَرْتُ بِدَلْوٍ" ـ

دریم قسم جمع مکسرمنصرف صحیح:لکه "رِجَالٌ "دَ دی تعریف مخکښې ذکر شوے دے.مثال لکه "جَاءَ نِيْ رِجَالٌ، وَرَأَيْتُ رِجَالاً، وَمَرَرْتُ بِرِجَالٍ" ـ

دَ قیوداتُ فوائد:جمع مکسر يئ ذکرکړه احتراز يئ اوکړو دَ جمع صحیح سالم نه، منصرف يئ ذکر کړو نو احتراز يئ وکړو دَ غير منصرف نه،اوصحیح يئ ذکرکړو نواحتراز يئ اوکړو دَغيرصحیح نه ـ

سوال:دی دری قسمونوته يئ داقسم اعراب ولی ورکړو؟

جواب:دے له یۍ دا اعراب ځکه ورکړو چه دا اعراب اصل دے اودا قسمونه هم اصل دی، نو اصل له یۍ اصل اعراب ورکړو ـ

مثلاً:اسم مفرد منصرف صحیح، اصل دے. مفرد په نسبت دَ تثنیه اوجمع، اومنصرف په نسبت دَ غیرمنصرف، اوصحیح په نسبت دَ غیرصحیح سره اصل دے۔

دارنګے مفرد جاری مجریٰ صحیح اصل دے ، په نسبت سره جاری مجری غیرصحیح ته، اوجمع مکسر اصل دے په نسبت سره جمع سالم ته. اودا اعراب (اعراب بالحرکت) اصل دے، په نسبت سره بالحرف ته، اولفظی اصل دے په نسبت سره تقدیری ته، اوحقیقی اصل دے په نسبت سره حکمی ته، لهذا اصل له مونږه اصل اعراب ورکړو۔

څلورم جمع مؤنث سالم: ده لکه "مُسْلِمَاتٍ" ـ

تعریف یۍ مخکښې ذکر شوے دے۔ دَ دې حالت رفعي په ضمې لفظي سره، اوحالت نصبي اوجري په کسرې لفظي سره(نصب تابع دَجردے) یعنی اعراب بالحرکت لفظي حکمي مثال لکه "جَاءَنِیْ مُسْلِمَاتٌ، رَأَیْتُ مُسْلمَاتٍ، مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ" ـ

سوال:جمع مؤنث سالم لره یۍ دا قسم اعراب ولے ورکړو؟

جواب:جمع مؤنث سالم فرع دَ جمع مذکر سالم ده، نوجمع مذکر سالم کښې نصب تابع دَ جر وو نو دلته هم مونږ نصب دَ جرتابع کړو دَ پاره دَ دې چه زیادت دَ فرع رانشي په اصل باندې، او یاهلته اعراب

بالحرف وو چه اصل اعراب دے، نو دلته اعراب بالحرکت دے چه فرع اعراب دے۔

پنځم قسم غیرمنصرف: دے. دَ دی تعریف مخکښی ذکرشوے دے۔

اعراب دَ دی بالحرکت لفظی حکمی دے، یعنی په حالت رفعی کښی په ضمی لفظی سره، اونصبی جرّی په فتحی لفظی سره، یعنی جر تابع دَنصب دے. لکه "جَاءَ اَحْمَدُ، رَأَیْتُ اَحْمَدَ، مَرَرْتُ بِاَحْمَدَ۔

سوال: غیرمنصرف ته یئ دا قسم اعراب ولے ورکړو؟

جواب: غیرمنصرف دا مشابه دےدَ فعل سره په وجود دَ فرعتینو کښی، لکه څنګه چه فعل په صدور کښی محتاج دے فاعل ته اوپه اشتقاق کښی مصدر ته، نودغه شان په دی کښی هم یوسبب دَبل محتاج دے، او په فعل کسره اوتنوین نه راتلو نو په غیرمنصرف به هم کسره اوتنوین نه راځی۔

شپږم قسم اسماء سته مکبّره: دی کله چه دا مضاف وی غیر یاء متکلم ته، نودَ دی اعراب په حالت رفعی کښی په "واو" لفظی سره وی، اوحالت نصبی کی "الف" لفظی سره، اوحالت جری کښی په "یَا" لفظی سره، یعنی اعراب بالحرف لفظی حقیقی په احوال ثلاثوؤ کښی. لکه "جَاءَ اَبُوْکَ، رَأَیْتُ اَبَاکَ، مَرَرْتُ بِاَبِیْکَ، جَاءَ ذومَالٍ، رَأَیْتُ ذَامَالٍ، مَرَرْتُ بِذِیْ مَالٍ " ـ

تفصیل دَ اسماء سته مکبره: اسماء جمع دَ اسم ده، اوستّه شپږ ته وایئ، مکبّره چه دَ تصغیر په حالت کښې نه وی. اسماء ستّه مکبّره دادی (۱)أَبٌ معنی پلار (۲)اَخٌ ،رور (۳)حَمٌ،لیور (۴)هَنٌ ،شرمګاه (۵)فَمٌ خُله (۶)ذُوْمَالٍ خاوند دَ مال۔

فائده:ذُوْ په دوه قسمه دے (۱)ذُوْ بمعنی صاحب لکه "ذُوْمَال" ای صاحبُ مالٍ (۲)بمعنی "اَلّذِیْ" لکه "ذُوْطَوَیْتُ" ای الذی طویتُ. نو کوم "ذُوْ" چه په معنی دَ صاحب وی هغه به همیشه مضاف وی اسم ظاهر ته۔

شرائط اسماء سته مکبّره: دَ دوئ دَ پاره څلور شرائط دی۔

(۱)**شرط:** دادے چه مکبّربه وی مصغر به نه وی، ځکه که مصغر وی نو دَ دی اعراب بیا تصغیر والاوی، یعنی مفرد منصرف پشان به وی لکه "جَاءَ اُخَیٌّ، رَأَیْتُ اُخَیاً، مَرَرْتُ بِاُخَیٍّ۔

(۲)**شرط:** دادے چه واحد به وی، که واحد نه وو نوبیا به یئ تثنیه او جمع والا اعراب وی، مثال دَ تثنیه لکه "جَاءَ اَبَوَانِ، رَأَیْتُ اَبَوَیْنِ، مَرَرْتُ بِاَبَوَیْنِ" مثال دَ جمع لکه "جَاءَ اٰبَاءٌ،رَأَیْتُ اٰبَاءً،مَرَرْتُ بِاٰبَاءٍ" ۔

(۳)**شرط:** دادے چه مضاف به وی، غیرمضاف به نه وی، کچری غیرمضاف وی نوبیا به یئ دَ اسم مفرد منصرف صحیح والا اعراب وی، یعنی اعراب بالحرکت لفظی حقیقی لکه "جَاءَ اَبٌ، رَاَیْتُ اَباً، مَرَرْتُ بِاَبٍ" ۔

(۴)شرط: دادے چه مضاف به وی غیریائے متکلم ته، کچری مضاف وی یائے متکلم ته نو بیا به یئ په دریو واړوحالاتو کښی اعراب تقدیری وی لکه "جَاءَ اَبِیْ، رَأَیْتُ اَبِیْ،مَرَرْتُ بِاَبِیْ " ـ

نوکله چه داشرائط مذکوره پوره وی نودَدی اعراب به مذکوره بالاوی۔

سوال:تا دوئ لره اعراب بالحرف ولی ورکړو؟ حالانکه دا خو مفردات دی، دوئ له دَ مفرد منصرف صحیح والا اعراب ورکول پکاردی.

جواب:دا اعراب یئ ځکه ورکړو چه دَ اصل اوفرع په درمیان کښی لړے والے رانشی۔

اُوم قسم تثنیه حقیقی.**اتم قسم** مشابه بالتثنیه.**نهم قسم** ملحق بالتثنیه۔ دَ دے دریو واړو اعراب په حالت رفعی کښی په "الف" ماقبل مفتوح اونون مکسور سره، اونصبی جرّی کښی په "یَا" ماقبل مفتوح اونون مکسوره سره. لکه "جَاءَ نِیْ رَجُلَانِ،کِلَاهُمَا، وَ اِثْنَانِ، وَ اِثْنَتَانِ، رَأَیْتُ رَجُلَیْنِ، وَکِلَیْهِمَا، وَ اِثْنَیْنِ، وَ اِثْنَتَیْنِ، وَ مَرَرْتُ بِرَجُلَیْنِ، وَکِلَیْهِمَا، وَ اِثْنَیْنِ وَ اِثْنَتَیْنِ " ـ

لسم قسم جمع مذکرسالم: یعنی جمع حقیقی ده۔ **یولسم قسم مشابه بالجمع:** چه "اُوْلُوْ" دے۔ **دولسم قسم ملحق بالجمع:** چه "عِشْرُوْنَ" دے۔ دَ دے دری واړو قسمونو اعراب په حالت رفعی کښی په "واؤ" ماقبل مضموم اونون مفتوح سره، اوحالت نصبی اوجری کښی په "یَا" ماقبل مکسور او نون مفتوحه سره وی، یعنی اعراب بالحرف لفظی حکمی. لکه "جَاءَ مُسْلِمُوْنَ، وَاُوْلُوْ مَالٍ، وَعِشْرُوْنَ رَجُلاً، رَأَیْتُ

مُسْلِمِيْنَ، وَ أُوْلِيْ مَالٍ، وَعِشْرِيْنَ رَجُلاً، مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ، وَأُوْلِيْ مَالٍ، وَعِشْرِيْنَ رَجُلاً " ـ

فائده: ملحق بالجمع دَ پاره په کلام دَ عربو کښې اته ۸ الفاظ راځي يعني "عِشْرُوْنَ، ثَلَاثُوْنَ ... تا تِسْعُوْنَ" پورې ـ

سوال: دَ تثنيه او جمع سره ئې دا قسم اعراب ولې خاص کړو؟

جواب: دَ تثنيه اوجمع دَ پاره حالات شپږ دي، درې دَ تثنيه دَ پاره، او درې دَ جمع دَ پاره دي، او زمونږ سره درې اعرابه دي، واؤ، الف او يا، اوس که دا درې واړه مونږ تثنيه له ورکوو نوجمع بلااعرابه پاتې کيږي، که جمع له يې ورکوو نو تثنيه بلااعرابه پاتې کيږي، اوکه دواړو له يې ورکوو نو بيا التباس راځي په درميان دَ تثنيه اوجمع کښې، اوکه دواړو له يې نه ورکوو نوبيا اهمال راځي، نو مونږ صلحه اوکړه هغه داسې چه "الف" مونږتثنيې له ورکړو په حالت رفعي کښې، ځکه چه "الف" کثير الاستعمال دې، تقاضه دَ خفت کوي، او "واو" مونږ جمع له ورکړو په حالت رفعي کښې، اوس باقي څلور حالات دي، دوه حالته دَ تثنيه، (حالت نصبي اوجرى) اودوه حالته دَ جمع (نصبي اوجرّی) اودَ اعراب يوحرف پاتې شوچه "يَا" ده، نومونږ "يا" دواړو له ورکړه، بيا التباس دفع کولو دَ پاره په تثنيه کښې "يا" ماقبل مفتوح اونون مکسور کړو. اوپه جمع کښې "يا" ماقبل مکسور اونون مفتوح کړو ـ

ديارلسم قسم اسم مقصور: دې.او دا هغه اسم دې چه دَ دې په آخر کښې "الف" مقصوره وي لکه "مُوْسٰى" ـ

خوارلسم قسم: جمع مذکرسالم نه علاوه بل اسم چه مضاف وی یا دَ متکلم ته لکه "غُلَامِیْ" دَ دی دواړواعراب په دریو واړو حالاتو کښې تقدیری دے یعنی اعراب بالحرکت تقدیری حقیقي په احوال ثلاثؤو کښې لکه "جَاءَ مُوْسٰی، وَغُلَامِیْ، رَأَیْتُ مُوْسٰی وَغُلَامِیْ، مَرَرْتُ بِمُوْسٰی وَغُلَامِیْ" ـ

سوال: دی دواړو قسمونو ته یئ دا اعراب ولے ورکړو؟

جواب: دَ اسم مقصور په آخر کښې "الف" دے، اودا دَ دی قابل نه دے چه په دی حرکت راشي، اودَ "غُلَامِیْ" په آخره کښې "یا" ده، او "یا" دَ ځان نه مخکښې کسره غواړی، اوس که مونږ اعراب لفظي ورکړو نو اجتماع دَ اعرابینُ متضادینُ راځی په حالت رفعي اونصبي کښې، او اجتماع دَ اربع حرکاتُ متوالیاتُ راځی په حالت جرّی کښې۔

پنځم لسم قسم اسم منقوص: دے، دا هغه اسم دے چه دَ دی په آخر کښې "یا" ماقبل مکسور وی، بیا "یا" عامه ده که حقیقتاً وی اوکه تقدیراً وی، حقیقتاً لکه "قَاضِیْ" اوتقدیراً" لکه "قَاضٍ" شو۔ اعراب دَ دی په حالت رفعي کښې په ضمی تقدیری سره، او په حالت نصبي کښې په فتحی لفظي، سره او په حالت جری کښې په تقدیر دَ کسرے سره. یعنی اعراب بالحرکت حقیقي مشترک لکه "جَاءَ الْقَاضِیْ، رَأَیْتُ الْقَاضِیَ، مَرَرْتُ بَالْقَاضِیْ" ـ

سوال: تاپه حالت رفعي اوجری کښې تقدیری اعراب ورکړو، اوحالت نصبي کښې لفظي داولے؟

جواب:په حالت رفعي اوجری کښې تقديرې ځکه دے چه ضمه اوکسره په "يَا" باندې ثقيله ده، اوحالت نصبې کښې ځکه لفظي دے چه فتحه اخف الحركات ده۔

شپاړلسم قسم جمع مذكرسالم: چه مضاف وی "يا" ضمير دَ متكلم ته۔ دَ دی اعراب په حالت رفعي کښې په "واو" تقديرې سره، اوحالت نصبې جری کښې په "يا" لفظي سره، يعنې "يا" ماقبل مكسور،لكه"هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِيَّ،رَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ،مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ" يعنې اعراب بالحرف مشترک حکمي۔

سوال:دلته حالت رفعي په "واو" تقديرې سره ولے دے، اوحالت نصبې جری کښې په "يا" سره ولے دے؟

جواب:په حالت رفعي کښې "واؤ" بدل شوے دے په "يا" سره، اوپه حالت دَ ابدال کښې شیٔ دَ خپل اصل نه وځی۔

نوټ: "مُسْلِمِيَّ" په اصل کښې "مُسْلِمُوْنَ" وو، چه "يا" دَ متكلم ته يئ اضافت وشو نو نون دَ جمع دَ اضافت دَ وجه نه حذف شو، نو "مُسْلِمُوْيَ" شو بيا "واؤ، يا" په يوه كلمه کښې جمع شو، "واؤ" په قانون دَ "قُوَيِّلٌ، قُوَيِّلَةٌ" سره په "يا" بدل شو، بيا "يا" په "يا" کښې مدغمه شوه نو"مُسْلِمُيَّ" شو، بياضمه دَ "ميم" دَ "يا" دَ مناسبت دَ وجه نه په کسرے سره بدل شو نو "مُسْلِمِيَّ" شو،بيا اجتماع دَ متجانسينُ دَ وجه نه په "يا" په "يا" کښې شو نو " مُسْلِمِيَّ" شو۔

او "مُسْلِمِيَّ" (حالت نصبی جری کښی) اصل دَ دی "مُسْلِمِيْنَ" دے، "يَا" ماقبل مکسور ده، نو بعد الاضافت "واو" په "يا" سره نه دے بدل کړے بلکه "يا" دَ مخکښے نه موجود ده، نو صرف "يا" په "يا" کښی مدغم شوی ده۔

فصل نمبر۱۶ توابع

توابع جمع دَتابع ده،په لغت کښی په معنی دَ وروستے کیدوسره راځی۔ اوپه اصطلاح کښی هغه اسم دے چه دَ خپل متبوع نه په دویم نمبر کښی وی، او دَ دواړو اعراب هم یو وی اوجهت دَ اعراب هم یووی۔

توابع په پنځه قسمه دی (۱)صفت (۲)تاکید (۳)بدل (۴)عطف بالحرف (۵)عطف بیان۔

(۱)**صفت:**هغه تابع دے چه دَ خپل متبوع بنه یا بَد حالت ظاهر کړی، یا دَ خپل متبوع متعلق حالت ظاهر کړی، لکه "جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ " او "جَاءَنِي رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ " ـ

اقسام دَ صفت:صفت په دوه قسمه دے (۱)صفت بحاله (۲) صفت بحال متعلقه۔

صفت بحاله:دیته وایئ چه دَ خپل متبوع بنه یابد حالت ظاهر کړی لکه "جَاءَنِي رَجُلٌ عَالِمٌ " ـ

بیا په صفت بحاله کښی په مابین دَ تابع اومتبوع کښی په لسُ خیزونو کښی مطابقت ضروری دے۔

(۱)تعریف (۲)تنکیر (۳)تذکیر (۴)تانیث (۵)افراد (۶)تثنیه (۷)جمع (۸)رفع (۹)نصب (۱۰)جر۔

نو پدے کښې به بیک وقت څلور څیزونه ضروری دی، په تعریف تنکیر کښې یو، اوتذکیر تانیث کښې یو، واحد،تثنیه ،جمع کښې یو، او رفع،نصب،جرکښې یولکه "عِنْدِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ ،رَجُلَانِ عَالِمَانِ، رِجَالٌ عَالِمُوْنَ،اِمْرَاءَةٌ عَالِمَةٌ، اِمْرَاءَتَانِ عَالِمَتَانِ"۔

صفت بحال متعلقه: دیته وایئ چه دَ خپل متبوع متعلق حالت ظاهر کړی، لکه "جَاءَنِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ" ۔اوپه دی کښې په پنځو ؤو څیزونو کښې مطابقت ضروری دے۔

(۱) تعریف (۲) تنکیر (۳) رفع (۴) نصب (۵) جر، لکه " جَاءَتْنِیْ اِمْرَاءَةٌ عَالِمٌ اِبْنُهَا" ۔

قاعده:صفت مفرد هم وی او جمله هم،دَمفرد مثال لکہ"جَاءَنِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ"دَ جملی مثال لکہ "جَاءَنِیْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ" ۔

قاعده:چه کله صفت جمله وی نو دَ دی دَ پاره دری شرائط دی۔

(۱)موصوف نکره وی(۲)جمله خبریه به وی (۳)جمله کښې به ضمیر وی چه هغه به راجع وی موصوف ته۔

قاعده:ضمیر نه موصوف واقع کیږی او نه صفت. موصوف دَ دی وجه نه نه واقع کیږی چه دَ موصوف دَ پاره چه صفت راوړے کیږی نو یا خو دَ صفت دَ پاره اویا دَ وضاحت دَ پاره، اوضمیر خو پخپله اعرف المعارف دے، نودَ دی توضیح او تخصیص ته ضرورت نشته.

اوصفت څکه نه واقع کیږی چه دَ صفت دَ پاره چه کوم موصوف وی نوهغه به اعلی وی او یا مساوی. او دا ضمیر نه څه اعلی وی اونه دَ څه څیز مساوی وی۔

(۲)تاکید:تاکید په لغت کښې مضبوطولوته وایئ، اوپه اصطلاح کښې دا هغه تابع دے چه متبوع لره مضبوط کړی، په نسبت کښې یا په شمول کښې. دَ نسبت مثال لکه "جَاءَنِیْ الاَمِیْرُ الاَمِیْرُ" او دَ شمول مثال لکه "جَاءَنِیْ القَوْمُ کُلُّهُمْ" ـ

اقسام دَ تاکید:تاکید په دوه قسمه دے (۱)لفظی (۲)معنوی۔

تاکید لفظی:دیته وایئ چه یو لفظ پکښې مکرر راشی، که په فعل کښې شک وی نو بیابه فعل مکرر راوړے کیږی، لکه "جَاءَ جَاءَ زَیْدٌ" اوکه په فاعل کښې شک وی نوبیابه اسم یعنی فاعل مکرر راوړے کیږی لکه "جَاءَ زَیْدٌزَیْدٌ" ـ

تاکید معنوی:دیته وایئ چه ظاهراً په الفاظو کښې تاکید نه وی بلکه په معنی کښې وی، او دَ دی دَ پاره اته ۸ الفاظ راځی۔

(۱)نَفْسٌ (۲)عَیْنٌ (۳)کِلَا کِلْتَا (۴)کُلٌّ (۵) اَجْمَعُ (۶) اَ کْتَعُ (۷) اَبْتَعُ (۸)اَبْصَعُ۔

نَفْسٌ، عَیْنٌ: دا دَ واحد، تثنیه،او دَ جمع دَ تاکید دَ پاره راځی، لکه "جَاءَ زَیْدٌ نَفْسُهٗ، جَاءَ زَیْدَانِ اَنْفُسُهُمَا،جَاءَ زَیْدُوْنَ اَنْفُسُهُمْ" ـ

کلا:دا دَ تثنیه مذکر، او **کلتا:** دَ تثنیه مؤنث دَ تاکید دَ پاره راځی، لکه جَاءَ الرَّجُلَانِ کِلَاهُمَا، جَاءَتِ الْمَرْاءَتَانِ کِلْتَاهُمَا" ـ

كُلٌّ، اَجْمَعُ:دا دواړه دَ جمع دَ تاکید دَ پاره راځی، لکه "جَاءَنِیْ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ" ـ

اَكْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْصَعُ: دا دَ جمع دَ تاکید دَ پاره راځی، لیکن دَ دی دَ پاره دوه شرائط دی. یو دا چه دا جمع نه به روستو واقع وی. دویم داچه بغیر دَ اجمعُ نه به واقع نه وی، لکه "جَاءَنِي الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ، اَكْتَعُوْنَ، اَبْتَعُوْنَ، اَبْصَعُوْنَ" ـ

(۳)بدل:هغه تابع دے چه پخپله مقصود بالنسبت وی، او دَ دی متبوع مقصود نه وی، بلکه متبوع بطور تمهید ذکرکړے شوے وی ـ

اقسام دَ بدل: بدل په څلور قسمه دے (۱) بدل الکل (۲) بدل البعض (۳) بدل الاشتمال (۴) بدل الغلط ـ

بدل الکل:دیته وایئ چه دَ بدل اومبدل منه دواړو مصداق اومطلب یو وی، مثال لکه "جَاءَنِي زَيْدٌ اَخُوْكَ، قَرَأْتُ الْكِتَابَ رَوْضَةَ الْاَدَبِ" ـ

بدل البعض:دیته وایئ چه دا دَ مبدل منه یوه حصه وی لکه "ضُرِبَ زَيْدٌ رَأْسُهُ" ـ

بدل الاشتمال:داهغه بدل دے چه دَ مبدل منه نه کل وی او نه بعض، بلکه دَ هغی دَ ضروریاتو اومتعلقاتو نه وی،لکه "سُلِبَ زَيْدٌثَوْبُهٗ" ـ

بدل الغلط:دیته وایئ چه پس دَ غلطئ نه صحیح لفظ سره ذکر شوے وی، لکه "رَأَيْتُ رَجُلاً حِمَاراً" ـ

(۴)عطف بالحرف:دیته وایئ چه دَ حرف عطف نه روستو راغلے وی، اوکوم نسبت چه متبوع طرف ته شوے وی نودغه نسبت تابع طرف ته هم شوےوی، لکه "جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَعَمْرٌو " ـ
متبوع ته معطوف علیه اوتابع ته معطوف وایئ۔
حروف عاطفه لس دی لکه شاعر په دی شعرکښی جمع کړی دی۔
ده حروف عاطفه مشهور اند یعنی واو،فاء
ثُمَّ حتی او اِمّا اَمْ ،بل لکن و لا

قاعده: چه کله ضمیر مرفوع متصل مستتر جائز الاستتار وی یا واجب الاستتار وی، او په دی باندی اسم ظاهر عطف شوے وی نو دَ دی په درمیان کښی ضمیر فصل راوړے شی په دی شرط چه درمیان کښی څه فاصله نه وی لکه "یَا آدَمُ اسْکُنْ اَنْتَ وَ زَوْجُکَ"، دلته "زَوْجُکَ " عطف په "اُسْکُنْ" کښی چه کوم ضمیر دے په هغه دے، اوکچری درمیان کښی څه فاصله وی نوبیاضمیر فصل راوړل صحیح نه دی، لکه"سَیَصْلٰی نَاراً ذَاتَ لَهَبٍ وَّاَمْرَأَتُهٗ"، نو دلته دَ "اِمْرَاءَتُهٗ " عطف دے "یَصْلٰی" په ضمیر باندی ، او په درمیان کښی فاصله شته دے۔

قاعده:کچرے معطوف علیه ضمیر مجرور بحرف جر وی، نو په معطوف کښی به اعاده دَ جر کولے شی دَ اکثر علماؤ په نزد لکه "فَقَالَ لَهَا وَلِلْاَرْضِ اِئْتِیَا". نو دلته دَ "اَلْاَرْضِ" عطف په "لَهَا" شوے دے نو اعاده دَ حرف په "لِلْاَرْضِ" کښی اوشوه۔

(۵)**عطف بیان:**داهغه تابع دے چه صفت نه وی بلکه پشان دَ صفت خپل متبوع ظاهرکړی، لکه "جَاءَ زَيْدٌ اَبُوْ عَمْرٍو" ـ

فصل نمبر ۱۷ عوامل لفظی ومعنوی

عوامل جمع دَ عاملٌ ده، عامل دیته وایئ چه عمل کوی، اوعوامل په دری قسمه دی (۱)لفظی (۲)معنوی (۳)قیاسی۔ **بیا لفظی** په دری قسمه دی (۱)حروف عامله (۲)اسماء عامله (۳) افعال عامله۔

عامل لفظی:دیته وایئ چه ظاهراً په الفاظو کښی موجود وی، لکه "عَلَى الْاَرْضِ" کښی "عَلىٰ" ئ "اَلْاَرْضِ"له جر ورکړے دے۔

عوامل لفظیو نه اول حروف عامله دی. او دا په دوه قسمه دی.

(۱)چه عمل کوی په اسم کښی (۲)چه عمل کوی په فعل کښی.

هغه حروف چه عمل کوی په اسم کښی دا ټول ووه ۷ دی۔

(۱)حروف جارّه (۲) حروف مشبه بالفعل (۳)ماولا المشبهتان بلیس (۴)لائے نفی جنس (۵)حروف نداء (۶)واو بمعنی مع (۷)اِلَّا حرف استثناء۔

(۱)**حروف جاره:**چه اسم ته کسره ورکوی، دا کُل اوولس ۱۷ دی لکه په دے شعرکښی شاعر جمع کړی دی؎

باءو تاء وکاف ولام واو ومنذ ومذ خلا

رُبّ حاشا من عدا فی عن علی حتّی الی

فائده:هرجار مجرور ته ظرف وایئ، اوظرف په دوقسمه دے.

(۱)ظرف لغوه (۲)ظرف مستقر۔

ظرف لغوه: دیته وایئ چه متعلق یئ په لفظ کښې ذکر وی، لکه "آمَنَّا بِاللّٰهِ" ـ

ظرف مستقر: دیته وایئ چه متعلق یئ په لفظ کښې ذکرنه وی، لکه "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ" چه متعلق مثلاً "ثَابِتٌ" محذوف دے۔

(۲) حروف مشبه بالفعل: چه اسم ته نصب اوخبر ته رفع ورکوی دا شپږ دی۔

اِنّ اَنّ کَاَنّ لیت لکن لعلّ: ناصب اسمند رافع درخبر ضدماولا

مثال "اِنَّ زَیْداً قَائِمٌ، لَیْتَ زَیْداً حَاضِرٌ" ـ

(۳) ماولامشبهتان بلیس: لکه "مَازَیْدٌ قَائِماً" دَ "مَا" و "لَا" عمل دَ "اِنَّ اَنَّ" نه خلاف دے، ځکه چه دا اسم ته رفع اوخبرته نصب ورکوی۔

فائده: فرق په مابین دَ "مَا" او "لَا" کښې دا دے چه لفظ دَ "مَا" په معرفه او نکره دواړو داخلیږی، او "لَا" صرف په نکره داخلیږی۔

(۴) لائے نفی جنس: دیته وایئ چه دَ نفی دَ عموم دَ پاره راځی، دَ دی عمل دَ پاره پنځه شرائط دی۔

(۱) لَا به زائده نه وی۔

(۲) لَا به نفی دَ جنس وی، دَ وحدت به نه وی۔

(۳) په لَا به حرف جر داخل نه وی، که داخل وو نو "لَا" به مُلغی عن العمل وی لکه "جِئْتُ بِلَازَادٍ" ـ

(۴) لَا او دَ دی دَ اسم په درمیان کښې به څه فاصله نه وی، که فاصله وه نو بیابه مُلغی عن العمل وی لکه "لَافِیْ الدَّارِ زَیْدٌ" ـ

(۵)دَ لَا مدخول به معرفه نه وی، که معرفه وه نوبیا به ملغی عن العمل وی لکه "لَازَیْدٌ فِیْ الدَّارِ وَلَاعَمْرٌو" ۔

فائده: دَ "لَا"مدخول به دَ دُوه حالُ نه خالی نه وی، مفرد به وی یابه مضاف وی، او یابه شبه مضاف وی۔

دلته دَ مفرد نه مراد هغه دے چه دَ مضاف یا شبه مضاف مقابل وی، کچرے مضاف یاشبه مضاف وی نومنصوب به وی، مثال دَ مضاف لکه "لَاغُلَامَ رَجُلٍ فِی الْدَّارِ"، مثال دَ شبه مضاف لکه "لَاعِشْرِیْنَ دِرْهَمًا عِنْدِیْ" ۔

که مفرد وی نوبیا به دَ دُوو حالُ نه خالی نه وی، تکرار دَ نکره به سره دَ تکرار دَ "لَا" نه وی یابه نه وی، که نه وؤ نومبنی برفتحه به وی لکه "لَارَجُلَ فِی الدَّارِ" ۔

سوال:دا به مبنی برفتحه ولے وی؟

جواب:"لَارَجُلَ" په اصل کښې "لَامِنْ رَجُلٍ" وو نو "مِنْ " استغراقیه حذف شو او اسم دَ "لَا" دَ هغې په ځائے قائم مقام شو، اوقاعده داده چه کوم اسم متضمن حرف لره وی نو دغه اسم به دَ حرف پشان مبنی وی، اومبنی برفتحه ځکه دے چه دَ دی کوم اصلیت دے(یعنی معرب والے)هغه هم باقی پاتی شی ۔ اوکچری دَ تکرار دَ نکره سره دَ تکراردَ "لَا" نه وی، نوبیاپه دی کښې پنځه صورتونه وئیل جائز دی۔

(۱)"لَارَجُلَ فِی الدَّارِ وَلَا اِمرَاَةَ " ۔

(۲)"لَارَجُلَ فِی الدَّارِ وَلَااِمْرَاءَةٌ " ۔

(۳)"لَارَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَاامْرَاءَةً " ـ

(۴)"لَارَجُلٌ فِي الدَّارِ وَلَاامْرَاءَةَ دلته په لارجُل کښې دا لامشابه بليس دے، اولا امراءة کښې دا لا دنفي جنس دے، او امراءةَ اسم دے اوددی خبر محذوف دے چه في الدّار دے۔

(۵)"لَارَجُلٌ فِي الْدّار ولاامرءةٌ:دلته دواړه لامشابه بليس دی اود دويم عطف په اول دے۔

(۵)**حروف نداء:**چه منادی مضاف ته نصب ورکوی داپنځه حروف دی "يا،ايا،هيا،ای همزه".تفصيل په بيان دَمنادی کښې تيرشوے دے۔

(۶)**واو بمعنی مع:** لکه "اِسْتَوَیٰ الْمَاءُ وَالْخَشَبَةَ " ـ

(۷)**اِلّا حرف استثناء:** لکه "جَاءَ الْقَوْمُ اِلّا زَيْداً " ـ

دَ دی دواړوتفصيل هم په منصوباتُ کښې تير شوے دے۔

فصل نمبر ۱۹ حروف عامله درفعل مضارع

کوم حروف چه په فعل مضارع کښې عمل کوی نوهغه په دوه قسمه دی (۱)ناصب (۲)جازم۔

حروف ناصبه:څلور دی لکه شاعر په شعر کښې ذکرکړی دی۔

ان ولن پس کئ اذن اين چهار حرف معتبر

نصب مستقبل کند اين جمله دائم اقتضاء

اودا دَ فعل مضارع پنځه صيغو له نصب ورکوی، اودَ اوه ۷ صيغو نه نون اعرابی غورزوی، او دُوه صيغو کښې هيڅ عمل نه کوی۔

(۱)**اَنْ:**لکه " اُرِیْدُ اَنْ تَقُوْمَ " ، "اَنْ " فعل لره په معنی دَ مصدر گرځئ یعنی "اُرِیْدُ قِیَامَکَ" او دیته اَن مصدریه وایئ۔

(۲)**لَنْ:**لکه "لَنْ یَّذْهَبَ عَمْرٌو"، "لَنْ "دَ نفی دَ تاکید دَ پاره راځی، نه دَ نفی دَتابید دَ پاره لکه چه دمعتزلو مسلک دے۔

(۳)**کَی:**لکه "اَسْلَمْتُ کَیْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ " ۔

(۴)**اِذَن:**لکه "اِذَنْ اَشْکُرَکَ"دا په جواب دَ سوال کښی راځی لکه یوکس او وایئ "اَنَا اُعْطِیْکَ دِیْنَاراً" ۔

سوال: "اَنْ" وغیره خپل مدخول ته نصب ولے ورکوی؟

جواب:"اَنْ "دامخفف من المثقل دے،یعنی دَ "اَنَّ "سره مشابهت لری، لکه څنګه چه "اَنَّ" خپل مدخول ته نصب ورکوی، دارنګے داهم خپل مدخول ته نصب ورکوی، او "لَنْ، کَیْ، اِذَنْ" دَ "اَنَّ" سره مشابه دی ۔

قاعده:" اَنْ " دَ شپږو حروفونه روستو مقدّر وی اوفعل مضارع ته نصب ورکوی۔

(۱)دَ"حتّٰی"نه روستو لکه"مَرَرْتُ حَتّٰی أَدْخُلَ الْبَلَدَ"ای "اَنْ اَدْخُلَ الْبَلَدَ

(۲)دَ"لام جحد"نه روستو لکه"وَمَاکَانَ اللّٰهُ لِیُعَذِّبَهُمْ "ای "لِاَنْ یُّعَذِّبَهُمْ

(۳)هغه "واو" چه دَ "اِلَی اَنْ یا اَلاَّ اَنْ " په معنی وی لکه "لَاَلْزِمَنَّکَ اَوْ تُعْطِیَنِیْ حَقِّیْ "ای "اِلَی اَنْ تُعْطِیَنِیْ حَقِّیْ " یا " اِلَّا اَنْ تُعْطِیَنِیْ حَقِّیْ "

(۴)واو صرف نه روستو، او داهغه واو ته وایئ چه کوم شئ په معطوف علیه باندی داخل وی هغه دَ دی"واو"په مدخول باندی نه داخلیږی لکه۔

لَاتَنْهَ عَنْ خُلُقٍ وَتَأْتِیَ مِثْلَهٗ عَارٌ عَلَیْکَ اِذَا فَعَلْتَ عَظِیْمٌ

(۵)دَ "لامِ کَیْ"نه روستو لکه "اَسْلَمْتُ لِاَدْخُلَ الْجَنَّةَ "ای "لِاَنْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ " ۔

(۶)"فَا" نه روستو چه کله دَ شپږو څیزونو په جواب کښې واقع وی (۱)امر (۲)نهی (۳)نفی (۴)استفهام (۵)تمنی (۶)عرض۔

امر لکه "زُرْنِیْ فَاُکْرِمَکَ " (۲)نهی لکه "لَاتَشْتِمْنِیْ فَاُهِیْنَکَ "(۳)نفی لکه "مَا تَأْتِیْنَا فَتُحَدِّثَنَا" (۴)استفهام لکه " اَیْنَ بَیْتُکَ فَاَزُوْرَکَ "(۵) تمنّی لکه "لَیْتَ لِیْ مَالاً فَاُنْفِقَهٗ "(۶)عرض لکه "اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِیْبَ خَیْراً" ۔

سوال:په دی ځاینو کښې " اَنْ" ولے مقدّرکیږی؟

جواب:حتّی ،لام جحد او اَوْ چه په معنی دَ اِلیٰ اَنْ وی اولام کَیْ، دَ دی نه بعد "اَنْ " ځکه مقدّر کیږی چه داحروف جارّه دی اوپه فعل باندی داخل شوی دی حالانکے دَ دی داخلیدل په فعل باندی صحیح نه دی، ځکه چه داحروف په اسم باندی داخلیږی، اودَ واو صرف نه روستو ځکه "اَنْ" مقدّر وی چه دَدی عطف په ماقبل "لَاتَنْهَ" باندی صحیح نه دے ځکه چه بیا معنی غلطیږی اوخلاف مقصود راځی، نو مونږ "اَنْ"

مقدّر اومنل اودا په تأول دَ مفرد جوړکړو اوپه ماقبل اسم خُلُقٍ باندی دَ دی عطف اوکړو۔

سوال: دَ فاء نه روستو په دی شپږو مواضعو کښی "اَنْ" ولے مقدر وی؟

جواب: مثلاً "زُرْنِی فَاُکْرِمَکَ " داجمله مونږ وکتله نو اوله جمله انشائیه وه، اودویم جمله فعلیه خبریه وه، اودَجملے خبرئے عطف په جملے انشائیے باندی صحیح نه دی، نومونږ دَ جملے انشائیے دَ فعل دَ پاره مصدر محذوف را اویستو اوپه مابعد جمله کښی "اَنْ " مقدّر اومنو، دَ دی دَ پاره چه داپه تأویل دَ مفرد وګرځی، اودَ دی عطف په مصدر اوشی، نو تقدیر دَ عبارت داسے شو" زُرْنِیْ زِیَارَةً فَاُکْرِمَکَ،لَاتَشْتَمْنِیْ شَتْماً فَاُهِیْنَکَ،مَاتَأْتِیْنَااِتْیَاناً فَتُحَدِّثُنَا ،اَیْنَ بَیْتُکَ مَوْجُوْداً فَأَزُوْرُکَ،لَیْتَ لِیْ مَالاً ثُبُوْتاً فَاُنْفِقَهٗ،اَلَاتَنْزِلُ بِنَافَتُصِیْبَ خَیْرًا"

حروف جازمه: کوم حروف چه فعل له جزم ورکوی نوهغه پنځه دی لکه شاعر په شعر کښی جمع کړی دی۔

اِنْ و لَمْ لَمّا ولام امر لائے نهی نیز

پانچ حرف جازم فعلندهریک بے دغا

داحروف هم دَ نواصبُ پشان پنځو پنځو صیغو له جزم ورکوی، او دَ اووه <u>۷</u> صیغو نه نون اعرابی غور زوی، اوپه دُوه صیغو کښی هیڅ عمل نه کوی لکه "لَمْ یَنْصُرْ،لَمَّا یَنْصُرْ، لِیَنْصُرْ،لَاتَنْصُرْ،اِنْ تَنْصُرْ " ۔

اِنْ شرطيه: په دُوو جملو داخليږي، اولے جملے ته شرط وايئ، او دويمے جملے ته جزاء. او دا دَ مستقبل دَ پاره راځي، اګرچه په ماضي باندي ولي داخل نشي لکه "اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ" ـ

قاعده: کچرے دَ "شرط" جزاء جمله اسميه وی، يا امر، يانهي، يا دُعا وی، او يا ماضي سره دَ "قَدْ" وی، يامضارع "بَلَنْ " وی، نوپه جزاء کښي "فَا" راوړل واجب دی، دَ دی دَ پاره چه معلومه داشي چه شرط په جزاء عمل کړے دے۔

(۱)دَ شرط مثال چه جمله اسميه پکښي جزاء واقع وی لکه "اِنْ تَأْتِنِيْ فَاَنْتَ مُکْرَمٌ "(۲)امر لکه "اِنْ رَأَيْتَ زَيْداً فَأُکْرِمْهُ" ـ

(۳)ماضي مع "قد" لکه "اِنْ يَّسْرَقْ فَقَدْ سَرَقَ اَخٌ لَهٗ "(۴)نهي لکه "اِنْ اَتَاکَ عَمْرٌو فَلَاتُهِنْهُ"(۵)دُعا لکه "اِنْ اَکْرَمْتَنِيْ فَجَزَاکَ اللّٰهُ خَيْراً "(۶)**مضارع بلن:** لکه "وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْناً فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ" ـ

قاعده: ماضي چه کله په مقام دَ دُعاء کښي راشي، يا په دی حرف شرط يا اسم موصول داخل شي، نو دغه ماضي به په معني دَ مستقبل وی۔

(۱) مثال دَ دُعاء لکه "اِنْ اَکْرَمْتَنِيْ فَجَزَاکَ اللّٰهُ خَيْراً " ـ

(۲)مثال دَ شرط لکه "اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ " ـ

(۳)ماضي دَ اسم موصول نه روستو وی لکه "اِنَّ الَّذِيْنَ کَفَرُوْا " ـ

فائده(۱) فرق په مابين دَ "لَمْ" او "لَمَّا" کښي دادے چه په "لم" باندے حرف شرط داخليږی لکه "وَ اِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ " او په "لمّا" نه داخليږی۔

فائده(۲)"لَمَّا راځی دَ پاره دَ استمرار لکه "وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ " ـ

فصل نمبر ۲۰ افعال عامله

داخبره پیژندل ضروری دی چه فعل په اعتبار دَ زمانے سره په دری قسمه دے (۱)ماضی (۲)مضارع (۳)امراو نهی، بیا فعل په اعتبار دَ تصریف سره په دوه قسمه دے، یوهغه فعل چه دَ هغه گردان کیږی لکه "ضَرَبَ يَضْرِبُ" دویم هغه فعل چه گردان ئے نه کیږی لکه افعال مدح وذم، افعال تعجب اوبعض افعال ناقصه (ظلّ ،امسی،عاد وغیره) بیاپوهه شه چه هیڅ یو فعل بغیر دَ عمل نه نوی نو په اعتبار دَ عمل سره فعل په دوه قسمه دے (۱)معروف (۲)مجهول۔

فعل معروف: بیا په دوه قسمه دے (۱)فعل لازم (۲)فعل متعدی۔ فعل خواه که لازمی وی اوکه متعدی، خپل فاعل لره رفع ورکوی، دَ لازمی مثال لکه " قَامَ زَيْدٌ " دَ متعدی مثال لکه "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرواً "۔ دا دواړه فعلونه خواه که لازمی وی اوکه متعدی وی، شپږو اشيايو ته نصب ورکوی، لیکن فعل متعدی اُوم شئ ته هم نصب ورکوی چه هغه مفعول به دے هغه شپږ څیزونه دادی۔

(۱)مفعول مطلق (۲)مفعول فیه (۳)مفعول معه (۴)مفعول له (۵)حال (۶)تمیز، دَ دی تفصیل په منصوباتو کښی تیرشوے دے، اوفعل مجهول دَ فاعل په ځائے مفعول مالم یسم فاعله ته رفع ورکوی اوباقی مفاعیلو ته نصب لکه "ضُرِبَ زَيْدٌ (مفعول به) يَوْمَ الْجُمُعَةِ

(مفعول فيه ظرف زمان) اَمَامَ الْاَمِيْرِ(مفعول فيه ظرف مكان) ضَرْباً(مفعول مطلق) تَأْدِيْباً(مفعول له)۔

فعل متعدی: په څلور قسمه دے (۱)متعدی بیک مفعول (۲)متعدی بدومفعول(اقتصار په یوجائز وی) (۳) متعدی بدو مفعول چه (اقتصار په یوجائز نه وی) (۴)متعدی بسه مفعول۔

متعدی بیک مفعول: لکه "ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرواً۔

متعدی بدو مفعول: چه په دی کښی دَ یومفعول ذکرکول هم جائز دی لکه "اَعْطیٰ" اوهَم معنی دَ دی، مثال لکه "اَعْطَیْتُ زَیْداً دِرْهَماً " دلته "اَعْطَیْتُ زَیْداً " ویل هم صحیح دی۔

متعدی بدومفعول: چه په دیکښی اقتصار په یومفعول باندی صحیح نوی لکه افعال قلوب، چه شاعرپه خپل شعر کښی راجمع کړی دی۔

خلتُ باشد علمتُ پس حسبتُ بازعمتُ
پس ظننتُ بارأیتُ پس وجدتُ بے خطا

پدیکښی کښی "وَجَدْتُ،رَأَیْتُ،عَلِمْتُ " دا دَ یقین دَ پاره راځی او "حَسِبْتُ، خِلْتُ، ظَنَنْتُ"دا دَ شک دَ پاره راځی، او "زَعَمْتُ"په دواړو کښی مشترک دے۔

سوال:په افعال قلوب کښی اقتصار په یومفعول ولے جائزنه دے؟

جواب:دَ افعال قلوبُ نه روستو دوه مفعوله داپه منزله دَ مبتداء اوخبر دی، لکه څنګه چه دَ مبتداء اوخبر په درمیان کښی تلازم دے،نودغه شان په دی کښی هم دے، نو ځکه اقتصار په یو مفعول جائز نه دے۔

فائده:رأيتُ بمعنی ابصرتُ،علمتُ بمعنی عرفتُ،ظننتُ بمعنی اتهمت دابه متعدی بدو مفعول وی اواقتصار بدومفعول جائز دے په يومفعول نه دے جائز۔
قاعده:افعال قلوب به مُلغی عن العمل وی کله چه دَدویٔ په مفعول باندے حرف نفی يالام تاکيد يااستفهام داخل شی، مثال دَ نفی لکه "عَلِمْتُ مَازَيْدٌ فِي الْدَّارِ" مثال دَ لام تاکيد لکه "عَلِمْتُ لَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ " اومثال دَ استفهام لکه "عَلِمْتُ اَزَيْدٌ فِي الْدَّارِ اَمْ عَمْرٌو"، وجه داده چه حرف نفی اولام تاکيد اواستفهام وغيره صدارت دَکلام غواړی، نو دَ دی وجه نه دا ملغی عن العمل وی۔
(۴)متعدی بسه مفعول:هغه افعال دادی "اَعْلَمَ،اَرَیٰ،اَنْبَأَ، نَبَّأَ، اَخْبَرَ،خَبَّرَ،حَدَّثَ۔ مثال لکه "اَعْلَمْتُ زَيْداً عَمْرواً فَاضِلاً، رأيتُ عَمْرواً خَالِداً نَائِماً " دا ټول مفعولات مفعول به دی۔
(۳)افعال ناقصه:دا دیارلس دی لکه، کَانَ، صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰی، اَضْحٰی، ظَلَّ،بَاتَ،مَابَرِحَ،مَادَامَ مَاانْفَکَّ، لَيْسَ، مَافَتِیٔ، مَازَالَ " اوڅلور غيرمشهور دی "عَادَ،غَدَا،آضَ، رَاحَ "۔
سوال:دیته افعال ناقصه ولے وائي؟
جواب: ځکه چه دا افعال باوجود دَ لازم نه صرف په فاعل نه تماميږی بلکه خبرته محتاج دی، دَ دی وجی نه دیته افعال ناقصه وايئ۔
فائده:" کَانَ " په دری قسمه دے۔
(۱)ناقصه لکه" کَانَ زَيْدٌ قَائِماً " ۔

(۲)"کَانَ" تامه لکه" کَانَ اللّٰهُ وَ لَمْ یَکُنْ مَعَهٗ شَیٌٔ۔

(۳)"کَانَ" زائده: دیته وایئ کچرے داحذف شی نو په معنی کښی نقصان نه راځی لکه "زَیْدٌ کَانَ قَائِماً" ۔

(۴)افعال مقاربه: څلور مشهور دی دی " کَادَ، کَرُبَ، اَوْشَکَ، عَسٰی" اودری غیر مشهور دی "طَفِقَ، جَعَلَ، أَخَذَ" ۔

تعریف: افعال مقاربه هغه افعال دی چه په دی کښی متکلم داخبره معلومه کړی چه دَخبرحصول دَ اسم په قریبه زمانه کښی شوے دے۔

اقسام دَ افعال مقاربه: داپه دری قسمه دی، او ټول یئ څلور دی "عسٰی، کادَ، کَرُبَ، اوشکَ" ۔

(۱) "عَسٰی" دے، دا دَ امید دَ پاره راځی، په دی کښی دَ اسم دَ پاره دَ خبر دَ حصول امیدکړے شوے وی، مثال لکه "عَسٰی اللّٰهُ اَنْ یَّنْفَعَنَا" ۔

(۲)" کَادَ" دے ،دا دَ یقین دَ پاره راځی، په دی کښی دَ خبر حصول اسم ته قریب شوے وی، مثال لکه "کَادَ عَمْرٌو یَذْهَبُ" ۔

(۳) "کَرُبَ، اَوْشَکَ، طَفِقَ، جَعَلَ، اَخَذَ" دی، دا دَ شروع دَپاره راځی یعنی خبر په اسم کښی شروع وی، مثال لکه "کَرُبَ خَالِدٌ یَجْلِسُ" ۔

عمل دَ افعال مقاربه: دا افعال په مبتداء اوخبر داخلیږی، مبتداء ته اسم دَدوئ وایئ، او دیته رفع ورکوی، اوخبر ته نصب، خبر دَ دی به همیشه فعل مضارع وی۔ دابیاکله مقرون "بِاَنْ" وی اوکله بغیر دَ "اَنْ" وی۔

(۵)افعال مدح وذم: "هِیَ مَا وُضِعَ لِاِنْشَاءِ الْمَدْحِ وَالْذَّمِ" یعنی هغه افعال چه دَ مدح اوذم دَ پیدا کولو دَ پاره وضع کړے شوی وی۔

او داكُل څلور افعال دی، چه په دی شعر كښی ذكردی۔

رافع اسمائے جنس افعال مدح وذم بود

چارباشد نعم بئس ساء آنكه حبذا

قاعده: كوم شے چه دَ دی افعالو دَ فاعل نه روستو واقع وی، نو دغه ته مخصوص بالمدح يامخصوص بالذم وايئ۔

شرائط دَ افعال مدح وذم: يوشرط دادے چه فاعل دَ دی به معرّف باللام وی لكه "نِعْمَ الرَّجُلُ سَعْدٌ "،دويم داچه يابه معرّف باللام طرف ته مضاف وی لكه "نِعْمَ صَاحِبُ الْعِلْمِ عَلِیٌّ "يابه فاعل دَدی ضميرمستتر وی كله چه تميز دَ دغے نكره منصوبه وی لكه "نِعْمَ رَجُلاً بَشِيْرٌ " ، دلته دَ "نِعْمَ" فاعل "هُوَ" ضمير مستتر دے په "نِعْمَ" كښی او"رَجُلاً" دَ دی تميز منصوب دے، اونكره هم ده، اوضمير مستترئے مميّز دے۔

او"حَبَّذَا زَيْدٌ" كښی "حَبَّ" فعل مدح دے، او"ذَا" دَ دی فاعل دے، او "زَيْدٌ" مخصوص بالمدح دے۔

(۶)افعال تعجب: دَ فعل تعجب دوه صيغے دَ هر ثلاثی مجرد نه راځی۔

(۱) په وزن دَ "مَااَفْعَلَهٗ " لكه "مَااَحْسَنَ زَيْداً " ۔

(۲) په وزن دَ " اَفْعِلْ بِهٖ" سره راځی، لكه "اَحْسَنَ بِزَيْدٍ" ۔

اوبعضو دريمه صيغه هم ذكر كړے ده، لكه "حَسُنَ "په وزن دَ "فَعُلَ" دَ دی وجه نه دَ تعجب گردان په آخره كښی "ضَرُبَ "وئيلے كيږی.

ترکیب: دَ "مَا اَحْسَنَ زَيْداً "، "مَا" استفهامیه بمعنی "اَیُّ شَيءٍ" دا مضاف، مضاف الیه مبتداء، او "اَحْسَنَ زَيْداً " فعل فاعل اومفعول به، جمله خبر شوه، مبتداء سره دَ خبر نه جمله انشائیه، اسمیه، تعجبیه، چونکه دَ لفظ "مَا" په ترکیب کښی دری مذهبه دی، دَ فرّاء ، سیبویه او دَ اخفش، نوپه ترکیب کښی ئے هم دری احتمالات دی۔

(۱) دَ فراء په نزد باندی دا "مَا" استفهامیه بمعنی "اَیُّ شَيءٍ "ده، نوتقدیر دَعبارت داسے شو "اَیُّ شَيءٍ اَحْسَنَ زَيْداً " ۔

(۲) سیبویه اوخلیل نحوی په نزد باندی دا "مَا" نکره بمعنی "شَيءٌ عَظِيْمٌ " مبتداء ده، او " اَحْسَنَ الخ جمله خبر دے، نو تقدیر دَ عبارت به داسے شی "شَيءٌ عَظِيْمٌ اَحْسَنَ زَيْداً " ۔

(۳) دَ اخفش په نزد باندی دا "مَا" موصوله ده، او مابعد جمله یئ صله ده، موصول بمع صله دا مبتداء شوه، او "شَيءٌ عَظِيْمٌ " ئے خبر محذوف دے، نوتقدیردَعبارت دا شو "اَلَّذِیْ اَحْسَنَ زَيْدًا شَيءٌ عَظِيْمٌ "

ترکیب: دَ "اَحْسِنْ بِزَيْدٍ" په معنی دَ "اَحْسَنَ زَيْدٌ " سره دے، ځکه چه بظاهر خو "اَحْسِنْ " امر دے، خو داپه معنی دَ "اَحْسَنَ " ماضی دے، او "بِزَيْدٍ" کښی "بَا" زائده ده، نو دَ جار مجرور متعلق ته ضرورت نشته نوجار سره دَ مجرور نه دا فاعل شو دَ "اَحْسَنَ" ، فعل سره دَ خپل فاعل نه داجمله انشائیه، فعلیه، تعجبیه، ۔

فائده: کم افعال چه مشتق دی دَ الوانُ (رنګونو) نه یا دَ عیوبُ نه، نو هلته فعل تعجب نه شی راتلے لکه "اَحْمَرُ، اَعْوَرُ " ۔

فصل نمبر ۲۱ اسماءِ عامله

اسماء عامله كل يولس ۱۱ دى (۱)اسمائے شرطيه (۲)اسماء افعال بمعنى امر حاضر (۳)اسماء افعال بمعنى فعل ماضى (۴)اسم فاعل (۵)اسم مفعول (۶)صفت مشبه (۷)اسم تفضيل (۸)مصدر (۹)اسم تام (۱۰)اضافت (۱۱)اسماء كنايه۔

(۱)اسماءشرطيه: كل نهه۹دى۔"مَنْ،ومَا،ومَهْمَا،وأَىٌّ،وحَيْثُمَا،وإِذْما، ومَتٰى،وأَيْنَمَا،وأَنّٰى" ۔

امثله:"مَنْ يُكْرِمْنِىْ اُكْرِمْهُ، مَا تَشْتَرِ اَشْتَرِ، مَهْمَاتَقْعُدْ اَقْعُدْ، اَيُّهُمْ يَضْرِبْنِىْ اَضْرِبْهُ، حَيْثُمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ، اِ ذْ مَا تُسَافِرْ أُسَافِرْ ،مَتىٰ تَذْهَبْ اَذْهَبْ، اَيْنَمَا تَقْصِدْ اَقْصِدْ،اَنّٰى تَكْتُبْ اَكْتُبْ" ۔

(۲)اسماءافعال: بمعنى فعل ماضى،تعريف دَدى مخكښے ذكر شوے دے،لكه "هَيْهَاتَ" بمعنى "بَعُدَ" ، "شَتَّانَ" بمعى "اِفْتَرَقَ" ، "سَرْعَانَ" بمعنى "سَرَعَ"، دا افعال اسم ظاهر لره دَ فاعليت په بناء باندى رفع وركوى لكه "هَيْهَاتَ زَيْدٌ" ۔

(۳)اسمائے افعال: بمعنى فعل امر حاضر معلوم لكه "رُوَيْدَ" بمعنى اَمْهِلْ، "بَلْهَ" بمعنى دَعْ ، "حَيَّهَلْ" بمعنى، اَقْبِلْ"، "هَلُمَّ" بمعنى اِيْتِ، "دُوْنَكَ"بمعنى خُذْ ، "عَلَيْكَ" بمعنى اَلْزِمْ، "هَا" بمعنى خُذْ ، "صَهْ" بمعنى اُسْكُتْ، "مَهْ" بمعنى اُكْفُفْ، "نَزَالِ" بمعنى اِنْزِلْ، "تَرَاكِ" بمعنى اُتْرُكْ، "آمِيْنَ" بمعنى استجب، "فَقَطْ" بمعنى اِنْتَهِ يااُكْتَفِ، "اَمَامَكَ" بمنعى تَقَدَّمْ، "وَرَاءَكَ" بمعنى تأخّر، "مَكَانَكَ" بمعنى اَلْزِمْ مَكَانَكَ،عَلَى

الْاَمْرِ بمعنی اَقْبِلْ عَلَيْهِ، "اِلَى الْاَمْرِ" بمعنی عَجِّلْ اِلَيْهِ، "بِالْاَمْرِ" بمعنی عَجِّلْ بِهِ۔

(۴)**اسم فاعل:**دا دَ فعل معروف عمل کوی، یعنی فاعل ته رفع او مفعول به ته نصب ورکوی، لیکن په لاندنی شرائطُ سره چه.

(۱) اسم فاعل به په معنی دَ حال یا استقبال وی۔

(۲) اسم فاعل به تکیالړولے وی په یو دَ اشیاء سته وؤ باندی، چه لاندی ذکر کولے شی۔

(۱)مبتداء لکه "زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ "۔

(۲)موصوف لکه "مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ اَبُوْهُ بَكْراً۔

(۳)موصول لکه "جَاءَ نِي الْقَائِمُ اَبُوْهُ، جَاءَنِى الْضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرواً۔

(۴)ذوالحال لکه "جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِباً غُلَامُهُ فَرَساً" ۔

(۵) همزه استفهام لکه "اَضَارِبُ زَيْدٌ عَمْرواً" ۔

(۶)حرف نفی لکه "مَاقَائِمٌ زَيْدٌ" ۔

سوال:تادامذکوره شرائط ولے اولګول؟

جواب:اسم فاعل دَ فعل سره په حرکاتوا وسکناتو کښی لفظاً اومعناً مشابه دے، نوموږ دَ معنوی مشابهت دَ پاره یو شرط اولګولو چه په دی کښی به معنی دَ حال یا استقبال وی، اودویم شرط دَ دی وجه نه اولګولو چه لکه څنګه فعل مسند واقع کیږی نودغه شان اسم فاعل هم دَ مبتداء موصوف، موصول ذوالحال دَ پاره مسند واقع کیږی۔ اوهغه دَ دی دَ پاره مسند الیه واقع کیږی۔ اوحرف استفهام اوحرف نفی څنګه

چه په فعل باندے داخلیږی نو دغه شان په دی هم داخلیږی نو مشابهت ئے تام شو۔

(۵)**اسم مفعول:**دا دَ فعل مجهول عمل کوی، اود ؟ دی دَ عمل دَ پاره هم هغه شرائط دی کم چه دَ اسم فاعل دَ پاره وو،اوهغه عمل چه کوم"ضُرِبَ ،اُعطِيَ،عُلِمَ،اواُخْبِرَ" کوی نوداهم هغه عمل کوی۔

(۶)**صفت مشبه:** په لغت کښی دَ صفت کړے شوی نوم ته وایئ، اوپه اصطلاح کښی دا هغه اسمِ مشتق ته وایئ چه دَ فعل لازم نه جوړیږی اودلالت کوی په داسے ذات باندی چه دَ هغه سره معنی مصدری په طور دَ ثبوت اودوام وی مثال لکه "حَسَنٌ" ۔

(۷)**اسم تفضیل:**په لغت کښی دَبه کار کونکښی نوم ته وایئ، اوپه اصطلاح کښی هغه اسم مشتق ته وایئ چه دلالت کوی په داسے ذات باندی چه په هغه کښی زیادت دَ معنی مصدری بالنسبة الی الغیر وی لکه " اَلنَّبِیُ ﷺ اَجْوَدُ النَّاسِ"۔

دَ اسم تفضیل استعمال په دری طریقوسره کیږی.

(۱)په "مِنْ" سره لکه "زَیْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو"۔

(۲)په "الف لام" سره لکه "جَاءَنِیْ زَیْدُن الْاَفْضَلُ " ۔

(۳)په "اضافت" سره لکه "زَیْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ" ۔

دَ اسم تفضیل عمل دَ دی په فاعل کښی وی چه هغه ضمیرمستتر دے.

(۸)مصدر: په لغت کښې جائے صدور ته وايئ، اوپه اصطلاح کښې مصدر هغه اسم ته وايئ چه دلالت کوی په حدث باندی، اومشتق منه دَ پاره دَ مشتقاتُ واقع کيږی۔

شرائط عمل المصدر:(۱)يودا چه مفعول مطلق نه وی(۲)موصوف نه وی (۳)مُصغَر نه وی (۴)خپل مدخول نه متأخر نه وی (۵)عند البعض معرَّف باللام نه وی نوبيا دا فعل والا عمل کوی لکه "اَعْجَبَنِیْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرواً" ۔

الفرق بين اسماء المشتقات

فرق په مابين دَ فاعل او اسم فاعل کښې دادے چه اسم فاعل هميشه مشتق اووصف وی مثال لکه "ضَارِبٌ"، اوفاعل هميشه جامد اوذات وی لکه "ضَرَبَ زَيْدٌ" ۔

اوفرق په مابين دَ اسم فاعل اوصفة مشبه کښې دادے چه په اسم فاعل کښې تجدد او حدوث وی لکه "ضَارِبٌ"، اوصفت مشبه کښے ثبوت اودوام وی لکه "حَسَنٌ" ۔

اوفرق په مابين دَ اسم مبالغه اواسم تفضيل کښې دادے چه په اسم تفضيل کښې زيادت بالنسبة الى الغير وی لکه " زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو"اوپه اسم مبالغه کښې زيادت بنفسه وی لکه"عَلَّامَةٌ،غَفَّارٌ" ۔

اوفرق په مابين دَ مصدر اواسم مصدر کښې دادے چه اسم مصدر هغه ته وايئ چه دلالت کوی په حدث باندی اومشتق منه دَ پاره دَ مشتقاتُ نه واقع کيږی لکه "سَلَامٌ، کَلَامٌ، حِوَلٌ" په معنی دَ "تَسْلِيْمٌ"، تَکْلِيْمٌ"،

اومصدر هغه ته وایئ چه دلالت کوی په حدث، اومشتق منه دَ پاره دَ مشتقاتُ واقع کیږی۔

اوفرق په مابین دَ مصدر میمی اواسم ظرف کښی دا دے چه دَ مصدر میمی عین کلمه غالباً مفتوح راځی، اودَ اسم ظرف عین کلمے حرکة په اعتبار دَ حرکة دَ عین کلمے دَمضارع وی۔

(۹)**اضافت:** دا مضاف الیه ته جر ورکوی لکه "جَاءَنِیْ غُلَامُ زَیْدٍ"، دلته په حقیقت کښی "لام" مقدردے چه "غُلَامُ لِزَیْدٍ" دے۔

(۱۰)**اسم تام:** داتمیز ته نصب ورکوی،دَ اسم تام اضافت محال دے۔ دَ اسم تام دَ پاره یوځو څیزونه دی۔

(۱)**په تنوین:** سره اسم تمامیږی. بیاتنوین عام دے که لفظاً وی اوکه تقدیراً، لفظاً لکه "مَافِیْ السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَاباً" ۔

(۲)**تنوین تقدیری:** سره لکه "زَیْدٌ اَکْثَرُ مِنْکَ مَالاً "،دلته "اَکْثَرُ" کښی تنوین مُقدّر دیے۔

(۳)**دَ اضافت:** سره لکه "عِنْدِیْ مِلْؤُهٗ عَسَلاً"۔

(۴)**یانون تثنیه:** سره لکه "عِنْدِیْ قَفِیْزَانِ بُراً"۔

(۵)**یامشابه بنون جمع:** سره لکه "عِنْدِیْ عِشْرُوْنَ دِرْهَماً" ۔.

(۱۱)**اسمائے کنایه:** اودا " کَمْ "او" کَذَا " دی، بیاکم په دوه قسمه دے.

(۱)کم استفهامیه (۲)کم خبریه۔

كَمْ استفهاميه: خپل تميز له نصب ورکوی، اوکذا هم لکه " کَمْ رَجُلاً عِنْدَکَ، وَعِنْدِیْ کَذَا دِرْهَماً " ـ

کم خبريه:تميز ته جر ورکوی لکه "کَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُ، وَکَمْ دَارٍ بَنَيْتُ"ـ اوکله "مِنْ " جاره دَ "کَمْ " خبريه په تميز باندی داخليږی لکه "وَکَمْ مِنْ مَّلَکٍ فِی السَّمٰوَاتِ " الايه ـ

فصل نمبر۲۲ عوامل معنويه

دَ عواملُ دويم قسم عوامل معنويه دی ـ

تعريف:عامل معنوی ديته وايئ چه ظاهراً په الفاظو کښې موجود نه وی داپه دوه قسمه دی(۱)ابتداء (۲)خالی والے دَ فعل مضارع دے دَ نواصبُ اوجوازمُ نه ـ

ابتداء:يعنی خالی والے دَاسم دے دَ عامل لفظی نه، اودا ابتداء مبتداء لره رفع ورکوی لکه "زَيْدٌ قَائِمٌ " ـ

بياپه دی کښې درے مذاهب دی، دَ دی تفصيل په مرفوعاتُ کښې تير شوے دے ـ

دويم خالی والے دَ فعل مضارع: دے دَ نواصبُ اوجوازمُ نه، نودابيا فعل مضارع له رفع ورکوی لکه "يَضْرِبُ زَيْدٌ"، دلته "يَضْرِبُ " مرفوع دے ځکه چه دَ عوامل ناصبه اوجازمه نه خالی دے ـ

فائده:دَ فعل مضارع اعراب په دری قسمه دے رفع، نصب، جزم ـ

رفع: په دری قسمه ده(۱)په ضمه لفظی سره لکه "هُوَيَضْرِبُ " ـ

(۲) په ضمه تقديری سره لکه "هُوَ يَدْعُوْا" ـ

(۳)رفع په اثبات دَ نون اعرابی سره لکه "هُمَا يَضْرِبَانِ " ـ
نصب: دَ پاره هم دری حالات دی۔
(۱)نصب په فتحه لفظی سره لکه "لَنْ يَّضْرِبَ " ـ
(۲)نصب په فتحه تقدیری سره لکه "لَنْ يَّرْضٰی " ـ
(۳)نصب په حذف دَ نون اعرابی سره لکه "لَنْ يَّضْرِبَا " ـ
جزم: دَ پاره هم دری حالات دی۔
(۱)جزم په حذف دَ حرکت سره لکه "لَمْ يَضْرِبْ " ـ
(۲)جزم په حذف دَ حرف علت سره لکه "لَمْ يَدْعُ." ـ
(۳)اوجزم په حذف دَ نون اعرابی سره لکه "لَمْ يَضْرِبَا " ـ

اعراب دَ فعل مضارع

فعل مضارع په اعتبار دَ وجوه دَ اعراب سره په څلور قسمه دے۔
(۱)**صحیح:** مجرد از ضمیر بارز، دَ دی اعراب په حالت رفعی کښی په ضمی لفظی سره، اونصبی په فتحی لفظی سره، اوجزمی په سکون سره مثال لکه "هُوَ يَضْرِبُ، لَنْ يَّضْرِبَ، لَمْ يَضْرِبْ " ـ
(۲)**مفرد معتل:** واوی یا یائی، مجرد از ضمیر بارز، دَ دی اعراب په حالت رفعی کښی په تقدیر دَ ضمے سره لکه "هُوَ يَدْعُوْا"، هُوَ يَرْمِيْ، اوحالت نصبی په فتحه لفظی سره لکه "لَنْ يَّدْعُوَ، لَنْ يَّرْمِيَ، اوجزم په حذف دَ حرف علت سره لکه "لَمْ يَدْعُ، لَمْ يَرْمِ" ـ
(۳)**مفرد معتل:** الفی، مجرد از ضمیربارز، دَ دی اعراب په حالت رفعی کښی په ضمی تقدیری سره لکه "هُوَ يَرْضٰی "، اوحالت نصبی

په فتحي تقديري سره لکه "لَنْ يَّرْضٰى" اوجزم په حذف دَ لام کلمے سره لکه "لَمْ يَرْضَ" ـ

(۴)صحيح يامعتل: مع الضمير البارز، دَ دى اعراب په حالت رفعي کښې په اثبات دَ نون اعرابى سره، خواه که صحيح وى، يامعتل واوى يا يائى وى يا الفى وى، لکه "هُمَا يَضْرِبَانِ، يَغْضُوَانِ، يَرْمِيَانِ، يَرْضَيَانِ، هُمْ يَضْرِبُوْنَ" ـ

اوحالت نصبى وجزمى په حذف دَ نون اعرابى سره لکه "لَنْ يَّضْرِبَا، لَنْ يَّغْضُوَا، لَنْ يَّرْمِيَا، لَنْ يَّرْضَيَا، لَنْ يَّضْرِبُوْ، لَنْ يَّغْضُوْا، لَنْ يَّرْمُوْا، لَنْ يَرْضَوْا،لَمْ يَضْرِبَا،لَمْ يَغْضُوَا،لَمْ يَرْمِيَا،لَمْ يَرْضَيَا،لَمْ يَضْرِبُوْا،لَمْ يَغْضُوْا، لَمْ يَرْمُوْا، لَمْ يَرْضَوْا" ـ

فصل نمبر ۲۳ حروف غير عامله

حروف غير عامله په شپاړلس قسمه دى (۱)حروف تنبيه (۲)حروف ايجاب (۳)حروف تفسير (۴)حروف مصدريه (۵)حروف تحضيض (۶)حرف ردع (۷)حروف استفهام (۸)حروف توقع (۹)حروف زيادة (۱۰)تنوين (۱۱)نون تاكيد (۱۲)لام مفتوحه (۱۳)حروف شرط (۱۴)لَولا(۱۵)ما (۱۶)حروف عطف ـ

(۱)حروف تنبيه: درى دى اَلَا، اَمَا، هَا ـ

تعريف:تنبيه په لغت کښې خبر ورکولو ته وايئ، اوپه اصطلاح کښې حروف تنبيه ديته وايئ چه مخاطب ته دَ غفلت په وخت کښې کوم الفاظ استعمال شى دَ پاره دَ غفلت لرے کولو ـ

فائده: "اَلَا، اَمَا" دا صرف په جمله باندی داخلیږی لکه "اَلَازَیْدٌ قَائِمٌ، اَمَا عَمْرٌو نَائِمٌ"، او "هَا" دا په مفرد اوجمله دواړو باندی داخلیږی، دَ مفرد مثال لکه "هٰذَا" کښی "هَا"، او "هٰؤُلَاءِ" کښی "هَا"، دَ جملے مثال لکه "هَااَنَا قَائِمٌ"۔

(۲)حروف ایجاب: شپږ دی "نَعَمْ، بَلٰی، اَجَلْ، اَیْ، جَیْرِ، اِنَّ.

(۱)نَعَمْ: دَ اولے خبرے تصدیق کوی، خواه که نفی وی اوکه اثبات وی، دَ اثبات مثال لکه چه څوک او وایئ "اَ ذَهَبَ زَیْدٌ" نو په جواب کښی "نَعَمْ" یعنی "ذَهَبَ زَیْدٌ"، دَ نفی مثال لکه چه څوک او وایئ "اَمَاذَهَبَ زَیْدٌ"نو په جواب کښی ویلی کیږی"نَعَمْ"یعنی "مَاذَهَبَ عَمْرٌو"

(۲)بَلٰی: دا دَ نفی دَ اثبات دَ پاره راځی لکه قرآن کریم کښی راځی "اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ قَالُوْا بَلٰی "یعنی "بَلٰی اَنْتَ رَبُّنَا"۔

(۳)اَیْ: دا دَ "نَعَمْ" پشان دے، لیکن فرق دادے چه دا دَ استفهام نه روستو دَ قسم سره راځی لکه چه څوک او وایئ "اَقَامَ زَیْدٌ" دَ دی په جواب کښی ویلی کیږی "اَیْ وَاللّٰهِ"۔

(۴) اجل: (۵)جیر:دا دواړه هم دَ "نَعَمْ" پشان دی، لیکن دَ دی سره قسم ضروری نه دے۔

(۶)اِنَّ: دَ دی استعمال ډیرکم دے، لکه قرآن کریم کی راځی "اِنَّ هٰذَانِ لَسٰحِرَانِ" دَ یوقول مطابق دلته "اِنَّ" بمعنی "نَعَمْ" دے، اومابعد جمله دَ دی مبتداء اوخبر دی۔

(۳)حروف تفسیر: دا دوه دی "اَیْ، اَنْ"۔

مثال دَ "اَیْ"لکه "جَاءَ نِیْ زَیْدٌ" اَیْ" ابُوْکَ"،دَ"اَنْ"مثال لکه قرآن کریم کښې راځی "نَادَیْنَاهُ اَنْ یَّا اِبْرَاهِیْمُ" یعنی "نَادَیْنَاهُ" بلفظٍ هُوَ قولنا "یَااِبْرَاهِیْمُ" ۔

فائده:" اَن دَ داسے فعل تفسیر دَ پاره راځی چه دَ قول په معنی وی، مثال مخکښې ذکر شو۔

فائده:دَ حروف تفسیر ماقبل ته مُفَسَّر اومابعد ته مَفَسِّر یا تفسیر وایئ، او دَ دواړو اعراب یو وی۔

(۴)حروف مصدریه:دا دری دی "مَا، اَنْ، اَنَّ۔

دَ"مَا"مثال لکه "ضَاقَتْ عَلَیْهِمُ الْاَرْضُ بِمَارَحُبَتْ"اے "بِرَحْبِهَا" دَ"اَنْ" مثال لکه "اَعْجَبَنِیْ اَنْ ضَرَبْتَ" ای "ضَرْبُکَ"، دَ اَنَّ مثال لکه "بَلَغَنِیْ اَنَّ زَیْداً نَائِمٌ" ای "نَوْمُهٗ" ۔

فائده:"مَا" او "اَنْ" دا په جمله فعلیه باندی داخلیږی، (امثله ذکر شو اوفعل لره په معنی دَ مصدر ګرځئ، او "اَنَّ" په جمله اسمیه باندے داخلیږی، اوجملے له دَ مصدر په معنی ګرزئی،(مثال ذکر شو۔

(۵)حروف تحضیض:داخلور دی "اَلَّا، هَلَّا، لَوْمَا، لَوْلَا۔

دَ دی حروفُ استعمال په دُوه وڼ طریقو کیږی۔

(۱)که داحروف په فعل مضارع داخل شی نومراد ترینه تحضیض وی لکه "هَلَّاتُصَلّیْ" ۔

(۲) اوکه په فعل ماضی باندی داخل شی نو په دی سره مخاطب ته پیښمانتیا ورکول مقصود وی لکه "هَلَّا صَلَّيْتَ الْعَصْرَ" دَ دی وجه نه دیته حروف تندیم هم وایئ۔

فائده: "لَوْلَا" چه جمله اسمیه باندی داخل شی نودغه به مبتداء وی اوخبر به یئ محذوف وی، لکه قرآن مجید کښی راځی "مَاكُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا اَنْ هَدَانَا اللّٰهُ " ۔

(۶)حروف توقع: لکه "قَدْ " داحرف که په ماضی باندی داخل شی نوماضی لره ماضی قریبه ګرځئ، اودا دَ "بیشک" په معنی راځی لکه "قَدْجَاءَ زَيْدٌ "بیشکه زید راغلے دے، اوکه په مضارع باندی داخل شی نو دَ تقلیل معنی ورکوی لکه "قَدْ يَجِيْئُ زَيْدٌ". اوکله په مضارع کښی هم دَ بیشک معنی ورکوی لکه "قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ" بیشک الله تعالی پوهیږی.

(۷)حروف استفهام: دا دری دی "همزه، مَا، هَلْ" ۔

دا دری واړه دَ کلام په شروع کښی راځی، ځکه چه دا صدارت دَ کلام تقاضا کوی لکه "مَا اسْمُکَ، اَزَيْدٌ قَائِمٌ، هَلْ زَيْدٌ قَائِمٌ " ۔

(۸)حروف ردع: لکه "كَلَّا" دا دَ انکار اومنع دَ پاره راځی، لکه څوک اُو وایئ "كَفَرَ زَيْدٌ" نو دَ دی په جواب کښی وئیلے کیږی "كَلَّا " هرګزنه. او"كَلَّا" دا دَ "حَقًّا" (بیشک) په معنی هم راځی لکه "كَلَّاسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ" بیشکه قریبه ده تاسوبه پوهه شئ۔

(۹)تنوین: او دا پنځه ۵ قسمه دی۔

تناوین پنج انداے پر غرض

تمکن،تنکّر،ترنم،تقابل،عوض

(۱)تنوین تمکن: دیته وایئ چه منصرف اوغیرمنصرف په درمیان کی دفرق دَ پاره راځی لکه "زَیْدٌ، عُمَرُ" ـ

(۲)تنوین تنکّر:دیته وایئ چه دَ معرفه اونکره په درمیان کښې دَفرق دَ پاره راځی لکه دَ "صَهٍ" معنی "اُسْکُتْ سُکُوْتاً تَاماً فِیْ وَقْتٍ مَّا" راځی اودَ "صَهْ" معنی اُسْکُتِ الْسُّکُوتَ الْآنَ" ـ

(۳)تنوین ترنّم:دیته وایئ چه محض دَ تحسینِ کلام دَ پاره وی، مدخول دَ دی اسم اوفعل داوړه کیدے شی،یعنی تنوین ترنم اسم پورے خاص نه دے بلکه په فعل هم داخلیږی،مثال لکه ـ

أَقَلِّيْ اللَّوْمَ عَاذِلُ وَالْعِتَابَنْ: وَقُوْلِيْ اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ

په دی شعرکښې "عِتَابَنْ " او "اَصَابَنْ" په اصل کښې "عِتَابَ" او"اَصَابَ" وو، بیاشاعر دَ ترنّم تنوین اضافه اوکړه. پدی کښې "اَلْعِتَابُ " اسم دے، او "اَصَابَ" فعل دے ـ

(۴)تنوین مُقابله:دیته وایئ چه دَ جمع مذکر سالم دَ نون په مقابله کښې په جمع مؤنث سالم باندی راشی، لکه "مُسْلِمَاتٌ" باندی تنوین دَ "مُسْلِمُوْنَ" نون په مقابله کښې راغلے دے ـ

(۵)تنوین عوض:دیته وایئ چه مضاف الیه حذف شوے وی، اودَ دی په عوض کښې تنوین راوړے شوے وی لکه "یَوْمَئِذٍ"، حِیْنَئِذٍ" داپه اصل کښې "یَوْمَ اِذْ کَانَ کَذَا"، حِیْنَ اِذْکَانَ کَذَا" وو، نو "کَانَ کَذَا" حذف شو اودَ دی په عوض کښې تنوین راغلو نو "یَوْمَئِذٍ" او"حِیْنَئِذٍ" پاتی شو ـ

(۱۰)**نون تاکید:** ثقیله او خفیفه لکه "اِضْرِبَنَّ، اِضْرِبَنْ" ـ
(۱۱)**لام مفتوحه:** دا دَ جملے دَ تاکید دَ پاره راځی، لکه "لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَقِيْلٍ" ـ
(۱۲)**حروف زیادت:** دا اته ۸ دی "اِنْ، اَنْ، مَا، لَا، مِنْ، کَاف، با، لام ـ
اِنْ: داپه دریو ځائینو کښې زائد راځی (۱) اَلَّاحرف تنبیه نه بعد لکه "اَلَّا اِنْ زَيْدٌ قائِمٌ" (۲) دَ ما مصدريه نه روستولکه "اِنْتَظِرْمَا اِنْ يَجلِسُ الْاَمِيْرُ".
(۳) مانافيه نه روستو لکه دَ حضرت حسان ؓ شعر کښې راځی ـ
مَا اِنْ مَدَحْتُ مُحَمَّداً بِمَقَالَتِیْ وَلٰکِنْ مَّدَحْتُ مَقَالَتِیْ بِمُحَمَّدٍ
اَنْ: داپه دوه ۲ ځاینو کښې زائد راځی.
(۱) "لَمَّا" نه روستو لکه "فَلَمَّا اَنْ جَاءَ الْبَشِيْرُ" ـ
(۲) دَ "واو" قسم او "لَوْ" په درمیان کښې واقع شی لکه "وَاللّٰهِ اَنْ لَّوْقُمْتَ قُمْتُ" ـ
مَا: داپه شپږ وځاینو کښې زائد راځی، اِذَا، مَتٰی، اَيْنَ، اَیٌّ، اِنْ شرطيه نه روستو اوسماعی طور باندی دَ بعض حروف جاره ؤو نه روستو هم زائد راځی ـ
(۱) اِذَا نه بعد لکه "اِذَا مَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ" (۲) مَتٰی نه بعد لکه "مَتٰی مَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ" (۳) اَيْنَ نه بعد لکه "اَيْنَمَا تَذْهَبْ اَذْهَبْ" (۴) اَیٌّ نه بعد لکه "اَياًّ مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَاءُ الْحُسْنٰی" (۵) اِنْ نه بعد لکه "فَاِنْ مَّاتَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ" (۶) سماعی طور باندی دَ بعض حروف جاره نه روستو لکه "عَمَّا قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ، فَبِمَارَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰه، مِمَّا خَطِيْئٰتِهِمْ" ـ

لَا: داپه دوو ځائینو کښې زائد راځی (۱)دَ قسم نه مخکښې لکه "لَااُقْسِمُ " (۲)دَ "واو" نه بعد چه هغه "واو" دَ حرف نفی نه بعد وی، خواه که نفی په الفاظو کښې موجود وی، یاتقدیراً وی، لفظی لکه "مَاجَاءَنِیْ زَیْدٌ وَلَاعَمْرٌو" ـ

تقدیراً لکه "غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّالِّیْنَ" ـ

مِنْ، کاف، بَا، لام، دَ دی امثله بالترتیب دادی ـ

"مَاجَاءَنِیْ مِنْ اَحَدٍ، لَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ،وَکَفٰی بِاللّٰهِ شَهِیْداً،رَدِفَ لَکُمْ " ـ

(۱۳)حروف شرط: "اَمَّا، لَوْ " دی ـ

"اَمَّا دا دَ ماقبل اجمال تفصیل کوی، او دَ دی په جواب کښې "فَا" راوړل ضروری دی، کقوله تعالی "فَمِنْهُمْ شَقِیٌّ وَسَعِیْدٌ، فَاَمَّا الَّذِیْنَ شَقُوْا فَفِیْ النَّارِ، وَاَمَّا الَّذِیْنَ سَعِدُوْا فَفِیْ الْجَنَّةِ " ـ

لَوْ: داراځی دَ پاره دَ انتفاء دَ ثانی دَ وجه دَ انتفاء دَ اول نه، لکه قرآن مجید کښې راځی "لَوْکَانَ فِیْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّااللّٰهُ لَفَسَدَتَا " کچرے زمکه او اسمان کښې متعدد اٰلهه وے، سوا دَ الله تعالی نه نو فساد به راغلے وے په زمکه اواسمان کښې،چونکه متعدد اٰلهه نشته نوفساد هم نشته ـ

(۱۴)لولا:راځی دپاره د انتفاء دثانی دوجه د وجود د اول نه لکه "لَوْ لَامُعَاذٌ لَهَلَکَ عُمَرٌ " کچرے معاذ نه وے نوعمر به هلاک شوے وے(لیکن معاذ وو ځکه عمر هلاک نشو) ـ

(۱۵)"مَا" بمعنی "مَادَامَ " لکه " اَقُوْمُ مَاجَلَسَ الْاَمِیْرُ " ـ

(۱۶)**حروف عطف:**دالس دی چه شاعرپه دی شعرکښی ذکرکړی دی.

ده حروف عاطفه مشهور اند يعني واو فاء

ثمّ حتّی او امّا اَم بل لٰکن ولا

دَ دوی په زریعه دوه کلمے یادوه جملے یوځائے کولے شی، اول کلمه یا اول جمله ته معطوف علیه او دویم ته معطوف وایئ، دَ معطوف اعراب دَ معطوف علیه موافق وی، مثال "جَاءَنِیْ زَیْدٌوَعَمْرٌو، رَأَیْتُ زَیْداً وَعَمْرواً، مَرَرْتُ بِزَیْدٍ وَعَمْرٍو" ـ

فائده(۱)دَ اسم عطف په اسم باندی، دَ فعل عطف په فعل باندی، یا دَ اسم عطف په فعل باندی یادَ فعل عطف په اسم باندی، او دَ جملے عطف په جمله باندی داټول صحیح کیږی۔

فائده(۲)دَ قرینے دَ وجه نه معطوف سره دَ حرف عطف نه حذف کول جائز دی، مثال لکه "قُلْنَا اضْرِبْ بِعَصَاکَ الْحَجَرَ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ" ای "فَضَرَبَ فَانْفَجَرَتْ" ـ

فائده(۳)حروف عاطفه عام طور نه مقدر کیږی مګر شاذ ونادر، لکه "اَلرُّکَّعِ السُّجُوْدِ" چہ اصل کښی "وَالرُّکَّعِ وَالسُّجُوْدِ" ـ

فائده(۴)عطف دَ جمله انشائیه په جمله خبریه باندی عند الجمهور جائز نه دے،په دےسره کتاب اختتام ته او رسیدو ، والحمد اللّٰه علی ذٰلک۔ وَصَلَّی اللّٰہُ تَعالی علی خیرِ خَلقِہٖ محمَّدٍ وَّآلِہٖ وصَحْبِہٖ اجمَعین۔

مورخہ 17 جمادی الاولی 1442ھ موافق 2021/1/1یوم الجمعه ـ